شیخ زاید پوهنتون

د ټولنیزو علومو پوهنځی

ټولنپوهنه او فلسفه

# د څېړني میتودولوژي

لیکوال: رنجیت کمار

ژباړونکی: قدرت الله صدیقي

Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۴۰۱ هـ ل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Research Methodology

**Author: Ranjit Kumar**

**Translator: Qudratullah Saddiqi**

**۲۰۲۲**

Most of the social sciences issues are changing day by day, this change is due to various factors and behind each change there is a hidden cause and secret.

Human beings are always trying to discover the secrets of social life and use it for their convenience in different walks of life.

The Third Edition of Research Methodology: A Step-by-Step Guide for Beginners integrates various quantitative and qualitative methodologies into practice-based-steps, providing lots of examples throughout to link theory with practice. Written specifically for students with no previous experience of research and research methodology, the writing style is simple and clear and the author presents this complex subject in a straightforward way that empowers readers to tackle research with confidence. The book has coverage of qualitative research methods in addition to existing comprehensive coverage of quantitative methods. There are also brand new learning features such as reflective questions throughout the text to help students consolidate their knowledge.

In this book you will learn about research, types of research, the research process, reviewing the literature, formulating a research problem, identifying variables, constructing hypothesis, the research design and constructing an instrument for data collection.

ISBN:

Price:

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د څېړنې میتودولوژي

لیکوال: رنجیت کمار

ژباړونکی: قدرت الله صدیقي

دا کتاب د ممد درسي کتاب په توګه د ټولنپوهنې او فلسفې څانګې د «د ټولنیزو علومو د څېړنې اصول» مضمون لپاره ژباړل شوی دی.

خپرونکی:

کال: ۱۴۰۱ل

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | |
|---|---|
| پېژند پاڼه: | کمار، رنجیت ۱۹۷۱میلادې کال |
| عنوان او د لیکوال نوم: | Research Methodology / د څېړنې میتودولوژي/ رنجیت کمار. |
| د ژباړن نوم: | صدیقي، قدرت الله، ۱۳۶۶هـ ش |
| د خپرولو ځانګړتیاوې: | ................................................. |
| ظاهري ځانګړتیاوې: | ۱جلد ۲۷۹ پاڼې |
| شابک/ ISBN : | |
| اصلي عنوان: | Research Methodology |
| موضوع: | د څېړنې میتودولوژي |
| یاداښتونه: | ..................................................................... |


**رنجیت کمار**

# د څېړنې میتودولوژي

**ژباړونکی: پوهنیار قدرت الله صدیقي**


**د چاپ وار: اول/ ۱٤۰۱ لمریز- هـ ش**

**د چاپ ډول: وزیری**

**بیه: ..................................**

**شابک ISBN:........................**

**د خرڅلاو پته:.......................**

**ایمیل آدرس:........................**


**د چاپ او خپریدو حقوق د لوړو زده کړو وزارت او د شیخ زاید پوهنتون سره خوندي دي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیک لړ


سریزه ۱

د ژباړن د پیل خبري ۷

**لومړی څپرکی**

**د فکر کولو لار**

څېړنه: ستاسو د کړنو یوه اړینه برخه ۱۱

څېړنه: ستاسو د کړنو لپاره د شواهدو راټولولو یوه لاره ۱۶

د څېړنې تطبیقات (عملي کارول) ۱۷

څېړنه څه مانا لري؟ ۱۸

د څېړنیزې پروسې ځانګړتیاوې او اړتیاوې ۲۳

د څېړنې ډولونه ۲۵

د تطبیق یا عملي لید په اعتبار د څېړنې ډولونه ۲۶

د اهدافو له نظره د څېړنې ډولونه ۲۷

د پلټنې یا د معلوماتو له مخې د څېړنې ډولونه ۲۸

د څېړنې پارادایمونه یا نمونې ۳۳

د لومړی څپرکی لنډیز ۳۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوهم څپرکی

### د څېړنې پروسې ته یو ځغلنده نظر


| | |
|---|---|
| د څېړنیزې پروسې اته مرحله اییز ماډل | ٤٠ |
| لومړۍ برخه: تصمیم نیول، چې په څه باندې څېړنه وکړو؟ | ٤٦ |
| دوهمه برخه : د یوې تحقیقې مطالعې برنامه ریزي | ٤٧ |
| دوهمه مرحله: د تحقیقي طرحې مفهوم سازي یا ډیزان ترتیبول | ٤٧ |
| دریمه مرحله: د معلوماتو راټولولو لپاره د وسایلو او تګلارو رامینځته کول | ٤٨ |
| څلورمه مرحله : د نمونې ټاکل | ٥٠ |
| پنځمه مرحله: د تحقیق لپاره د وړاندیز لیکل | ٥٠ |
| دریمه برخه: د څېړنیزې مطالعې ترسره کول | ٥٢ |
| شپږمه مرحله: د څېړنیزې مسئلې د فرمول بندۍ څخه وروسته د معلوماتو راټولول | ٥٢ |
| اوومه مرحله: د ډیټا(د خامو معلوماتو) پروسس کول او څرګندول | ٥٢ |
| اتمه مرحله: د څېړنیز راپور لیکل | ٥٣ |
| د دوهم څپرکی لنډیز | ٥٥ |


## دریم څپرکی

### تېرو اثارو ته بیا کتنه


| | |
|---|---|
| په څېړنه کې د تېرو اثارو د کتنې ځای | ٥٧ |
| څرنګه تېرو اثارو بیا کتنه وکړو؟ | ٦١ |
| د موجوده تېرو اثارو لټون | ٦٢ |
| د غوره شویو تېرو اثارو بیاکتنه | ٦٧ |
| د تیوریکي چوکاټ رامنځته کول او مخته وړل | ٦٩ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


نظرياتي چوکاټ رامنځته کول ۷۲

د تېرو بيا کتل شويو اثارو په اړه ليکل ۷۳

د دريم څپرکی لنډيز ۷٦


## څلورم څپرکی

## د څېړنېزې ستونزې طرحه کول


څېړنېزه ستونزه ۸۰

د څېړنېزې ستونزې طرحه کولو اهميت ۸۱

د څېړنېزې ستونزې سرچينې ۸۳

د يوې څېړنيزې ستونزې په انتخابولو کې فکر کول ۸۶

قدم په قدم د څېړنيزې ستونزې طرحه کول ۸۸

د څېړنيزو اهدافو ټاکل ۹۶

د نفوسو مطالعه ۹۸

د کاري تعريفاتي چوکاټ جوړښت ۹۹

په کيفي څېړنو کې د څېړنيزې ستونزې طرحه کول ۱۰۲

د څلورم څپرکی لنډيز ۱۰۶


## پنځم څپرکی

## د متغيرو (متحولونو) پېژندل


متغير(متحول) څه شی دی؟ ۱۱۰

د يو مفهوم او متغير تر منځ توپير ۱۱۲

مفهومونه په متغيرو بدلول ۱۱۳

د متغير ډولونه ۱۱۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

د علت او معلول اړيکو له نظره ۱۱۶
د مطالعې ډيزاين له نظره ۱۲۲
د اندازه کولو د واحد له نظره ۱۲۳
د اندازه کولو پيماني/مقياس ډولونه ۱۲۵
اسمي يا طبقاتي مقياس/پيمانه ۱۲۸
ترتيبي يا درجه بندي مقياس/پيمانه ۱۲۸
د وقفه يې پيمانه/مقياس ۱۲۹
د تناسب مقياس/پيمانه ۱۳۰
د پنځم څپرکی لنډيز ۱۳۲

**شپږم څپرکی**

**د فرضيې جوړول**

د فرضيې تعريف ۱۳۶
د فرضيې دندې ۱۳۸
د فرضيې ازموينه ۱۳۹
د فرضيې ځانګړتياوې ۱٤۰
د فرضيې ډولونه ۱٤۱
د څېړنې فرضيې ۱٤۲
د فرضيې په ازموينه کې تېروتنې ۱٤۵
په کيفي څېړنو کې فرضيې ۱٤۶
د شپږم څپرکی لنډيز ۱٤۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اووم څپرکی

## د څېړنېز مفهوم ډیزاین کول


د څېړنې ډیزاین ۱٤۹

د څېړنېز ډیزاین دندې ۱٥۱

د علل او معلول تیوري او د څېړنې طرحه ۱٥۲

د اووم څپرکی لنډیز ۱٦۲


## اتم څپرکی

## د مطالعې ډیزاین انتخابول


د کمي او کیفي مطالعې ډیزاینونو تر منځ توپیرونه ۱٦٥

په کمي څېړنه کې د مطالعې ډیزاین ۱٦۸

د نفوسو مطالعې سره د اړیکو شمېر پر اساس ډیزاین ۱٦۹

د مطالعې دمخه/مخکې او وروسته ډیزاین ۱۷۱

د طولاني/ اوږدوالي مطالعې ډیزاین ۱۷٥

وخت ته په کتو د مطالعې څېړنیز ډیزاین ۱۷۷

۱- د تېر(ماضي) ته په کتو سره د مطالعې ډیزاین ۱۷۷

راتلونکي ته په کتو د مطالعې ډیزاین ۱۷۸

ماضي او راتلونکي دواړو ته په کتو د څېړنې د مطالعې ډیزاین ۱۷۸

د څېړنې د نوعیت(طبیعت) پر اساس د مطالعې ډیزاین ۱۷۹

د مطالعې تجربوي ډیزاینونه ۱۸۲

یوازې د تجربې وروسته ډیزاین ۱۸۳

مخکې او وروسته تجرباتي ډیزاین ۱۸٤

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | |
|---|---|
| د ډبل کنټرول ډيزاين | ۱۸۸ |
| پرتلييز ډيزاين | ۱۸۹ |
| ورته د کنټرول تجربوي ډيزاين | ۱۹۱ |
| د پلاسيبو اثر (روحي تسکين ورکونکی درملنې) ډيزاين | ۱۹۲ |
| نور ډيزاينونه چې په کمي څېړنه کې عموما کارول کېږي | ۱۹۳ |
| مقطعې پرتلييز تجربوي ډيزاين | ۱۹۳ |
| د نقل شوي (تکرار شوي) مقطعې ډيزاين | ۱۹٤ |
| د رجحان (غوروالي) مطالعه | ۱۹۵ |
| کوهرټ (ډلييز) مطالعات | ۱۹٦ |
| د پينل(منصف هئيت) مطالعات | ۱۹۷ |
| ږوند يا ړانده مطالعات | ۱۹۷ |
| ډبل ږوند/ ړانده مطالعات | ۱۹۸ |
| په کيفي تحقيق کې د مطالعې ډيزاين | ۱۹۸ |
| د قضيې مطالعه | ۱۹۸ |
| زباني(شفاهي) تاريخ | ۲۰۰ |
| د تمرکز ډلې يا ګروپونه/ ډلييز يا ګروپي مرکي | ۲۰۰ |
| برخه اخيستونکې مشاهده | ۲۰۲ |
| هوليسټيک (بشپړ) څېړنه | ۲۰۳ |
| د ټولنې د بحث فورم | ۲۰٤ |
| انعکاسي ژورنال لاګ/ د انعکاسي ژورنال راپور | ۲۰٤ |
| نور عموما کارول شوي د فلسفې لاربښود ډيزاينونه | ۲۰۵ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


د عمل څېړنه ۲۰۶

د میرمنو څېړنه ۲۰۷

برخه اخیستونکې او د همکاري څېړنه ۲۰۸

د اتم څپرکی لنډیز ۲۰۹


## نهم څپرکی

## د معلوماتو راټولولو د میتودونو انتخابول


د کمي او کیفي څېړنې د معلوماتو راټولولو میتودونو کې توپیر ۲۱۲

د معلوماتو راټولولو لپاره مهمې لارې چارې یا مهمې طریقې ۲۱۳

د لومړینو سرچینو په کارولو سره د معلوماتو راټولول ۲۱۵

مشاهده ۲۱۶

د مشاهدې ډولونه ۲۱۶

د معلوماتو راټولولو میتود په توګه د مشاهدې کارولو ستونزې ۲۱۷

د یوې مشاهدې ترسره کولو شرایط ۲۱۸

د مشاهده ثبت کول ۲۱۸

مرکه ۲۲۱

ازاده مرکه ۲۲۳

ترتیب شوي مرکه/ محدوده مرکه ۲۲۳

پوښتنلیک ۲۲۴

یو پوښتنلیک په مختلفو لارو اداره کیدی شي ۲۲۵

ډله ایزه اداره ۲۲۷

په عامه ځای کې اداره ۲۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

د  مرکې او پوښتنلیک تر منځ یو غوره کول/انتخابول ۲۲۷
د یو پوښتنلک ګټې ۲۲۸
د پوښتنلیک نیمګړتیاوې ۲۲۹
د مرکې ګټې ۲۳۱
د مرکې نیمګړتیاوې ۲۳۲
د پوښتنلیک محتوی ۲۳۳
د پوښتنې ډولونه ۲۳۳
د خلاصي (پرانیستې) پوښتنو ګټې او زیانونه ۲۳۶
د تړلو پوښتنو ګټې او زیانونه ۲۳۷
د اغیزمنو پوښتنو جوړول ۲۳۸
هو یا نه ۲۳۹
په کمي څېړنه کې د څېړنې وسیلې رامنځته کول ۲٤۱
د شخصي او حساسي پوښتنې پوښتل ۲٤۲
د پوښتنو ترتیب ۲٤٥
د څېړنې د وسیلې دمخه ازموینه ۲٤٦
د معلوماتو راټولولو لپاره شرایط ۲٤٦
په کیفي څېړنه د معلوماتو راټولولو میتودونه ۲٤۷
ژورې(دقیقې) مرکې ۲٤۸
د تمرکز ګروپ مرکې ۲٤۹
داستانونه (کیسې، نکلونه) ۲٥۰
زباني(شفاهي) تاریخ ۲٥۰

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | |
|---|---|
| په کيفي څېړنه کې د څېړنې وسيلې رامنځته کول | ۲۵۲ |
| د دوهم لاس سرچينو په کارولو سره د معلوماتو راټولول | ۲۵۳ |
| د نهم څپرکی لنډيز | ۲۵۶ |
| ماخذونه | ۲۵۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شکلونو لیک لړ


۱-۱ – شکل: د څېړنې تطبیقي کاریدنه ۲۰

۱-۲- شکل: د څېړنې ډولونه ۲۵

۲-۱ – شکل: د څېړنې بهیر- هر یوه مرحله یې درک کړئ او د خپل څېړنې بهیر لپاره مناسب میتودونه او ګړنلارې انتخاب کړئ. ۴۱

۲-۲ شکل: د څېړنې پروسه ۴۴

۲-۳- شکل: د عملیاتي مرحلو په اړه په کتاب کې فصلونه ۴۵

۳- ۱ـ(الف) شکل: د مړینې او زیږون تر منځ اړیکې مطالعه(څېړنه) ۷۱

۳-۱-(ب) شکل: د تیوریکي چوکاټ رامنځته کول-د روغتیایي خدماتو په برخه کې د ټولنې غبرګون ۷۲

٤-۱- شکل: د کورنی تاوتریخوالي موضوع په فرعي ساحو کې ویشل ۸۸

٤-۲- شکل: د څېړنېزې ستونزې د طرحه کولو مرحلې – الکولیزم (د شرابو معتاد) ۹۳

٤-۳- شکل: د څېړنې د ستونزې طرحه کول- د زیږون او مړینې تر منځ ۹۴

٤-٤- شکل: د څېړنې د ستونزې کوچنی کول یا محدودول- روغتیا ۹۵

٤-۵- شکل: د اهدافو ځانګړتیاوې ۹۷

۵-۱- شکل: د متغیرو ډولونه ۱۱۷

۵-۲- شکل: د علت اړیکو په لرلو سره د متغیر ډولونه ۱۱۸

۵-۳- شکل: د علت اړیکي ته په کتو سره خپلواک، تړلې او خارجي متغیرونه ۱۱۸

۵-٤- شکل: په مشوره ورکولو او د واده په ستونزو کې د متغیرونو مجموعه ۱۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library


٥-٥- شکل: خپلواک، تړلې، خارجي او مداخله کوونکې متغیرونه ۱۲۰

٥-٦- شکل: فعال او خصیصه متغیرونه ۱۲۱

٦-١- شکل: د فرضیې د ازمویلو پروسه ۱۳۹

٦-٢- شکل: دMCH، NS او د ماشومانو د مړینې تر منځ د اړیکو د مطالعې لپاره دوه پر دوه فکتوري تجربه ۱۴۲

٦-٣- شکل: د فرضیې ډولونه ۱۴۴

٦-٤- شکل: اول ډول او دوهم ډول فرضیې په ازموینه کې تېروتنې ۱۴۵

٧-١- شکل: هغه فکتورونه چې د مشورتي خدماتو او د ازدواجي ستونزو حد تر منځ اړیکې باندې اغیزه کوي ۱۵۳

٧-٢- شکل: د تدریسي موډلونو او درک (پدوهیدو) تر منځ اړیکه ۱۵۷

٧-٣- شکل: د تناسب، منسوب درې اجزا شاید د یو بل څخه تغیر کوونکي وي ۱۵۸

٧-٤- شکل: د ډیزاین ترتیبول ۱۵۹

٨-١- شکل: د څېړنې ډیزاین ډولونه ۱۷۰

٨-٢- شکل: مخکې له ازموینې او وروسته له ازموینې ۱۷۲

٨-٣- شکل: قهقرایي حرکت یا بیرته تګ تاثیر ۱۷۵

٨-٤- شکل: د اوږد مهاله مطالعې ډیزاین ۱۷۶

٨-٥- شکل: (الف) تېر/ ماضي) ته په کتو سره د څېړنې ډیزاین، (ب) راتلونکي ته په کتو سره د څېړنې ډیزاین، (ث) ماضي او راتلونکي په کتو سره د څېړنې ډیزاین ۱۷۹

٨-٦- شکل: تجرباتي او غیر تجرباتي مطالعات ۱۸۱

٨-٧- شکل: په تجربو کې تصادفي ټاکنه کول ۱۸۲

٨-٨- شکل: یوازې وروسته ډیزاین ۱۸۳

٨-٩- شکل: مخکې او وروسته ډیزاین له لارې د بدلون اندازه کول ۱۸۵

(c) ketabton.com: The Digital Library


۸-۱۰- شکل: د کنټرول تجربوي ډیزاین ۱۸۶

۸-۱۱- شکل: دوه ګونې کنټرول ډیزاین ۱۸۹

۸-۱۲- شکل: مقایسوي د تجربې ډیزاین ۱۹۰

۸-۱۳- شکل: د پلاسیبو ډیزاین (تسکین ورکونکی درملنې ډیزاین) ۱۹۲

۸-١٤- شکل: د مقطعي څېړنیز تجربوي ډیزاین ۱۹۴

۸-۱۵- شکل: نقل شوی مقطعي څېړنیز ډیزاین ۱۹۵

۸-١٦- شکل: تطبیقي څېړنې ډیزاین ۲۰۶

۹-۱- شکل: د معلوماتو د راټولولو میتودونه ۲۱۴

۹-۲- شکل:درې اړخیز طبقیزه پیمانه/ ترازو ۲۲۰

۹-۳- شکل: د مرکې ډولونه ۲۲۲

٤-۹- شکل: اوله بېلګه ۲۲۵

۹-٥- شکل: دوهمه بېلګه ۲۲۶

۹-٦- شکل: د خلاصو پوښتنو مثالونه ۲۳۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د جدولونو لیک لړ


۱-۱-هدف له نظره د څېړنیز مطالعاتو ډولونه ۲۹

۲-۱-د کمي او کیفي څېړنو تر منځ توپیر ۴۳

۳-۱-د عامې روغتیا، ټولنپوهنې، د ښوونې او رزونې او د سوداګرۍ مطالعاتو(څېړنو)
کې ځېنې عام کارول شوي بریښنایي ډیټابېسونه ۶۶

۱-٤- جدول: د څېړنېزې ستونزې اړخونه ۸٤

۲-٤- جدول: د مفاهیمو عملیه کول/ عملیه تر سره کول او د نفوسو مطالعه ۱۰۱

۱-۵- جدول: د مفاهیمو او متغیرونو مثالونه ۱۱۳

۲-۵- جدول: د مفاهیمو په متغیرونو بدلول ۱۱۵

۳-۵- جدول: کټګوري/ دوامداره او کمي/ کیفي تغیرات ۱۲٤

٤-۵- جدول: د اندازو کولو څلورو پیمانو/ مقیاسونو ځانګړتیاوې او مثالونه ۱۲۷

۱-۹- جدول: د یوې څېړنې د افزارو د لاربښودونو رامنځته کول ۲٤٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه

دا کتاب د څېړنې په ډگر کې د یو زده کونکي، متخصص او ښوونکي په توگه زما د تجربو په اساس رامنځته شوی دی.

هغه څه چې زه ورسره په څېړنه باندې د پوهاوي په بهیر کې د یوه زده کونکي په توگه مخ شوم د ځینو شیانو په اړه زما هغه موندنې دي، چې په ساحه کې د پلي کېدو او نه پلي کېدو دواړه امکانات لري، او دا زما د وړتیا وده ده چې په مؤثره توگه د ډېرې تخنیکي قربانۍ په ورکولو سره ددې کتاب د اساس په توگه په پوره دقت او ساده ژبه کې ستونزمن او گټور مفاهیم بیان کړم.

د څېړنې میتودلوژي د یوې ملاتړې موضوع په توگه په مختلفو شکلونو په ډېرو علمي څانگو لکه روغتیا، ښوونې او روزنې، ارواپوهنې، ټولنیزکار، نرسنگ، عامې روغتیا، کتابتوني مطالعاتو او د بازار موندنې څېړنې په برخوو کې تدریس کېږي، د دې کتاب اصلي فلسفي اساس زما په خپل باور ولاړ دی، که څه هم یادې څانگې د منځپانگې له مخې سره توپیر لري؛ خو د هغوی پراخه تحقیقاتي ساحه سره ورته ده، له همدې امله دا کتاب ورسته له هغې څخه دغو اکاډمیکو رشتو ته هم منسوبېږي.

دا سمه ده چې ځینې څانگې به په کمي څېړنه او ځینې په کیفي څېړنه ډېر ټینگار کوي خو د څېړنې لپاره زما خپله طریقه زما د دوه ډوله څېړنیزو لاسته راوړنو ترکیب دی: اول دا چې باید پریکړه وکړل شي چې مطالعه د کومې تگلارې له مخې ترسره شي کیفي او که کمې؟ دوهم دا چې په ریښتني ژوند کې ډېری څېړنې د دواړو میتودونو د ترکیب په اساس شوي دي.

که څه هم دوي د څېړنې په اساسي فلسفه کې سره توپیر لري؛ مگر بیا هم په لویه کچه د دوي د کتنې او لید تگلاره تر ډېره بریده ورته والی هم لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کمي څېړنې پروسه په ډېره ښه بڼه جوړه شوې او رامنځته شویده په داسې حال کې چې د کیفي څېړنو بهیر چې څرنګه مناسب دی هغه شان جوړښت نه لري چې دا د دوي د قوت او کمزورۍ نقاط دي.

زه کلک باور لرم، چې د یو عکس د بشــپړ ښــودلو لپاره د څېړنې دواړه ډولونه مهم دي. ســربېره پردې، د کمي څېړنې ځیني داســې اړخونه هم شــته چې په اصــل کې کیفي مـاهیـت لري او دا د یوه انـدازه معلومـاتو راټولولو، تجزیې او تحلیـل پـه کړنلاره پورې اړه لري چې څه ډول د معلوماتو یوه برخه راټوله او تحلیل شــي. له همدې امله زه کلک باور لرم چې د یو ښـــه څېړونکي لپاره اړینه ده تر څو دواړه ډوله مهارتونه ولري. زه هم د یوې څېړنې لپاره د کیفي – کمي –کیفي شکل لرونکې تګلاره تعقیبوم.

ســـربېره پردې دا کتاب په عملیاتي بڼه د هغو میتودونو، کړنلارو او تخنیکونو په اړه د نظري اطلاعاتو د ارایې په موخه لیکل شوی دی، چې د دغوو دواړو کړنلارو څخه پکې استفادي کېږي.

څېړنه د یوې موضوع په توګه په مختلفو سطحو کې تدریس کېږي. دا کتاب په ځانګړې ډول د هغو زده کونکو لپاره ترتیب شوی دی چې تازه څېړنې ته راغلي وي او موضوع ته په کتنې یو ډول رواني خنډونه ولري.

سـربېره پر دې ما د لوستونکو لپاره کومه مشخه پوهه نه ده فرض کړې او د اړخونو تفصــیلي بحث مې هم له پامه غورځولی دی چې ممکن د پیلونکو لپاره نامناســب وي ما د مفاهیمو د انتقال لپاره ډېر چارټونه او مثالونه کارولي او په کتاب کې ځای په ځای کړي دي. کوم مسـایل چې په کتاب تر بحث لاندې نیول شـوي دي د بحث او پوښښ له نظره پکې هم د ساده څخه پیچلي لور ته د حرکت له تګلارې څخه استفاده شوې ده.

دا کتاب زما د تدریس په دوران کې د رامنځته شـوي موډل له مخې ترتیب او د عمل په موخه طراحی شــوی دی. ســربېره پر دې نظري پوهه چې د څېړنې میتود پوهنه تشـکیلوي د عملیاتي مراحلو په ماحول کې ترتیب شوې ده او د کمي او کیفي تحقیقاتو لپاره یو بهیر او پروسه جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یو واقعي څېړنیز سفر په اوږدو کې د ګام اخیستو لپاره ټول اړین اصلاعات ارایه کېږي، دغه اړین اطلاعات د کتاب په څپرکیو کې تنظیم شوي دي او هر څپرکی د تحقیق د پروسې په یو ځانګړې مرحله پورې خاص شوی دی. (۲،۳ شکل وګورئ).

د بېلګې په توګه: د (څېړنیزې مسئلې رامنځته کول) د څېړنې د بهیر لومړی عملیاتي ګام دی. زما په نظر د یوې ښې څېړنیزې مسئلې د رامینځته کولو لپاره باید پوهه شو چې څه ډول ادبیات وکاروئ، یوه څېړنیزه مسئله رامنځته کړئ او د هغې جوړښتي فرضیې او د متغییرونو معیارونه وڅېړئ.

سربېره پردې پدې مرحله کې څلور څپرکي شتون لري، هغه اطلاعات چې ارایه کوي تاسو ته دا وړتیا درکوي تر څو د څېړنې وړ یوه مسئله قالب بندي کړئ.

د څېړنې د ترتیب لپاره د څپرکیو سرلیکونه عبارت دي له: د څېړنېزې مسئلې رامینځته کول، د متغیرونو پېژندل او د فرضیې رامنځته کول. همدارنګه د معلوماتو راټولولو لپاره د وسایلو ترتیب د عملیاتي مرحلې درېیم قدم دی چې پکې د معلوماتو راټولولو میتود غوره کول او د ډاډمنو اطلاعاتي وسایلو کارول چې دا بیا له تاسو سره د خپلې مطالعې لپاره د کافي معلوماتو په راټولولو کې مرسته کوي؛ ترڅو ښه معلومات راټول کړئ.

په هره مرحله کې د کمي او کیفي مطالعاتو لپاره د میتودونو، ماډلونو، تخنیکونو او کړنلارو مجموعه وړاندې شوې ده؛ ترڅو وکولی شئ د څېړنې په تګلارو کې بنسټیزې تګلارې رامنځته کړئ او دا له تاسو سره مرسته کوي؛ ترڅو د خپلو څېړنو په ترسره کولو کې د هغوې څخه ښه تګلاره وټاکئ.

زما په باور د باورې مطالعې د ترسره کولو لپاره د څېړنې د میتودولوژۍ سمه زده کړه اړینه ده. تر پنځمې (څېړنیز پروپوزل لیکلو) مرحلې پورې خپلو سوالونو ته د ځواب ویلو لپاره د څېړنې د تګلارو پوهه ډېره اړینه ده؛ څکه پدې سره به تاسو وکولی شئ؛ ترڅو په پوره اطمنان سره د خپلو څېړنو د سرته رسولو لپاره یو مناسب او سم مفهومي چارچوب رامنځته کړئ. د مقدماتي کارونو د تکمیل وروسته، کوم مراحل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخې تـه راځي یو ډول عملي مـاهیت لري چې د هغې څرنګوالی کاملاً د هغې تګلارې په سموالي پورې اړه لري چې په خپل څېړنیز پروپوزل کې مو ترې یادونه کړې ده.

شـــمېرنـه او کمپیوټر په څېړنو کې بې ســـاری رول لري؛ مګر دا په ټوله کې د معلوماتو د راټولولو ورسته استعمالیږي.

زما په نظر شمېرنه تحلیل او تجزیه شویو معلوماتو ته د ساده کتنې څخه د حاصل شــویو نتـایجو د تائید یا رد، د مطالعې وړ دوو یا څو متغیرونو تر منځ د پراخه اړیکو د کچې په اثبات او ښـوولو، د علیت د رابطې رامنځته کولو سـره په مرسـته او سـتاسـو په لاسته راوړنو کې په نفس د باور د سطحې په ټاکلو کې ګټوره ده.

د کمپیوټر پـه لومړۍ درجـه کې د معلومـاتو په تحلیل او تجزیه، د شــــمیرنې په محاســـبه کولو، ارقامو داخلولو او د معلوماتو د نمونو په څرګندولو کې اســـتعمالیږي، د وخت د زیات استعمال مخه نیسي او د دې فعالیتونو سـرته رسـول اسانوي؛ نو اړینه ده، چې دغه اضافي مهارت هم حاصل کړئ.

پدې کتاب کې د کمپیوټر په اړه احصـــایه او معلوماتو نشـــته، ددې کتاب دریم چاپ ټول هغه وړاندیزونه په بر کې لري چې په لومړیو او دوهمو نسخو د چاپ وروسته د بیا کتوونکو، همکارانو او محصـــلینو لخوا شـــوي وو. د لومړي او دوهم چاپ ســـره دا دریم چاپ څو عمده توپیرونه لري.

مـا د امکـان تر بریده په ډېره زړورتیا د کمي او کیفي څېړنو تر منځ دیوال مات کړی دی او هڅـه مې کړې ده، چې پـه یو ګـډ چوکـاټ کې د دواړو تګلارو کـارول تحلیل کړم، د کیفي څېړنې په اړه پکې معلومات زیات شـوي او د اوسـني اته مرحله ایز څېړنې ماډل سره مدغم شوي دي.

اوس نږدې په هر څپرکي کې د څېړنې په یوه مشـــخصـــه مرحله او برخه باندې بحث کیږي چې په ځانګړي ډول د څپرکي اصـــلي موضـــوع او د څېړنې په څرنګوالي پورې اړوند معلومات پکې شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بېلګې په توګه: نهم څپرکی د معلوماتو راټولولو لپاره د ټګلارې غوره کولو او بیا د هغې ټګلارې په بنیاد څېړنه کې د معلوماتو راټولولو په څرنګوالي چې د څېړنې یوه برخه ده بحث ته ځانګړی شوی دی.

په ورته ډول اتم څپرکی د مطالعې د ډیزاین انتخابولوته ځانګړی شوی دی، او د مطالعې د هغې بڼې او څرنګوالي څخه پکې بحث شـــوی چې عمدتاً په کیفي څېړنه کې کارول کیږي.

د امکان تر بریده په هره برخه او څپرکي کې د کمي څېړنو په اړه د مطالعاتو او پوهاوي تر څنګ د کیفي څېړنو د اړخونو په اړه هم معلومات ځاي په ځاي شوي دي.

د عملي تجاربو پراسـاس پکې د کړنلارو او میتودونو د ښه واضح کولو په موخه د څرګندو او عیني مثالونو ذکر کول شامل شوي دي.

مخکې تمرینونه د ضـمایمو بڼه درلوده؛ مګر اوس د هرې برخې او څپرکي سره یو ځـاي شـــوي دي او هغه څوک چې د څېړنېزې پروژې نظري زده کړه کوي کولی شـــي په ســـالمه توګه تیوریکي زده کړه عملي هم کړي ترڅو د خپلې څېړنېزې پروژې سرته د تطبیق او ازمایلو سربیره د تیورۍ د تطبیق او پلي کولو ارزونه هم وکړي.

په دې نسـخه کې د تخنیکي اصـطلاحاتو قاموس نوی اضافه شوی دی، چې دا به له زده کونکو ســـره په اســـانه توګه د موجودو تعریفاتو او تخنیکي اصـــطلاحات په پوهاوي او زده کړې کې مرسته وکړي.

د ســرلیکونو پاڼې چې څپرکی او د هغې عملیاتي مراحل ویشـي اوس په نوې بڼه ډیزاین شــوي دي؛ ترڅو لا ډېر وضـاحت ولري او زده کونکي مخکې له مخکې د هغه څه څخه خبر کړي چې په یو څپرکي کې یې د زده کړې تمه کېداي شي. همدغه شان هر څپرکی د هغو کلیدی نقاطو لیست هم لري چې ممکن زده کونکي په څپرکی کې ورسـره مخامخ شي. په ډېری ځایو نو د ژبې د روانیت، فصاحت، تفاهم او اسانه لوستلو لپاره هڅه شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یو شمیر هغو کسانو څخه هم مننه کوم چې د دې کتاب په لیکلو کې یې زما سره مرسته کړې. لومړی زما زده کونکو ته، چا چې ماته څېړنې میتودونو د وضاحت څرنګوالی راوښود. د دې کتاب اساسي جوړښت د هغو نظریاتو پایله ده چې ما په تېرو کلونو کې له دوي څخه ترلاسه کړي چې څرنګه او د څېړنې د پروسې په کوم مرحله کې باید یوه مفهوم یا کړنلاره بیان شي. د لومړۍ نسخې په ایډیټ کولو او سمونه کې د خپلو زده کوونکو د پرلپسې پشنهاداتو، هڅو او مرستو څخه هم مننه کوم؛ ځکه دا کتاب به د هغوي د مرستو پرته خپلې اوسنۍ مرحلې ته نه و رسیدلی. په پای کې د یو خاص ملګري او همکار په صفت زما د دوامداره هڅونې او ملاتړ په خاطر د پروفیسور ډینس لیډ بروک څخه هم ځانګړې مننه کوم.

رنجیت کمار

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ژباړن د پیل خبري

الحمدُ لله وحدَه، وصلَّى الله وسلَّم على نبيِّنا محمد وعلى آله وصحبِه وسلم.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ (٦). (سورة الحجرات) او كما قال عليه سلام (كَفَى بِالمَرْءِ كَذِبًا أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ) رَوَاهُ مُسْلِم، كفى بالمرء إثما أن يحدث بكل ما سمع (المستدرك على الصحيحين) «كتاب العلم».

ژباړه: اې مؤمنانو! که کوم فاسق تاسي ته له کوم خبر سره راشي؛ نو تاسي (د خبر په اړه) پلټنه او تحقيق وکړئ، هسي نه چې کومې ډلې ته په ناپوهۍ ضرر ورسوئ او بيا پخپلو کړو پښېمانه شئ. (٦). (سورة الحجرات)

او نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: د يو شخص دروغجن کيدو لپاره دا کافي دي چې اوريدلي خبرې خپروي.

د ټولنيزو علومو اکثره مسايل ورځ تر بلې تغيير او بدلون مومي چې دا بدلون يې په بېلابېلو عواملو پورې اړه لري او د هر ډول بدلون تر شاه يو ډول لاملونه او رمزونه پټ وي.

انسانان تل هڅه کوي چې د ټولنيز ژوند رازونه کشف او د ژوند په بېلابېلو ډګرونو کې ورځخه د خپلو سهولتونو په موخه ګټه واخلي، دا د ټولنيزو علومو او د ټولنيز ژوند د رموزو کشف يو مشخص علم ته اړتيا لري او دا علم د يادو مسايلو د څېړنې په اړه رنګارنګ تګلارې وړاندې کوي.

ما د دې کتاب ژباړه ځکه غوره کړېده، چې دې کتاب کې د څېړنې په اړه اساسي او هر اړخيز موضوعاتو تسلسل په پام کې نيول شوې دی، چې د څېړنې نورو کتابونو کې دا تسلسل تر يو بريده نه تر سترګو کيږي. ما د څېړنې په اړه ډېر زيات

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتابونه مطالعه کړې خو د رنجیت کمار د څېړنې میتودولوژۍ چې په انګلیسي ژبه لیکلي شـــوي ځانګړې اهمیت لري. دا کتاب په هر څپرکی کې د کتونکو او د څېړنې مینوالو لپاره د ښـه پوهاوې په پار یې جدولونه او شـکلونه هم په مختلف فصـلونه کې ځای په ځای کړې دي، ترڅو دوي د نظري پوهې ترڅنګ عملي برخې کې هم پوهاوې ترلاسه کړي.

د نورو کتابونو په پرتله یې موضـوع ښه څېړلې ده، لیکوال کتاب په سریزه سره پیل کړی دی، چې د څېړنې تعریف، څېړنه زموږ د ژوند یوه برخه ده، د څېړنې استعمال، د څېړنې پروسـه، څېړنېره ستونزه، د متغیراتو پېژندل، د فرضیې جوړول،د څېړنې ډیزاین، د څېړنې د معلوماتو راټولولو میتودونه او داســـې نور مقدماتې موضـــوعات یې پکې تر بحث لاندې نیولي دي، وروســته دا بره ذکر شــوي موضــوعات یې په جلا جلا څپرکیو کې په تفصیل سره تشریح کړي دي.

پدې کتاب کې به تاسې ته د څېړنې، څېړنې ډولونو، تګلارو، اصولو او تر څنګ د څېړنې اهمیـت او د هغې فواید هم ذکر شـــې، هېله ده چې په دقیقه توګه یې مطالعه، زده او پـه ورځني ژونـد کې ورڅخـه د خپلو څېړنیزو موخو د ترلاســـه کولو لپـاره ګټه واخلي.

دا چې کتاب د څېړنې په اړه ډېر اړین موضـــوعات بیان کړي دي، له دي امله د ټولنیزو علومو پوهنځي د ټولنپوهنې او فلســفې څانګې د پریکړې له مخې د پوهنیار علمي رتبې ته د ترفیع په موخه د یاد علمي اثر ژباړې دنده راوسپارول شو، چې له نیکمرغه بشپړ شوه.

دا چې دا کتاب ژباړه ده؛ نو د ژباړنې له اصـولو سـره سم مې کټ مټ د مولف لیکنه او نظر له انګلیسي ژبې څخه پښتو ژبې ته رانقل کړي دی او په ژباړه کې مې روان اسـلوب ته ترجیح ورکړی او د یادولو وړ ده، چې د خپل لارښود استاد پوهندوی محمد شـفیق مندوزی څخه چې د یادې لیکنې په کتلو او اصلاح کولو کې کې زما سره مرسته وکړه او په خپلو لارښـوونو یې د دې علمي اثر اغیز لا ګټور کړ مننه وکړم او همدارنګه له ټولو هغو څخه مننه کوم چې زما سره یې پدې برخه کې مرسته کړې د ټولنیزو علومو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهنځي اکاډمیک او اداري سټاف او په ځانګړی توګه پوهنوال زرولي صدیقي، استاد محمد عالم صافی، عبید الله صدیقي او پوهنمل سیف الله غروال.

په پای کې د الله جل جلاله څخه د دې احسان شکر اداء کوم او دعاء کوم، چې زما دغه کم کوښښ په خپل دربار کې قبول کړي.

په درنښت

قدرت الله صدیقي

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لومړی څپرکی

# د فکر کولو لار

پدې څپرکي کې به تاسو د لاندې ذکر شویو مسایلو په اړه معلومات ترلاسه کړئ:

- د څېړنې د ترسره کولو ځینې دلایل.
- د شواهدو راټولولو او کړنو د څېړولو لپاره څرنګه څېړنه ترسره کېدای شي.
- د څېړنیزې پروسې ځانګړتیاوې او اړتیاوې.
- د تطبیق، موخو او د پوښتنو د طریقو له نظره د څېړنې ډولونه.
- د څېړنې نمونې.

## کلیدي ټکي

تطبیقاتي څېړنه، کنټرول شـــوې څېړنه، ارتباطي څېړنه، تشـــریحي څېړنه، تجربي څېړنه، توضـیحي څېړنه، اکتشافي څېړنه، د شواهدو پر بنسټ کړنه، تشریحي نمونه، مثبته څېړنه، خالصـــه څېړنه، کیفي څېړنه، کمي څېړنه، اعتباري څېړنه، جوړښـــتي او غیر جوړښـــتي پوښتنې، سیستماتیکه څېړنه، ډاډمنتیا.

### څېړنه: ستاسو د کړنو یوه اړینه برخه

څېړنه په ډېرو مسلکونو کې ترسره کېږي. څېړنه په عاقلانه ډوله د مهارتونو د مجموعي د استعمالولو لاره ده.

ســتاســو د ورځني مســلکي کار د بېلابېلو اړخونه نقد کول، د لارښــود اصــولو پېژندل او جوړښـــت چې یوه ځانګړې کړنلاره احتوا کوي، د نویو تیوریو رامینځته کول او ازمایل، چې ستاسو د عمل او مسلک په پرمختګ کې مرسته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پوښتنې کولو شکل چې تاسو څه کوئ، د خپلو اصلي پوښتنو لپاره د ځواب موندلو په موخه کلینیکي کتنې اوسیستماتیک ازمایښت د یو اغیزمن مسلکي خدمت ترسره کولو لپاره مناسب وضعیت رامنځته کوي.

د بېلګې په توګه کولی شو د ځېنو مسلکونو څخه یادونه وکړو.

فرض کړئ، چې تاسو د روغتیا په برخه کې کار کوئ یا ممکن د لومړۍ لیکې خدماتو چمتو کوونکی، نظارت کونکی یا د روغتیا مدیر او یا پلان جوړوونکی واوسئ. ممکن په روغتون کې یاست یا د عامه روغتیا کارکوونکي په توګه کار کوئ. ممکن د نرس، ډاکټر، حرفوي معالج، فزیوتراپیست، ټولنیز کارکوونکي یا نورو برخو کې په کار مصروف یاست، ممکن ستاسو ذهن ته ځېنې لاندې پوښتنې راشي یا یو بل څوک ستاسو څخه د دغو پوښتنو د ځوابونو غوښتنه وکړي:

- زه هره ورځ څو ناروغان ګورم؟
- کومې ستونزې او حالات زما د ناروغانو تر منځ زیات دي ؟
- د دې شرایطو علتونه څه دي؟
- ولې ځېنې خلک یو ځانګړی حالت لري پداسې حال کې چې نور نه لري؟
- د ټولنې صحي اړتیاوې کومې دي؟
- ټولنې ته د دې برنامې ګټې څه دي؟
- زه څرنګه کولی شم ټولنې ته د خپل خدمت اغیزمنتوب وښایم؟
- ولې ځېنې خلک خدمات وړاندې کوي پداسې حال کې چې نور یې نه وړاندې کوي؟
- خلک د خدمت په اړه څه فکر کوي؟
- ناروغان زما د خدمت څخه څومره راضي دي؟
- خدمات څومره مؤثر دي؟
- خدمات څرنګه ښه کېداي شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسـو کولی شـئ په دې لیسـت کې ډېرې نورې پوښـتنې هم اضافه کړئ. ځینې وختونه ممکن دا پوښـــتنې له پامه وغورځوي؛ ځکه چې په کومه کچه چې تاســـو کار کوئ، په بل وخت کې تاسـو ممکن هڅه وکړئ د خپل نوښت په اړه ځوابونه ومومئ یا ځینې وختونه تاسو اړتیا لرئ، د مؤثرې ادارې او مؤثر پلان لپاره ځوابونه ترلاسه کړئ.

راځئ، چې د یو بل مسلک (سوداګرۍ مطالعاتو) څخه یادونه وکړو: فرض کړئ چې تاسـو د بازار موندنې په برخه کې کار کوئ یو ځل بیا تاسـو کولی شـئ په مختلف کچو کې کـار وکړئ: د پلور رئیس، د پلور مـدیر یـا د پلور د ترویج اجرایوي مدیر په حیث. د پوښتنو لیست، چې ممکن ستاسو ذهن ته راشي کیدای شي نه ختمیدونکی وي. د پوښتنو ډولونه او د دوي د ځوابونو موندلو اړتیا به د هغې کچې سره توپیر ولري، چې تاســو په اداره کې کار کوئ. تاســو ممکن یوازې د یو ځانګړي محصــول په پلور کې میاشتنی بدلون ومومئ، یا له تاسو څخه د (R & D) یا د څیړنې او پرمختګ ستراتیژیک پلان جوړولو غوښتنه وشـي، چې سـتاسو د شرکـت لخوا تولید شوي محصولاتو لپاره د بازار په لویه برخه کې سـیالي وکړل شي. د پوښتنو لیست ممکن ذهن ته راشي او ممکن نه ختمیدونکی وي.

د مثال په توګه: د ځانګړې محصول پلورلو ته د وده ورکولو غوره ستراتیژي څه ده؟

- زه څو پلورونکو ته اړتیا لرم؟
- د دې محصول پلور باندې د ځانګړو اعلاناتو کمپاین څه اغیز لري؟
- پیرودونکي د دې محصول څخه څومره راضي دي؟
- پیردونکي په دې محصول باندې د څومره پیسو ورکولو ته چمتو دي؟
- پیرودونکي د دې محصول څخه خوښ دي یا نه ؟
- پلورونکي د دې محصـــول پلورلو ته د وده ورکولو په موخه کوم ډول روزنې ته اړتیا لري؟
- د ښه پلورونکي صفتونه کوم دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بېلګې په توګه، فرض کړئ چې تاســـو د ارواپوه، مشـــاور یا ټولنیزکارمند په توګه کار کوئ. د مرســتې پروســه کې د بوختیا پر مهال تاســو ممکن له خپل ځان څخه وپوښتئ یا کوم بل څوک تاسو څخه لاندې پوښتنې وکړي:

- زما د مراجعینو عامې ستونزې کومې دي؟
- د دوي تر ټولو مشترکې اصلي ستونزې کومې دي؟
- زما د مراجعینو ټولنیز اقتصادي حالت څه ډول دی؟
- ولې زه په ځینو مواردو کې بریالی یم او په نورو کې نه؟
- په ټولنه کې کومې ســرچینې شــتون لري چې د مشــتري ســره د یوې ځانګړې اړتیا کې مرسته وکړي؟
- د مداخلې کومې ستراتیژۍ مناسبې دي؟
- زما مشتریان  زما له خدماتو څخه څومره راضي دي؟

ممکن د یو څـارونکي مـدیر یـا د یوې ادارې د مدیر په توګه د خپلو خدماتو د تاثیر او اغېزمنتیا  پورې اړوند مختلفې پوښــتنې ممکن ســتاســو ذهن ته راشــي. د مثال په توګه:

- زما ادارې  ته څومره خلک راځي؟
- زما د مراجعینو ټولنیزې-اقتصادي ډیموګرافیکي ځانګړتیاوې کومې دي؟
- په ورځ کې یو کارمند کولی شي څو قضیې په مؤثره توګه اداره کړي؟
- ولې ځینې خلـک خـدمـات وړانـدې کوي پـداســـې حال کې چې نور یې نه وړاندې کوي ؟
- خدمات څومره مؤثر دي؟
- د مراجعینو عامې اړتیاوې کومې دي چې دې ادارې ته راځي؟
- د خدماتو د قوت او ضعف نقطې کومې دي؟
- مراجعین د دې خدماتو څخه څومره راضي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زه څرنګه کولی شم د دې اړمنو لپاره دا خدمات لاښه کړم؟

د یو مسلکي کس په توګه ممکن تاسو د تیوریکي پوښتنو د ځوابونو په موندلو کې لیوالتیا ولرئ، لکه:

- د یوې ځانګړې ستونزې لپاره ترټولو مؤثره چاره کومه ده؟
- څه شی د X لامل کیږي او یا د Y اغېز څه دی؟
- د دوه پیښو(پدیدو) تر منځ اړیکې څه دي؟
- زه څرنګه د پوښتنلیک اعتبار یقیني کولی شم؟
- په ټولنه کې د برنامو کارولو طرز څه دی؟
- د یوې ستونزې سره د ټولنې د رفتار موندلو غوره لاره کومه ده؟
- د ځانګړې درملنې د اغېزمنتیا د موندلو لپاره کومه لاره غوره ده؟
- زه څرنګه کولی شم یو بې طرفه نمونه وټاکم؟
- زما د مشتریانو د رضایت کچې د معلومولو غوره لاره څه ده؟

د مصرفیت په دې دور کې تاسو نه شئ کولی د خدماتو مصرف کونکي له پامه وغورځوي. مصرف کوونکي حق لري د دوي د ترلاسه شوي خدمت کیفیت او تاثیر په اړه پوښتنې وکړي او تاسو د خدمت چمتو کوونکي په توګه د دوي پوښتنو ته د ځواب ویلو مسؤلیت لري. ځینې پوښتنې چې پیرودونکي یې پوښتنه کولی شي دا دي.

- هغه خدمات چې زه یې ترلاسه کوم څومره اغېز من دي؟
- آیا زه د پیسو ارزښت ترلاسه کوم؟
- د خدمت چمتو کوونکي څومره روزل شوي دي؟

بېلابېل مسلکونه شتون لري چې له تاسو سره د بشري خدماتو د چمتو کوونکي او وړاندې کوونکي په توګه د پورتنیو پوښتنو د سالم حل په برخه کې مرسته کوي؛ نو باید تل د دغو پوښتنو ځواب ویلو ته تیار و اوسئ. څېړنه هم یو له هغه لارو څخه ده، چې تاسو سره یادو پوښتنو ته په معقوله توګه په ځواب ویلو کې مرسته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څېړنه: ستاسو د کړنو لپاره د شواهدو راټولولو یوه لاره

د شـواهدو پر بنسـټ عمل یا-(Evidence-Based Practice (EBP د اغېزمنتوب په اړه د شــــواهـدو پر اســـاس د خدماتو وړاندې کول دي. د خدماتو د چمتو کوونکي د خـدمـت پـه اړه کلینیکي او عیني قضـــاوت پیرونـدونکي خپـل لومړیتوب بولي او دا د خدمت څخه د پېرودونکو په رضـایت پورې اړه لري. همدارنګه EBP یا د شــواهدو پر بنســټ کړنې په ګړندي ډول د نور مســلکونو تر منځ د رقابت په یو نورم بدلې شوې. که څه هم په اصل کې یاده موضوع په طبي کړونو کې ډېر اعتبار لري. د شواهدو پر بنسټ کړنې اوس حتٰی په نورو مختلیفو ډیری مسلکونو لکه نرسینګ، د عامې روغتیا خدمتونه، رواني روغتیـا، د ټولنې روغتیـا، ټولنیز کـار(کـار امور اجتمـاعي)، ښـــوونې او روزنې او داسې نورو کې د پالیسی جوړولو او عملي ارزونې لپاره په یو ساینسي میتود او د منلو وړ تګلاره باندې بدلې شوې او رواج شوې دي.

د شواهدو پر بنسټ کړنې یا د EBP مفهوم مسلکي او نور عمل کوونکي هڅوي چې د مناسـب خدمت چمتو کولو او د پیرودونکي د غوښتنو او شرایطو په پام کې نیولو سره د مداخلې اغېزمنتیا او مسلکي قضاوت په اړه شواهد وکاروي

د حســاب ورکولو په دې دوره کې باید تاســو د یو مســلکي شــخص په توګه پیرودونکو ته خدمت تر څنګ مسلک ورکوونکی هم واوسئ. د حساب ورکولو د یوې برخې په توګه تاســو اړتیا لرئ، چې د خپلو چمتو کوونکو خدمتونو د تاثیر او د مداخلو په اړه دقیق، سالم او معتبر معلومات راټول او د هغې د اغېزمنتیا ثبوت وړاندې کړئ.

د خدمت چمتو کوونکو او مسلکیانو په توګه مو ږ پیرودونکو ته د غوره خدمت کولو لپاره د عمل کلینیکي اړخونو قوي کولو، بهتر کولو، وده ورکولو، تصـفیه کولو او پرمختللي کولو لپاره د څېړنې د میتودولوژجیســـټانو لخوا رامینځته شــوي تخنیکونه او کړنلارې کارو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د څېړنې تطبیقات (عملي کار کول)

په اصلیت کې ډېري لږې خالصي څېړنې شتون لري او خورا لږ خلک په اصلي توګه د څېړنیزو تګلارو په کارولو سره څېړنه کوي. ډېری څېړنې تطبیقاتي څېړنې وي، کوم چې په ډېرو مسلکونو کې تطبیقیږي.

د هر مسلک وګړي د خپلې پوهې د کچې لوړولو او د مسلک د پیاوړتیا او پرمختګ په موخه په مختلیفو برخو کې په مختلیفو کچو د څېړنې د میتودولوژجیستانو لخوا رامنځته شوي میتودونه او پروسې کاروي.

تاسو به ومومئ، چې دا مسلکي تمرینونه د اوږدې مودې په ترخ کې د نورو لخوا ازمویل شوي او رامنځته شوي کړنلارې او کړنې تعقیبوي. د دې ازموینې په پروسې کې د پرمختګونو په موخه تاسو د څېړنې هغو مهارتونو ته اړتیا لرئ، چې د خالص تحقیق په نتیجه کې لاسته راځي. ستاسو د مستقیم او غیر مستقیم خدمت کولو په برخه او مسلک کې د واقعیت په توګه ستاسو د موندنو اعتبار په بشپړ ډول په هغو څېړنیزو میتودونو او کړنلارو پورې اړه لري، چې ستاسو لخوا منل شوي. لکه روغتیا(نرسینګ، حرفوي درملنه، فزیوتراپي، د ټولنې روغتیا، د روغتیا وده او عامه روغتیا)، تعلیم، ارواپوهنه یا ټولنیز کار، د څېړنې غوښتنه کولی شي له څلورو بېلابېلو زاویو او لیدلوری څخه وکتل شي.

- د خدمت چمتو کوونکي.
- د خدماتو مدیر، مدیراو یا پلان جوړونکی.
- د خدمت مصرف کوونکی
- مسلکیت

دا لیدپه ۱،۱ شکل کې خلاصه شوېدی. که څه هم په ټولو مسلکونو کې د ستونزو لیست کول ناممکن دی؛ مګر دا چوکاټ د بشري او ټولنیزو علومو په ډېرو مسلکونو او حالاتو کې پلی کېدای شي. د پورته لید او چوکاټ په اساس تاسو کولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شـــئ پـه خپلـه علمي برخـه کې چېرې، چې د څېړنو تخنیکونـه د ځوابونو موندلو لپاره کارول کېدای شي د احتمالي ستونزو د پېژندلو لپاره هم کار واخلئ.

## څېړنه څه مانا لري؟

ســتاســو مســلکي پوښــتنو ته د ځوابونو د موندلو ډېری لارې شــتون لري. دا میتودونه په اساسـي توګه په غیررسـمي، کلینیکي قضاوت او ځانګړو ساینسي ساحو پورې اړه لري، چې د سـاینسـي کړنلارو دودیز استعمال ته غاړه ایښودل دي. دا څېړنې ستاسو پوښتنو ته د ځوابونو د موندلو یوه لاره ده. کله چې تاسـو عملاً د یوې پوښتنې د ځوابونو د موندلو لپاره د څېړنې پروسه پر مخ وړئ؛ نو دا تاسو ته د پروسې د پلي کېدا ډاډ درکوي چې.

- د فلسفي او عقلي چوکاټ په داخل کې ترسره کېږي.
- د کړنلارو، میتودونو او تخنیکونو څخـه کـار اخلي چې د اعتبـار او بـاورتوب لپاره ازمویل شوي دي.
- پروسه بې طرفه او د مشخص هدف لپاره ډیزاین شوې ده.

د څېړنې په برخه کې سـتاسو د فیلسوفیکي دریځ ټاکنه ممکن له څو پاراډایمونو او کړنلارو څخه رامنځته شي، لکه: مثبت ګرایي، تعبیر کوونکي، پدیدوي، عمل یا برخه اخېستونکی، فیمینست (د ښځو حقوق غوښتونکي)، کیفي، کمي او علمي مسلکونه، چې تاسو په کې روزل شوي یاست.

د اعتبـار مفهوم د څېړنې پروســـې پـه هر اړخ کې پلی کېـدای شـــي او دا ډاډ درکوي، چې په یوه څېړنه کې د یوې پوښتنې د ځواب موندلو لپاره سمې کړنلارې پلې شـوي دي. اعتبار د اندازه کولو د پروسې کیفیت ته اشاره کوي، چې دقت او د تکرار وړتیا رامنځته کوي.

د بې پرې او هـدف لرونکي مـانا دا ده، چې تاســـو هر یو قدم په غیر جانبدارانه ډول اخیسـتی او هره پایله یې په خپل ذات کې تر ټولو غوره ده او د خپل شـخصي ګټو پرته په نظر کې نیول شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د معلومـاتو د راټولولو پـه برخـه کې د څېړونکو د تعصــــب او تبعيض (ذاتي يا عندي وينا)کچه هم توپير کوي. فرعي فعاليت (ذاتي يا عندي ليد) ستاسو د فکر کولو د لارې يوه اړينه برخه ده، چې ســتاســو د تعليمي شــاليد، مســلکونو، فلســفې، تجربې او مهارتونو په حالت پورې تړلې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ځېړنې عملی کاریدنه**

د مختلفو اړخونو له نظره

### د خدمتونه وړاندې کونکې

دې سوالونه ته ځواب ورکوي لکه:
- ځومره خلک دی خدموتونه/تولید څخه استفاده کوي؟
- ولي ځېنې خلك دا خدمتونو/تولید څخه استفاده کوي او ځېنې نور یې نه کوي؟
- دا تولید/خدمتونه ځومره موثر دي؟
- څنګه دا تولید/خدمتونه ښه کېدای شی؟
- کوم قسم خلك دا تولید/خدمتونو څخه استفاده کوی؟ او کوم یې نه کوی؟

### د اداري چارو سمبالونکي، مدير او پلان جوړونکي

دې سوالونه ته ځواب ورکوي لکه
- د ټولنې اړتیاوی څه دی؟
- کوم قسم تولید/خدمت ته ټولنه اړتیا لری؟
- ځومره خدمت تهیه/چوپړ کونکو ته اړتیا لرو؟
- ستاف/کارمندان کوم ټرینګونو ته اړتیا لری؟
- ځومره قضیې یو کارمند په یوه ورځ کې ځېړلې او تحلیل کولي شي؟
- څنګه موږ یو کارمند د موثریت ارزیابی کولی شو؟
- څنګه موږ یو تولید/خدمتونه مشهور کولی شو؟

### مشتریان

دې سوالونه ته ځواب ورکوی لکه:
- ایا زه یو مشتری د روپو ارزښت می ترلاسه کړي؟
- خدمت تهیه کونکی/چوپړ کونکی ځومره ښه دی؟
- د تولید اوړد مهاله ځومره اثرات لری، کوم چی موږ استعمالوو، استفاده تری کوو، ثبوتونه یې چېرته دی؟

### مسلکي خلك

دې سوالونه ته ځواب ورکوی لکه:
- د یوې مشخصې ستونزې لپاره په کومه یوه لاره مؤثر مداخله(منځګړتوب) وي.
- د x او y ترمنځ څه اړیکه ده؟
- تر ځومره حده پورې یوه نظریه په اوسنی حالت کی د اعتبار وړ ده؟
- د یوې انګیرنې داندازه کولو لپاره کومه یوه تر ټولو ښه لاره وي؟
- د خلکو لخوا په تصمیم نیولو د یوې برنامې د پلې کولو او خپلولو لپاره کوم ډول پروسه کارولې شو؟

۱–۱ – شکل: د ځېړنې تطبیقي کاریدنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مثال په توګه یو ارواپوه ممکن د معلوماتو یوې ټوټې ته د هغه طریقې او تګلارې څخه په توپیر سره وګوري، چېرې چې یو بشری حقوقپوه یا تاریخ پوه ورته ګوري. له بلې خوا تعصب یوه قصدي هڅه ده، چې د څه پټولو یا روښانه کولو لپاره ترسره کېږي.

پورته ذکر شویو درېو معیارونو ته په کتو دا پروسه د دې وړتیا لري، چې تحقیق ورته ویل کېږي. له همدې امله کله چې تاسو وواياست، چې د یوې پوښتنې د ځواب موندلو لپاره تاسو د څېړنیزه مطالعه ترسره کوئ، دا په دې مانا ده، چې هغه میتود چې تاسو یې په لاره اچولو سره دا طمعې پوره کوئ (په فصل کې وروسته بحث شوی). په هر صورت هغه درجې ته، چې د دې معیارونو څخه طمع کېږي د یو مسلک څخه بل مسلک ته توپیر لري او له همدې امله د تحقیق مانا هم له یو علمي مسلک څخه بل ته توپیر لري.

د مثال په توګه د څېړنې پروسې طمعې د فزیکي او ټولنیزو علومو تر منځ خورا څرګندې دي. په فزیکي علومو کې د څېړنو د هڅو څخه طمع کېږي، چې په هر مرحله کې سخت کنټرول شي، په داسې حال کې، چې په ټولنیزو علومو کې سخت کنترول نشي پلي کېدای او کله نا کله غوښتنه هم نه کېږي. په ټولنیزو علومو کې د اړتیا وړ کنترول کچه هم له مسلک څخه بل ته په څرګند ډول توپیر لري؛ ځکه چې ټولنیز پوهان د پورته توقعاتود پوره کولو لپاره د څېړنیزې پروسې په اړتیا کې هم سره هم نظر ندي. مګر د مسلکونو تر منځ د دې توپیرونو سره سره د پوښتنو په برخه کې د دوی پراخه چلند ورته دی چې د دې کتاب اساس او څېړنیز ماډل هم پراخه تګلاره تشکیلوي.

د څېړنې د پیل کوونکي په توګه تاسو باید پوه شئ، چې تحقیق کوم تخنیکي، پیچلی او یا د احصایې کمپیوټر نه دي. دا کېدای شي خورا ساده فعالیت ډیزاین شوی وي؛ ترڅو د ورځنیو فعالیتونو پورې اړونده ساده پوښتنو ته ځوابونه چمتو کړي. له بلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوا د څېړنې کړنلارې کولی شـــي د پیچلو تیوریو یا قانونونو جوړولو لپاره هم وګمارل شي چې زموږ ژوند اداره کوي.

لکه څنګه چې ترې یادونه وشـوه د څېړنیز او غیر څېړنیز فعالیت تر منځ توپیر دا دی، چې په څېړنیز فعالیت کې موږ د خپلو څېړنیزو پوښتنولپاره د یوې پروسې په لړ کې ځوابونـه پیـدا کوو؛ نو مهمـه ده چې دغـه بهیر یو څـه اړتیـاوې او ځانګړتیاوې ولري او شـــرایط یې هم پوره کړل شـــي، د دې اړتیاو او ځانګړتیاو پېژندلو لپاره راځئ، چې د تحقیق ځینې تعریفونه وګورو: د څېړنې یا Research کلمه له دوه برخو څخه جوړه شـوېده چې (Re) د (بیا) او (Search) د (پلټنې) معنا لري. د قاموس له مخې بیا د (مختاړي) په شـکل په سر کې راوړل کېږي، چې مانا یې ده، یوځل بیا یا دوباره کول او په کلی توګه د فعل مانا لري، چې له نږدې او احتیاط سره ازموینه او هڅه یا تحقیق کول دي. دواړه برخې یوځـاي یو نوم رامنځتـه کوي، چې د پوهې پـه یوه برخـه کې هڅـه محتاطه، سـیستماتیکه مطالعه او تفتیش څرګندوي، چې د حقایقو او اصولو رامنځته کولو لپاره ترسره شوې وي.

ګرینیل زیاتوي: څېړنه یو ډول منظم تحقیقات دی، چې د سـتونزو حلولو لپاره د منلو وړ ســـاینســـي میتودولوژیو څخه کار اخلي او نوې پوهه رامنځته کوي چې عموما تطبیق کېږي (ګرینیل ۱۹۹۳:۴).

د لنډ برګ په وینا هغه پروســـه، چې موږ یې په ورځني ژوند کې کاروو او هغه علمي بهیر، چې د ټولنیزې څېړنې پروسې تر منځ موازي والی راول، په ساینسي میتودونو کې د سیسـتماتیک نظارت (مشـاهدو) درجه بندۍ او د معلوماتو تشریح کول شامل دي لنډ برګ ( ۱۹۹۳:۴).

اوس په ښـکاره ډول دا یوه پروسـه ده په کوم کې چې نږدې ټول خلک د خپل ورځنې ژونـد په جریان کې بوخت دي. نوموړی زیاتوي: زموږ د ورځنیو چارو پایلو او د ساینسي میتود په توګه د پېژندل شویو پایلو تر منځ اصلي توپیر په رسمیوالي، سختوالي، تائید او په وروستي عمومي اعتبار پورې اړه لري. (۵: ۱۹۹۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



برنر تحقیق یا پلټنه د یوې ستونزې د ځوابونو د موندلو لپاره د یوې سیستماتیکې لارې په توګه تعریفوي (۲:۱۹۹۷).

د کرلینګر په وینا ساینسي څېړنه د مختلیفو پېښو په اړه د ټاکل شویو اړیکو په بنیاد د وړاندیزونو سیستماتیکي، کنټرول شوي، تجرباتي او انتقادي پلټنه ده (۱۰:۱۹۸۶).

بلومر وايي: بیا هم ټولنپوهنیز څېړنه؛ لکه څرنګه چې د څېړنې په توګه په ابتدایي ډول د ټولنیز نړۍ په اړه د سیستماتیک، باوري او معتبرو پوهې رامنځته کولو ته ژمن دي. (۵:۱۹۷۷)

## د څېړنیزې پروسې ځانګړتیاوې او اړتیاوې

د دې تعریفونو څخه دا روښانه کېږي، چې تحقیق د پوښتنو ځوابولو لپاره د معلوماتو د راټولولو، تحلیلولو او تشریح کولو پروسه ده. مګر د څېړنې د قوت په موخه یاده پروسه باید لاندې ځانګړتیاوې هم ولري: د امکان ترحده پورې کنټرول، پېچلتیا، سیستماتیک والی، د اعتبار او تائید وړتیا درلودل او ددې تر څنګ باید تجربه کوونکي او انتقادي هم وي.

راځئ، چې په لنډه توګه دا ځانګړتیاوې یو څه وڅېړو؛ ترڅو پوهه شو، چې د دوی مانا څه ده؟

کنټرول شوې: په ریښتني ژوند کې ډېرې فاکتورونه شتون لري، چې په یوې پایلې اغېز کوي. ځانګړې پېښه په کمیابه توګه د متقابلو اړیکو پایله ده. ځېنې اړیکې د نورو په پرتله خورا پیچلې دي او ډېرې پایلې د متقابلو کړو وړو فاکتورونو او د متقابل اړیکو یو سلسله ده. د علت او معلول د اړیکو په مطالعه کې دا مهمه ده، چې د دې وړتیا ولرئ، چې عکس العمل یا اغېز د علت سره برعکس وصل کړئ. د علت په مطالعه کې د اړیکې رامنځته کول اړین دي؛ په هر صورت په ټولنیزو علومو کې د اړیکو جوړولو لپاره د عمل او د هغې د اغېزو یا تاثیراتو پېژندل خورا ستونزمن دي او ډېرې وختونه ناممکن هم وي.

کنترول دا مانا لري، چې د پېښو په راسپړلو او د دوو تغییراتو په اړیکو کې تاسو خپله مطالعه په داسې ډول تنظیم کوی، چې د اړیکو د تاثیر نور فاکتورونه خپلې اغېزې کمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي. دا په فزیکي علومو کې تر یوې اندازې پورې ترلاسه کېدای شي؛ ځکه چې ډېری څېړنې په لابراتوار کې ترسره کېږي. په هر صورت په ټولنیزو علومو کې دا خورا ستونزمن کار دی؛ ځکه چې څېړنه په ټولنه کې د انسانانو ژوند پورې اړوند مسئلو په اړه ترسره کېږي، چېرې چې دا ډول کنترول ناممکن دي. له همدې امله ده چې تاسو نشئ کولی په ټولنیزو علومو کې بهرني عوامل کنترول کړئ، صرف هڅه کوئ د دوي تاثیر اندازه کړئ.

سخت: تاسو باید ډاډ ترلاسه کړی چې د پوښتنو ځوابونو موندلو لپاره تعقیبي پروسې اړونده مناسبه، دقیق او عادلانه دي. یوځل بیا د سختۍ درجه د فزیکي ساینس او په ټولنیزو علومو کې د پام وړ توپیر لري.

سیستماتیک: دا په دې مانا ده، چې هغه کړنلارې چې د تحقیق لپاره ترسره شوي یو ځانګړی منطقي ترتیب تعقیبوي؛ ځکه دغه بېلابېلې مرحلې په ناڅاپي ډول نشي رامینځته کېدای؛ نو ځېنې کړنلارې بایدځینې نورې کړنلارې تعقیب کړي.

تجربوي: په دې مانا چې کومې پایلې، چې د ریښتني ژوندد تجربو، مشاهدو او معلوماتو پر اساس راټولې شوې او تر لاسه شوې وي.

د اعتبار او د تائید وړ: دا مفهوم په دې مانا دی، چې هر هغه څه چې تاسو د خپلو موندنو پر اساس لاسته راوړئ سم دي او ستاسو او د نورو لخوا تائید کېدای شي.

انتقادي: د کارول شویو طرزالعملونو او ګومارل شویو میتودنو تفتیش د تحقیق لپاره خورا مهم دی. د تفتیش پروسه باید ارزښتناکه او له هر ډول نیمګړتیاو څخه پاکه وي. په پروسه کې منل شوې او کارول شوې کړنلارېباید د قوي تفتیش سره د مقاومت کولو وړ وي.د یوې پروسې لپاره چې څېړنه بلل کېږي؛ اړینه ده چې پورتنۍ ځانګړتیاوې ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library





۱-۲-شکل: د څېړنې ډولونه

## د څېړنې ډولونه

د څېړنې په مطالعه کې د څېړنې ډولونه له دريو مختلف ليدنو(ليد لورو) څخه کتل کيداى شي (شکل ۱-۲)

۱ . تطبيقي موندنو ته په کتو څېړنه

۲ . هدف ته په کتلو څېړنه

۳ . پلټنې يا معلوماتو ته په کتلو څېړنه

د دې ليد پر بنسټ د څېړن طبقه بندي او ډولونه کاملاً له يو بل څخه متفاوت نه دي؛ ځکه د تطبيق له نظره طبقه بندي شوې څېړنيزه مطالعه هم د اهدافو او تفتيش حالت له ليدلوري څخه طبقه بندي کيداى شي. د مثال په توګه د څېړنې پروژه کولى شو د په مختليفو ډولونو طبقه بندي کړو لکه د تطبيق له نظره په خالصې يا پلې شوې څېړنې، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اهدافو له نظره په تشـریحي، ارتباطي، توضـیحي یا پلټونکي (د پوښتونکي طرز له نظره په کیفي او کمي).

## د تطبیق یا عملي لید په اعتبار د څېړنې ډولونه

د بیلي په وینا که تاسـو په ټولنیزو علومو کې د تطبیقي یا عملي لید څخه د یوې څېړنې هڅې وڅېړئ؛ نو دوه پراخه کټګورۍ څېړنې به ومومی: خالصه څېړنه او تطبیقاتي څېړنه. (۱۷:۱۹۷۸)

په خالصه څېړنه کې د تیوریو او فرضیو رامنځته کول او ازمول شامل دي، چې د فکري پلوه د څېړونکي لپاره ننګونکي دي؛ مګر ممکن په اوسني یا راتلونکي وخت کې عملي تطبیق ونه لري. په دې توګه دا ډول څېړنه اکثراً د فرضـیي ازمایلو ته شـامليږي، چې خورا مجرده او ځانګړې مسلکي مفکوره غواړي.

خـالصـــه څېړنـه د څېړنې د میتودونو، کړنلارو، تخنیکونو او وســـایلو د ودې، ازموینې، تـائید او نوي کولو ســـره هم تړاو لري، چې په ټوله کې د تحقیق میتودولوژۍ جوړوي. د خالص تحقیق مثالونو کې د نمونې اخیستلو تخنیک رامنځته کول شامل دي، چې په یوه ځانګړي حالت کې پلي کېدای شي، یاده څېړنه د کړنلارو د اعتبار د ارزولو لپاره د میتودولوژۍ رامنځته کولو، په خلکو کې د فشـار کچې او چلند اندازه کولو لپاره غوره لاره ده . د خالصـې څېړنې له لارې په ټولنیزو علومو کې ډېرۍ څېړنې پلي شـوي او ډېر مسایل رامنځته شوي او د تحقیق د میتودونو په پوهه وراضافه شوي هم دي. په بل عبـارت د څېړنې تخنیکونـه، کړنلارې او میتودونه، چې د تحقیق میتودولوژي جوړوي د وضـعیت، مسـئلې، ستونزې یا پېښې د بېلابېل اړخونو په اړه د معلوماتو راټولولو په اساس پلي کیږي؛ ترڅو راټول شـوي معلومات په مختلیفو برخو کې عملاً وکارول شـي. لکه د پالیسۍ جوړونې، ادارې او یوې پېښې په اړه د پوهاوي او درک کولو په موخه او داسې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اهدافو له نظره د څېړنې ډولونه

که تاسو یوه څېړنه د هغې د مطالعې د ساحې او موخو له نظره وڅېړئ؛ نو وبه وینئ، چې په لویه سطحه یوه څېړنه په تشریحي، ارتباطي، توضیحي او د نویو معلوماتو د سپړنې په څېړنو ویشل کېدای شي. د مطالعې د مستند په توګه طبقه بندي د سیستماتیک وضعیت، ستونزو، پدیدو، خدماتو یا برنامو تشریح کولو لپاره هڅه ده، یا د یوې ټولنې د ژوند د بېلابېلو شرایطو په اړه د معلوماتو چمتو کولو هڅه ده، یا د یوې مسئلې په اړه انګیزه بیانوي.

د مثال په توګه ممکن دا د یوې ادارې لخوا د چمتو شـــویو خدماتو د ډولونو د تشـریح کولو هڅه وي، د یوې اداري ادارې جوړښـت، د کلیوالي خلکو د ژوند لومړي شـرایط، د یوې ټولنې اړتیاوې، د طلاق له لارې چارې، څرنګه یو ماشـوم په کور کې د کورني تـارتریخوالي ســره ژونـد تېروي یـا د یو مـدیریـت د کـارمنـدانو د چلند په اړه مطالعات او یا دې ته د ورته مطالعاتو اصـلي هدف د هغه څه تشـریح کول دي، چې د مطالعې لاندې مسئلې/ ستونزې په نظر کې نیولو سره پېښېږي.

په ارتباطي مطالعه کې اصـــلي ټینګار د ټاکلي وضـــعیت د دوه یا څو اړخونو تر منځ یو پر بل د متکي کېدلو او تر منځ یې د اړیکو او تړاو په کشـفولو یا تاسـیس کولو دی. د تولیـد په خرڅلاو باندې د اعلاناتو یا کمپاین اغېزه څه ده؟ د فشـــارڅخه د ډک ژوند او د زړه د حملې د پېښــو تر منځ اړیکې څه دي؟ زېږون او مړینې د کچو تر منځ اړیکې څـه دي؟ د ټیکنـالوژۍ او بیکـارۍ تر منځ اړیکې څه دي؟ د ناروغۍ په کنټرول کې د روغتیایي خدماتو اغېزې څه ډول دي یا د زده کړو د لاسته راوړنو په اړه د کورنۍ چـاپیریـال څه ډول دی؟ دا مطالعات څرګندوی چې ایا د وضـــعیت یا واقیعت د دوو یا ډېرو اړخونو تر منځ اړیکې شـتون لري او که نه؛ نو له همدې امله د ارتباطي مطالعاتو په نوم یادیږي.

توضـیحي څېړنې د دې روښانه کولو هڅه کوي، چې ولې او څرنګه د یو حالت یا پدیدې د دوه اړخونه ترمنځ اړیکې شـــتون لري. دا ډول څېړنې د توضـــیح کولو هڅه کوي، د مثال په توګه ولې فشار لرونکي ژوند د زړه د حملې لامل ګرځي؛ ولې د مړینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کچې کمېدل د زیږون د کچې د کمېدو سره یوځای تعقیبیږي؟ یا معلوم کړو، چې د کور چاپیریال څه ډول د ماشومانو په علمي لاسته راوړونو اغیزه کوي.

څلورم ډول څېړنه د یوې مطالعې د اهدافو له نظره د سپړنې څېړنه بلل کیږي. دا مطالعه هغه وخت ترسره کیږي کله چې موخه د هغې ساحې پلټل وي، چې تر اوسه لږه پېژندل شوې وي یا موخه د ځانګړې څېړنې د مطالعې د امکاناتو پلټل وي. کله چې مطالعه د هغې د عملي کېدو د ټاکلو لپاره ترسره کیږي؛ نو دې ته د امکان سنجونې مطالعه یا ازمایښتي مطالعه هم ویل کیږي. دا ډول څېړنه او مطالعه معمولاً هغه وخت ترسره کیږي، چې یو څېړونکی وغواړي هغه ساحې وپلټي په کومو کې چې پلټونکی لږ یا هېڅ معلومات نلري. نو یوه کوچنۍ مطالعه ترسره کوي؛ ترڅو معلومه کړي، چې آیا دا د پراخه تحقیق کولو ارزښت لري او که نه. د دې ډول مطالعې په جریان کې د ارزونې پر اساس ممکن بشپړه مطالعه هم واقع شي. د پلټنې مطالعات هم د ازمایښت د وسایلو د اندازه کولو، کړنلارو پراختیااو تصفیه کولو په موخه ترسره کیږي او هم د ترلاسه شویو مطالعاتو د وسایلو اندازه کولو، کړنلارو رامنځته کولو، پاکولو او ازمایښت لپاره. (جدول ۱،۱)

د څېړنیزې مطالعې د اهدافو له نظره د څېړنې مطالعات څرګندوي، چې که څه هم د تیورۍ له نظره د یوې څېړنې مطالعه په پورتنۍ کټګورۍ کې طبقه بندي کېدای شي؛ مګر بیا هم په عمل کې ډېری مطالعات د لومړیو دریو ترکیبونو په اساس صورت مومي، چې د تشریحي، ارتباطي او توضیحي څېړنو عناصر په بر کې لري. په دې کتاب کې د څېړنېز راپور لیکلو لپاره وړاندیز شوې لارښوونې تاسو د دې اړخونو ادغام کولو ته هڅوي.

## د پلټنې یا د معلوماتو له مخې د څېړنې ډولونه

زموږ د څېړنې په توپولوژۍ(د یوې ځانګړې موضوع په اړه معلومات یا نقشه) کې دریم لید د هغه پروسې سره اړه لري، چې تاسو یې د څېړنې پوښتنو ته ځواب موندلو لپاره غوره کوئ. په پراخه توګه د تفتیش لپاره دوه لارې شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ . ترتیب شوې یا محدوده شوې تګلاره

۲ . غېرترتیب یا آزاده تګلارې

په ترتیب شوې تګلاره کې موخې، ډیزاین، نمونه او هغه پوښتنې، چې تاسې یې د ځواب ویونکو څخه د پوښتلو پلان لرئ دا ټول هغه څه چې د څېړنې پروسه رامنځته کوي مخکې له مخکې ټاکل شوي دي. خو په غیر ترتیب شوې تګلاره کې

بیا برعکس د پروسې په هره برخه کې انعطاف ته اجازه وي. ولې ترتیب شوي روش د ستونزې، مسئلې (پېښې) او دیا یوې پدیدی د کچې د ټاکلو لپاره ډېر مناسب دی.

جدول ۱-۱ د هدف له نظر د څېړنیزو مطالعاتو ډولونه

| د تحقیق ډولونه | اساسي مقصد | مقصد | مثالونه |
|---|---|---|---|
| تشریحي څېړنه | د هغه څه تشریح کول چې شتون لري | د هغه څه تشریح کول، چې په اړه یې یو څه شتون لري:<br>د خلکو یوه ډله<br>یوه ټولنه<br>یوه پدیده<br>یو وضعیت<br>یو پروګرام<br>پایله | د ټولنې د اوسیدونکو ټولنیز او اقتصادي ځانګړتیاوې<br>د ښه تدریس په اړه د محصلینو رویه<br>د یوې ادارې خدماتو تهیه کولو ډولونه<br>د یوې ټولنې اړتیاوې<br>د یو تولید خرڅلاو<br>د نرسانو د مړه شویو او مړه کیدونکو په اړه رویه<br>د مدیریت په اړه د کارګرانو رویه<br>په یوه ټولنه کې د خلکو د اوسیدو تعداد<br>د نوې مهاجرینو ستونزې<br>د مهاجرینو تر منځ مسلکي حرکت(اوښتون) اندازه<br>د یو تولید په اړه د مشتریانو خوښه او ناخوښه<br>کورنۍ تاوتریخوالی کې د اوسیدو اغیزې |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| • هغه ستراتیژیانې چې د شرکت لخوا د کار ګرانو د تولید زیاتوالي لپاره ځای پرځای شوي | | | |
| • د یو پروګرام اغېز<br>• د فشار لرونکي ژوند او د زړه د حملې پېښو تر منځ اړیکه<br>• په کارموندنه کې د ټیکنالوژۍ اغېزه<br>• د میندو او ماشوم روغتیایی خدماتو اغېزه د میندو او ماشومانو په مړینې باندې<br>• د ودونو د مشورتي خدماتو اغېزمنتوب د ودونو د ستونزو د کچې په اړه<br>• د اعلاناتو کمپاین اغېزه د محصول خرڅلاو باندې<br>• د کارګرانو په تولید کې د هڅونې اغېزې<br>• د ساري ناروغۍ په کنټرول کې د معافیت پروګرام اغېزمنتوب | تاسیس کول یا سپړنه کول:<br>• یوه اړیکه<br>• یوه ټولنه<br>• یو متقابل انحصار | د دې معلومول لپاره، چې اړیکه شتون لري | ارتباطي څېړنه |
| • ولې فشار لرونکي ژوند د زړه حملې لامل کیږي؟<br>• ټیکنالوژي څرنګه بیکاري/روزګار رامنځته کوي؟<br>• د میندو او ماشوم روغتیایی خدمتونه څرنګه د ماشومانو په مړینه اغېزه کوي؟<br>• ولې ځینې خلک د یوې مسئلې په اړه مثبت چلند لري پداسې حال کې چې نور یې نه لري؟<br>• ولې یو ځانګړی مداخله د ځینو خلکو لپاره کار کوي او د نورو لپاره نه؟<br>• ولې ځینې خلک یو محصول کاروي پداسې حال کې، چې نور یې نه کوي؟<br>• ولې ځینې خلک بل هیواد ته مهاجرت کوي پداسې حال کې چې نور یې نه کوي؟<br>• ولې ځینې خلک یو پروګرام غوره کوي پداسې حال کې چې نور یې نه کوي؟ | د تشریح کولو لپاره:<br>• ولې اړیکه، اتحادیه یا یو بل پورې تړلی شتون لري<br>• ولې یوه ځانګړې پېښه رامنځته کیږي | د دې تشریح کول چې ولې اړیکې رامنځته کیږي | وضاحتي یا توضیحي څېړنه |

(c) ketabton.com: The Digital Library



په داسې حال کې، چې غیر ترتیبي تګلاره او روش اساسا د یوې پدیدې د ماهیت د سپړولو لپاره کارول کیږي، په بل عبارت د واقعیت، مسئلې، ستونزې یا پدیدې په وړاندې چلند کې د هرې برخې رنګارنګي ځرګندوي. د مثال په توګه که تاسو غواړئ د یوې مسئلې مختلف اړخونه وڅیړئ، هغه ستونزې، چې په ټولنه کې د خلکو لخوا تجربه شوي یا مختلف نظرونه چې خلک یې د یوې مسئلې په اړه لري؛ نو دا د غیر ترتیب شویو پوښتنو په کارولو سره پلټل کیږي. له بلې خوا د دې موضوع د ځرګندولو لپاره، چې څومره خلک ځانګړي او یو مشخص لید لري؟ یا څومره خلک ځانګړې ستونزه لري؟ یا څومره خلک ځانګړي نظر لري، تاسو اړ یاست د دغه ډول پلټنو لپاره د څېړنې منظم جوړښت وکاروئ.

د ترتیب شوې پلټنې ترسره کولو دمخه باید د معلوماتو د رنګارنګۍ په موخه یوه ترتیب شوې پلټنه ترسره شي، چې بیا د همدې ترتیب شوي پلټنې له لارې راټولنکې څېړنه اندازه کېدای شي.

دواړه طریقې په تحقیق کې خپل مقام لري، دا دواړه ډوله څېړنې په ځان کې د قوت او ضعف نقطې لري نو له همدې امله تاسو باید ځان یواځې په ترتیب شوي یا غیر ترتیب شوي تګلاره پورې قید نه کړئ. د پلټنې لپاره ترتیب شوی روش عموما د کمي څېړنیزو روشونو په ډله کې توګه طبقه بندي کیږي او دکیفي څېړنې په برخه کې د غېرترتیب شوي روش څخه یادونه کیږي، د کمي او کیفي څېړنو تر منځ نور توپیرونه په جدول۲،۱ جدول کې ښودل شوي دي.

د کمي او کیفي روشونو (ترتیب شوی او غیر ترتیب شوی رویشونو) تر منځ انتخاب کې باید تاسو پدې تاکید وکړئ: ستاسو د تفتیش (پلټنې) هدف، کشف، تائید، مقدار یا اندزاه، د لاسته راوړنو یا موندنو کارول، د پالیسۍ جوړول یا په پروسې پوهېدل.

د کمي او کیفي څېړنو تر منځ توپیر د پلټنې له ترتیب شوي/غیر ترتیب شوې پروسې سربیره په ځېنو ملاحظاتو هم تکیه کوي، چې په لنډ ډول په ۲،۱ جدول کې وړاندې شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه مطالعه، چې د کیفي څېړنې او مطالعې په توګه طبقه بندي شـوې که چېرې د مطالعې لومړی هدف د پدیدې د حالت، ستونزې یا پېښې تشریح کول وي او معلومات د متغیرونو د کارولو له لارې راټول شـوي وي؛ نو په اسـمي یا ترتیبي مقیاسـونو اندازه کېږي او کـه د پدیدې د حالت یا سـتونزې اړوند د تغیراتو رامنځته کېدلو لپاره تحلیل ترسره کېږي؛ نو اړتیا نشته چې روش مشخص شي.

د کتل شوي حالت په اړه وضاحت ورکول، د پېښو تاریخي شمېر وړاندې کول، د یوې ستونزې په اړه د خلکو مختلفو نظرونو بیانول او د یوې ټولنې د شرایطو او حالاتو بیانول د کیفي څېړنې مثالونه دي.

له بلې خوا که تاسو وغواړئ د پېښـې، وضـعیت، ستونزې یا مسئلې کې توپیر اندازه کړئ او یا غواړئ د تحلیلونو د توپیر اندازه معلومه کړئ؛ نو باید معلومات د کمي متغیرونو په کارولو سـره راټول او جمتو شي. په یوه څېړنیزه مطالعه کې د کمي اړخونه مثالونه عبارت دي له: څومره خلک ځانګړې ستونزه لري؟ څومره خلک ځانګړی چلند لري؟

د ارقـامو کارول د کمي  مطالعې لازمې برخه نده، د ارقامو عمده دنده د ازمایلو په توګه اسـتعمال دی؛ ترڅو د هغو پایلو تصـدیق او رد معلوم شـي، چې تاسـو د تحلیل شـویو معلوماتو او پوهې پر اسـاس ترلاسـه کړې دي. همدا رنګه د احصـایې او ارقامو کارول له تاسو سره د شیانو په منځ کې د اړیکو په اندازه کولو، د یقیني او باوري بېلګې په وړاندې کولو او د متحولونو د اثراتو او اغېزو په جلا کولو کې هم مرسته کوي.

تاسـو ته په کلکه توګه سـپارښـتنه کېږي، چې باید ځان په بشـپړ ډول یوازې د کیفي او کمي څېړنو په برخو پورې منحصـر او قید نه کړئ. دا ریښـتیا ده، چې داسـې مسـلکونه شـتون لري، چې ځان څېړونکی پکې تنها کمي او یا کیفي برخې ته منسـوب کېږي. د مثال په توګه د بشـــر پېژندنې، تاریخ او ټولنپوهنې په څېر مســـلکونوکې کیفي څېړنې ته ډېر توجه کېږي، په داســې حال کې چې ارواپوهنه، اپیډیمولوژي، ښـوونه او روزنه، اقتصاد، عامه روغتیا او بازار موندنې د کمي څېړنې لور  ته ډېرمیلان لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هر صـــورت، دا په دې مانا نه ده، چې یو اقتصـــاد پوه یا ارواپوه باید هېڅکله کیفي روش ونه کاروي، یا دا چې بشـــري حقوق پوه هیڅکله کمي معلومات نه کاروي. په ټولنیزو علومو کې د ډېری مسلکونو لخوا دا په ډاګه شوې ده، چې دواړه ډوله څېړنې د ښې څېړنې او څېړنیزې مطالعې لپاره ګټورې او مهمې دي.

د څېړنې مســـئله (پرابلم وړاند کول) پخپله دا ټاکي، چې یاده څېړنه او مطالعه د کمي میتود په کارولو ســـره تر ســـره شـــي او که د کیفي؟ لکه څرنګه د کمي او کیفي میتودونه دواړه په ځان کې د قوت او ضعت اړخونه او ګټې او زیانونه لري؛ نو ویلی شو، چې یو میتود هم په ټولو برخو کې له بل څخه غوره نه دی(اکرویډ او هیکر ۱۹۹۲:۳۰).

په هغو معلوماتو کې د تغییر اندازه کول او تحلیل، چې په تحقیق کې په نظر کې نیول کیږي د مطالعې په هدف پورې اړه لري. په ډېری مطالعاتو کې تاســو اړتیا یاســت، چې د دقیقو او کره معلوماتو د ترلاســه کولو لپاره دواړه (کیفي او کمي) لیدونه ســره یو ځـاي کړئ. د مثـال پـه توګـه فرض کړئ، چې تـاســـو غواړئ په ښـــار کې د کورني تـاوتریخوالي د قربـانیـانو اندازه او ددوي لپاره د خدماتو ډولونه او د کارولو څرنګوالی ومومئ.

د خـدمـاتو ډولونـه د مطـالعې کیفي اړخ دی؛ ځکـه چې د دوی په اړه موندل د خدماتو څرنګوالی توضـــیح کوي. د خدماتو د کارونې حد کمي اړخ دی؛ ځکه چې په دې کې د خلکو شـمېر اټکل کول شامل دي څوک چې خدمات وړاندې کوي او یا دا چې څوک او څه ډول متضرره دي او څه ته اړتیا لري؟ نو دا بیا کیفیت څرګندوي.

## د څېړنې پارادایمونه یا نمونې

دوه عمده پارادایمونه شـــتون لري، چې په ټولنیزو علومو کې د تحقیق اســـاس جوړوي. ددې موضـــوع په جزیاتو باندې بحث د یاد فصـــل د حوصـــلې څخه بهر دی. هغه مهمه پوښـــتنه چې دا دواړه ډوله پارادایمونه یو له بله بېلوي هغه دا ده، چې آیا د فزیکي علومو میتودولوژي کولی شو د ټولنیزو پدیدو د مطالعې لپاره هم وکاروو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه پارادایم چې په فزیکي علومو کې ریښه لري د سیستماتیک، علمي یا اثباتي لید په نوم یادېږي مخالف پارادایم یا نمونه د کیفي، توکم پوهنیز، ایکولوژیکي او چاپیریالي یا طبیعي لید په توګه پېژندل شوی دی. د دواړو مخالفو اړخونه مدافعانو هر یو د ټولنیزو پدیدو د درک په موخه د بل لور په مقابل کې خپلو ارزښتونو، اصطلاحاتو، میتودونو او تخنیکونو ته پراختیا ورکړېده.

په هر صورت د ۱۹۶۰ لسیزې د نیمایي راهیسې دې باور پراختیا ومونده، چې دواړه پاراډایمونه ځانګړی مقام لري. هغه هدف چې یوه څېړنه د هغې لپاره ترسره کېږي هغه دا دی، چې باید څېړنې شکل او په نتیجه کې پاراډایم هم وټاکل شي. په بې تفاوته توګه د څېړنې د ټولو ستونزو د حل او معلوماتو لاسته راوړلو لپاره د یوې ځانګړې تګلارې پلې کول ممکن غلط او نامناسب ثابت شي.

یو اثباتي پاراډایم ځان په کیفي او کمي دواړه ډوله څېړنو پورې تړلی ګڼي پداسې حال کې چې یو لیکوال له یوې خوا د کیفي معلوماتو او له بل لور د کې کیفي څېړنې تر منځ توپیر ته هم قایل دی؛ ځکه چې لومړی د متغییرونو په اندازه کولو پورې محدود دی او دوهم د میتودولوژۍ پورې محدود دی.

لیکوال په دې باور دی، چې صرف نظر لدې څخه چې څېړونکی په کوم پاراډایم یا نمونې کې کار کوي یا استعمالوي، هغه باید د اړخ نیونې د مخنیوي او هم د خپل نظر د داخلولو پرته د څېړنې بهیر او د هغې د لاسته راغلو پایلو او ارزښتونو ته پابند واوسي(مداخله پکې ونکړي). همدا د معلوماتو راټولولو، تحلیل او تفسیر کې د ارزښتونو پلي کول دي چې یاد بهیر ته یې له مخې د څېړنې پروسه ویل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لومړۍ څپرکی لنډیز

ستاسو پوښتنو ته د ځوابونو د موندلو او د معلوماتو راټولولو او پر هغې دپوهېدو لپاره ډېرې لارې شتون لري، چې څېړنه هم يوه له دغولارو څخه ده. د نورو لارو سره يې توپير يې دا دی چې تحقيق يوه منظمه او چوکاټ لرونکې، برطرفه او هدف لروونکې پروسه ده او د تطبيق او عملي کېدو ډېر ځايونه لري. تاسو اړ ياست، چې د هغې مهارتونه له ځانه سره ولرئ؛ تر څو وکولی شئ يو اغېزمن پلان چمتو او مناسب خدمات وړاندې کړئ او يو اغېزمن مدير واوسئ. د يو مسلکي کس په توګه تاسو د مسلکي پوهې زياتولو او څېړنيزو مهارتونو د زده کړې مسئوليت لرئ.

د تحقيق ټوپولوژي يا نقشه له دريو زاويو څخه ليدل کېدای شي: تطبيق (عملي)، اهداف او استعلامي پوښتنو پروسه. د څېړنې د تطبيق ساحې ته په پام سره عملي او خالصه څېړنه شتون لري، چې په ټولنيزو علومو کې ډېری څېړنې د ياد شکل له مخې پلي کيږي، چې د موندنو يا د پېښې/ مسئلې درک کولو لپاره يا په برنامې او حالت کې د بدلون راوستلو لپاره ډيزاين شوې وي. خالصه څېړنه په طبيعت کې يو ډول علمي څېړنه ده او د پېښو په اړه د پوهې د ترلاسه کولو لپاره ترسره کيږي؛ ممکن په نږدې راتلونکي کې تطبيق ولري يا نه.

يوه څېړنه کولی شي د څلورو موخو د ترلاسه کولو لپاره ترسره شي: د وضيعت تشريح کول يا د يوې پديدې تشريح کول يا د يوې ستونزې او مسئلې واضح کول او څرګندول (تشريحي څېړنه)، د دوه يا ډېرو متغييرونو تر منځ د اړيکو رامنځته کول يا څرګندول (ارتباطي څېړنه) دا چې ولې ځينې پېښې د ځينو نورو پشان په عين شکل او بڼه پېښيږي علت يې څه دی؟ (توضيحي څېړنه). او د مطالعې ترسره کولو يا د يوې داسې ساحې د معلومولو شونتيا ازمايلو لپاره چېرې، چې هېڅ شی يا لږ څه هم نه پېژندل کيږي (اکتشافي څېړنه).

د پلټنې د وضيعت (استعلامي طرز) له نظره دوه ډوله څېړنيزې تګلارې شتون لري: کمي (ترتيب لرونکی روش) او کيفي (غير ترتيب لرونکی روش).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کیفي مطالعې اصلي موخه په یو واقعیت، وضعیت یا چلند کې د انعطاف وړ یا نرمښــــت منونکي چلند د توپیر او تنوع تشـــریح کول دي؛ ترڅو د امکان تر بریده دغه توپیر او رنګارنګي وپېژندل شي، په داسې حال کې چې کمي څېړنه ستاسو سره په اندازه کولو کې مرسته کوي. ډېری باورونه شتون لري، چې د ټولنیزو پوښتنو د جواب موندلو لپاره د ګډ روش له استعمال څخه کلک ملاتړ کوي. دا دوه نمونې په ټولنیزو علومو کې د څېړنې اساس جوړوي. دا ممکن تاسو سره ستاسو د څېړنې د پلي کېدو په برخه کې د ارزښــــتونو، اصـــطلاحاتو، میتودونهو او تخنیکونه په کارولو کې مرســـته وکړي او دا د څېړنې هدف دی، چې باید د پلټنې وضعیت وټاکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د دې لپاره چې تاسو پرې فکر وکړئ**

د دې څپرکی په پیل کې د لیست شویو کلیدي کلمو سره یو ځل بیا ځان اشنا کړئ او که تاسو ددې مانا یا استعمال په اړه نه پوهیږي؛ نو بیا یې په څپرکي کې وګورئ.

په پام کې ونیسئ، چې تاسو به د خدماتو چمتو کوونکي په توګه د دوي باور باندې څنګه ورزیاتوئ، چې د شواهدو پر اساس څېړنه دوی ته ګټه رسوي.

دوه یا درې د څېړنې پوښتنې وپېژنئ، چې ستاسو په خپل علمي ډګر یا مسلکي ساحې پورې اړه لري، چې لاندې هر ډول څېړنو په ترسره کول سره ځواب کېدای شي:

الف - تشریحي څېړنه

ب - ارتباطي څېړنه

ج - توضیحي څېړنه

د –تحقیقي یا د نوې معلوماتو یا د نوې ساحې معلومولو څېړنه

– د څېړنې دوو پاراډیمونو پورې اړوند یوه مسئله په پام کې ونیسئ، چې څرنګه د څېړنې دواړه تګلارې (ازاده او محدوده) ستاسو په مسلکي ساحه کې د عمل ښه کولو لپاره پلي کېدای شي. په دقیقه توګه د څېړنې دواړه فلسفې پاراډایمو وڅېړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوهم څپرکی

## د څېړنې پروسې ته یو ځغلنده نظر

پدې فصل کې به تاسو د لاندې مواردو سره اشنايي ترلاسه کړئ.

- د څېړنې د ترسره کولو لپاره اته مرحله ایز موډل
- لومړۍ برخه: پدې اړه تصمیم نیونه چې د څه په اړه تحقیق کیږي.

- لومړۍ مرحله: د تحقیق د مسئلې قالب بندي یانې چوکاټ کې اچول.
- دوهمه برخه: د یوې تحقیقي مطالعې برنامه ریزي.
- دوهمه مرحله: د تحقیقي طرحې مفهوم سازي یا ډیزان ترتیبول.
- دریمه مرحله: د معلوماتو راټولولو لپاره د وسایلو او تګلارې رامنځته کول.
- څلورمه مرحله: د نمونې ټاکل.
- پنځمه مرحله: د تحقیق لپاره د وړاندیز لیکل.
- دریمه برخه : د څېړنیزې مطالعې ترسره کول.
- شپږمه مرحله: د معلوماتو راټولول
- اوومه مرحله: د ډیټا(د خامو معلوماتو) پروسس کول او څرګندول
- اتمه مرحله : د تحقیق راپور لیکل

### کلیدي ټکي

معلومات، د معلوماتو څرګندونه، د معلوماتو پروسس کول، تجربه کول، فرضیې، د مرکې برنامه، غیر احتمالي نمونه، لومړني معلومات، احتمالي نمونه، کیفي څېړنه، پوښتنلیک، عقل ګرايي، باور، د څېړنې ډیزاین، د تحقیق وسایل، د څېړنې موخې، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



څېړنې مســـئله، د څېړنې پروپوزل، نمونه، د نمونې اندازه، د نمونې ډیزاین کول، ثانوي معلومات، د مطالعې ډیزاین، غیر منظمه مرکه، اعتبار، متغیرونه.

که چېرته د علم او تجربې خاوندان او پوهه خلك د خپلې علمي پوهې څخه په ګټه اخیستنې نړیوالو ته په غیر تخنیکي اصطلاحاتو یا ساده قالبونو کې د انتقادي تفکر له لارې د خپل ترسره شوي کار هغه نتایج او ټګلارې وښایي، چې پرته د خپلو غرایزو د دخالت څخه یې ترسره کړي دي؛ نو دا به ډېره ګټوره، جالبه او د توقعاتو سره برابره وي.

## د څېړنیزې پروسې اته مرحله اییز ماډل

د څېړنې اته مرحله ایز ماډل د یو مرستندویه موضـوع په توګه په مختلیفو لارو او طریقو د پوهنتونونو په مختلیفو سـطحو او رشــتو کې د هغو اشــخاصــو له لورې چې د تحقیق مختلیفو پارادایمونو (نمونو) ته ژمن دي تدریس کیږي، د لیکوال په باور د تحقیق پراخه استعمال سره مشابه دی.

دا ډول نظرونه د فیسـټنګر او کاټز لخوا هم څرګند شوي چې د رفتاري علومو د تحقیق میتودونو د کتاب په سریزه کې وایي: اګر چې د علمي میتودولوژۍ اساسي منطق په ټولو برخو کې یو شان دی؛ خو د هغه مشخص تخنیکونه او طریقې به یې توپیر ولري چې د موضوع په حدودو پورې اړه ولري.(VI: ۱۹۶۶)

له همدې امله دلته رامنځته شوی ماډل په اصل کې عمومي ماهیت لري او کولی شي د ټولنیزو علومو په ډېرو رشـتو کې پلې شي. د ا د یوڅېړنیز تحقیق لپاره عملي او قدم په قدم ټګلارې اساس دی، چې هره مرحله د ټګلارو، موډلونو او کړنلارو مجموعه تشکیلوي.

فرض کړئ تاسـو غواړئ، چې د موټر چلولو لپاره بهرته لاړ شئ، مخکې له دې، چې تاســـو د موټر په چلولو پیل وکړئ، تاســـو باید پریکړه وکړی، چې تاســـو چېرته غواړی، چې لاړ شـی او بیا کومه لار انتخابوئ. که تاسو لاره پېژنی؛ نو تاسو اړتیا نه لرئ چې د سړك لارښود ته مراجعه وکړی؛ مګر که تاسو لار ونه وپېژنئ؛ نوتاسو یاست چې یو لارښــود وکاروئ او که له یوې څخه ډېرې لارې شــتون ولري؛ نو ســتاســو مشــکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



سختېږي، تاسو اړتیا لرئ پریکړه وکړئ، چې کوم یوه باندې لاړ شي. د څېړنې پروسه د سفر ترسره کولو پروسې ته ډېره ورته ده.

ستاسو د انګېزې پشان، د یو تحقیقاتي سفر لپاره هم دوه مهمي پریکړې شتون لري. لومړی دا چې تاسو بایدتصمیم ونیسئ چې تاسو د څه په اړه غواړئ، چې پوهه شئ یا په بل عبارت د کومې څېړنیزې پوښتنې لپاره تاسو غواړئ ځوابونه ومومئ. د څېړنېزو پوښتنو یا د تحقیق ستونزو په اړه د تصمیم نیولو وروسته تاسو بایددا تصمیم ونیسئ، چې د هغو د جوابونو په لټه کې شئ.

ستاسو د څېړنیزو پوښتنو لپاره د جوابونو د موندولو مسیر او ټګلوری ستاسو لپاره یوه نوې ټګلاره ده هماغه ډول، چې موخې ته د رسېدو په موخه په سفر کې بېلابېلې مرحلې شتون لري. همدا ډول علمي مراحل هم شتون لري، چې د علمي څېړنیز سفر په ترڅ کې ترې بایدعبور وکړئ؛ ترڅو د خپلو تحقیقاتي پوښتنو لپاره ځوابونه پیدا کړئ.




۲-۱ – شکل: د څېړنې بهیر- هر یوه مرحله یې درک کړئ او د خپل څېړنې بهیر لپاره مناسب میتودونه او کړنلارې انتخاب کړئ.

ددې مراحلو ترتیب او سلسله مراتب ثابت ندي کولی شو د تجربې په اساس ورته تغییر ورکړو، د تحقیق د بهیر په هره عملیاتي مرحله کې باید د د تحقیق بیلابېلو ټګلارو، موډلونه او رویو په منځ کې داسې یوه غوره او انتخاب کړئ، چې ستاسو سره اهدافو ته په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه شکل سره په رسېدو کې مرسته وکړي. همدا ځاي دی، چې له مخې یې ستاسو علمي پوهه د څېړنو د تګلارو په ټاکنه کې مهم رول ترســـره کوي، ددې څپرکي موخه د هغې پوهې وړاندې کول دي، چې په اســـاس به یې تاســـو وکولی شـــئ د تحقیق لپاره بهترین او مناســـب رویشـــونه او تګلارې انتخاب کړئ، په دغه څپرکي کې د قوت نقطه د هغو مراحلو نظري زده کړه ده چې تاسو یې باید د تحقیق په پروسه کې طی کړئ.

په دې څپرکې کې د موجودې هرې عملیاتي مرحلې په برخه کې د لیکوال لخوا هڅه شـوې ده؛ ترڅو د یادې مرحلې د زده کړې موخې او په کیفي او کمي دواړه ډوله څېړنو کې د هغې استعمال شوې تګلارې او رویې اګر چې کمي برخه یې یو څه درنده برېښنـــي واضـــح کړي، دا چې د تحقیق د بهیر د دواړه ډوله څېړنو فلســـفې او تر ډېره تګلارې، موډلونـه او رویې یو ډول دي مګر بیـا هم کمي او کیفي څېړنې د معلومـاتو د راټولولو د تګلارو، د معلوماتو د تحلیل او تجزیې لپاره په نظر کې نیول شـــوې طریقو او د لاسته راوړنو تر منځ د اړیکو بڼه او سبک یې سره توپیر لري. د مثال په ډول.

که ســتاســو د تحقیق مســئله او ســتونزه داســې وي، چې د تحقیق په جریان کې کیفي څېړنیزه بڼه خپله کړي؛ نو په ډېر احتمال ســـره چې د مصـــاحبې یا مشـــاهدې د تګلارې د کارولو په اساس پرته له کوم ترتیبه د معلوماتو په راټولولو پیل کوئ، په کیفې څېړنو کې د مضامینو او موضوعاتو پېژندل او توصیف او د هغو معلوماتو تحلیل او تجزیه چې مصاحبو او مشاهدو په اوږدو کې مو ترلاسه کړي دي، په ځاي ددې، چې خپل یاد لاس تـه راغلي معلومات د آماري یا احصـــائیوي تګلارو په چوکاټ کې ځاي په ځاي کړئ دلته په کیفي څېړنو کې تحلیل او تجزیه کوئ د دوهم فصـل لومړی شکل (۲-۱) د کمي او کیفې څېړنو توپیرونه خلاصه او واضح کوي.

لـه هغـه ځـایـه، چې د تحقیق د بهیر د مراحلو تعـداد، تګلارې او کړنلارې د کمي او کیفي څېړنو تر مینځ پـه تفکیـک پـه نظر کې نیولو پورې اړه لري؛ مګر بیا هم د دې کتاب په څپرکیو کې دغه توپیر تر ډېره په نظر کې نیول شـــوی دی ولې لیکوال هڅه کړېده، چې دغه توپیر ټیټې کچې ته راورسوي؛ ځکه دا موډل په دواړه ډوله څېړنو کې د استفادې وړ دی. تاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بـايـد فکر ولرئ، چې دا کتـاب د هغه چا لپاره دی چې تازه يې په څېړنو پيل کړی وي ولې په پراخه او عام ډول د هرې تګلارې، موډل او کړنلارې څخه استفاده په بر کې نه نيسي.

ســـربېره پر دې ليکوال هڅه کړېده، چې کمي تحقيقاتو اړوند تګلارې، موډلونه او کړنلارې د کيفي تحقيقاتو پورې د اړوند تګلارو، موډلونو او کړنلارو سره په مقايسې لا ښـه واضـح او روښـانه کړي،که د امکان په صـورت کې غواړئ د تګلارو يا د هرې يوې څېړنې اړوند تګلارو په اړه ژوره پوهه يا زيات معلومات ترلاســـه کړئ؛ نو کولی شئ نورو هغو منابعو او ماخذونو ته مراجعه وکړئ، چې ددې کتاب په متن او اخځليکونو برخه کې ترې يادونه شوې ده.

جدول ۱،۲ د کمي او کيفي څېړنو تر منځ توپير

| د دې دواړو ترمنځ توپیر: | کمي څېړنه | کیفي څېړنه |
| --- | --- | --- |
| دا فلسفه(پوهه) پنځوي | عقلي 'دا چې انسانان د عقل د ورتيا له امله پوهه ترلاسه کوي' (برنارډ 1994: 2) | تجربوي 'يوازې هغه پوهه ترلاسه کوي چې انسانان د حسي تجربو څخه ترلاسه کوي' (برنارډ 1994: 2) |
| د پلټنې روش | جوړشوي/سخت/د وړاندې څخه ټاکل شوي ميتودولوژي | غير ساختماني/انعطاف منونکي/خلاص ميتودولوژي |
| د پلټنې عمده مقصد | په يوه پېښه، وضعيت، مسئله، او نورکې د توپير کچه ندازه کول | په يوه پديده، وضعيت، مسئله، او نورکې د توپير تشريح کول |
| د متغيرونو اندازه کول | د اندازه کولو يا د متغيرونو طبقه بندي په څېړونو کې تاکيد کوي | د متغير تشريح باندې ټينګار |
| د نمونې اندازه | د نمونې په پراخه اندازه تاکيد کوي | لوې قطبي |
| د پلټنې تمرکز | د پوښتنو د کچې له مخې تمرکز کموي مګر د ډېرو ځواب ورکوونکو څخه اړين معلومات راټولوي | ډېرې مسئلې احاطه کوي، مګر د لږ ځواب ورکوونکو څخه اړين معلومات راټولوي |
| د څېړنې غالب ارزښت | اعتبار او واقعيت(بې ارزښته) | کره والي، مګر د ارزښت څخه پاک ادعا نه کوي |
| د څېړنې غالب موضوع | پراخوالی، پېښې، حد، د مسئلو نوعيت، نظرونه او چلند تشريح کوي؛ سيستماتيک نظم کشفوي او تيوري جوړوي | تجربې، ماناوې، مفکورې او احساسات پلټي |
| د ډاټا تحليلول | د تعدد توزيع، مقطي جدولونو يا نورو احصايوي کړنلارو ته د موضوع متغيرونه | د موضوعاتو د پېژندلو او تشريح کولو لپاره د موضوع ځوابونه، داستانونه يا مشاهده ډاټا |
| د افهام تفهيم موندنې | ترتيب يې په طبيعت کې ډېر تحليلي دی، پايلي او عقلي نتايج انځوروي، او د اړيکو شدت او ځواک ازموينه کوي | تنظيم يې په طبيعت کې ډېر توضيحي او داستاني |

(c) ketabton.com: The Digital Library





۲-۲ شکل: د څېړنې پروسه

(c) ketabton.com: The Digital Library





۲-۳- شکل: د عملیاتي مرحلو په اړه په کتاب کې فصلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوهم څپرکي دوهم شکل (۲-۲) کې وړاندیز شوی ماډل څرګندوي، چې په ویکتور کې ښودل شوي دندې هغه عملیاتي مرحلې دي، چې تاسو ورته د کمي یا کیفي مطالعاتو د ترسره کولو په بهیر کې تعقیبولو ته اړ یاست. په مستطیلونو کې ښوودل شوي موضوعات د دې مرحلو ترسره کولو لپاره اړین نظري پوهه څرګندوي او په دایرو کې ښوودل شوې کړنې د دوه مرحلو تر منځ هغه څه دي، چې تاسو اړ یاست له یوې مرحلې څخه بلې ته یې د تللو لپاره بشپړې کړئ.

د تحقیق برخې ته د نوي داخل شوي کس لپاره اړینه ده، چې د وړاندیز شوي ترتیب او مراحلو د منظم تعقیب له مخې کار وکړي، که څه هم لکه څرنګه چې دمخه هم وویل شو، که تاسو کافي تجربه لرئ؛ نو بیا تاسو اړتیا نلرئ؛ چې یاد تسلسل تعقیب کړئ. د اړتیا مطابق او یوې واقعي څېړنې د ترسره کېدو په موخه په دې کتاب کې د هرې عملیاتي مرحلې اړوند اړینه تیوریکي زده کړه هم لیکل شوې، چې ورته تسلسل او پرمختګ تعقیبوي. د لیکوال له لورې د هر څپرکي شاوخوا تیوریکي پوهې ځای په ځای کول د عملیاتي مراحلو منطقي تړاو څرګندوي.

یو ځل بیا د تحقیق پروسې ته د تازه داخل شوي کس لپاره مهمه ده، چې پورتنی شکل او ډیاګرام مطالعه کړي؛ ترڅو د عملیاتي مراحلو سره نظریاتي پوهه هم یوځای کړي او د څپرکي اړوند ټولې پروسې ته ځغلنده کتنه وکړي؛ ترڅو د خپلې مطالعې د ترسره کولو لپاره د ټولو اړینو مختلفو چارو سره اشنا شي.

## لومړۍ برخه: تصمیم نیول چې په څه باندې څېړنه وکړو؟

### لومړۍ مرحله: د څېړنیزې ستونزې او مسئلې طرحه کول

د یوې څېړنیزې ستونزې رامنځته کول د څېړنې په پروسه کې لومړی او خورا مهم ګام دی. د څېړنې ستونزه تاسو ته خپل منزل او هدف ښایي. دا په حقیقت کې ستاسو د تحقیق کتوونکو او مطالعه کوونکو ته څرګندوي چې تاسو د تحقیق کولو اراده لرئ. څومره چې ستاسې څېړنیزه ستونزه مشخص او روښانه وي ستاسو غوره ده؛ ځکه هر هغه څه، چې د څېړنې پروسې لپاره د مطالعې ډیزاین، اندازه کولو کړنلارې، د نمونې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ســتراتيژي، د تحليل چوکاټ او ســتاســو د مقالي يا راپور ليکلو ســټايل ټاکي او ترې اغېزمن کېږي هغه د همدې څېړنيزې ستونزې رامنځته کول دي.

له همدې امله تاسو بايد د څېړنې مسئله او ستونزه په کلکه توګه او پوره دقت سره وڅېړئ. د څېړنيزې ستونزې د رامنځته کولو اصلي دنده د هغه څه په اړه پريکړه کول دي، چې تاسو غواړئ د هغه په اړه معلومات ترلاسه کړئ، چې په څلورم څپرکي کې په تفصيل سره د څېړنيزې ستونزې د رامنځته کولو مختلف اړخونه ذکر شوي دي.

د ا مهمه، چې تاسو د څېړنيزې ستونزې د ټاکلو په وخت کې مالي سرچينې هم په نظر کې ونيسئ، چې پدې برخه کې ستاسو ليد، تجربه، نظري پوهه او تخصص خورا ډېره اغېزه لري. ستاسو د تحقيق اړوند مسلکونو کې بايد تاسو هم خپله تشه محسوس او درک کړئ، چې آيا تاسو خو بيا د خپلو معلوماتو او ارقامو د تحليل او تجزيې په برخه د ځينو اړينو کمپيوټري پروګرامونو د استعمال سره کومه ستونزه نلرئ او کولی شئ د خپلو معلوماتو د تجزيې او تحليل لپاره هغه په پوره اطمنان سره وکاروئ؟.

## دوهمه برخه : د يوې تحقيقي مطالعې برنامه ريزي

### دوهمه مرحله: د تحقيقي طرحې مفهوم سازي يا ډيزان ترتيبول

د مناسبو ميتودونو کارول د څېړنې خورا مهمه ځانګړتيا ده. په څېړنه کې د سيستماتيک کنترول، اعتبارساتل، دقيقه پلټنه، د هغه څه تشريح کول چې تر اوسه نه وي پېژندل شوي، د اړيکو او قضيو رامنځته کول، د ټاکل شويو شرايطو سره سم په دقيقه توګه د څېړنې د پايلو وړاندې کول، په پوهه کې د نيمګړتياوو او ورسره مخ کېدونکو ستوزو پېژندل، د مخکنيو لاسته راوړنو تائيد او خپلو تېرو غلطيو او محدوديتونو پېژندل شامل دي.

د يوې څېړنې ډيزاين دا څرګندوي، چې څه ډول خپلو څېړنيزو پوښتنو ته ځوابونه ومومئ. د څېړنې ډيزاين ستاسو د پوښتنې ځانګړي توضيحات ټاکي. د يوې څېړنې ډيزاين بايد لاندې شيان ولري: د مطالعې او څېړنې د ترسره کولو لپاره د لوژيستکي يا مالي مسايلو وضاحت، د اندازه کولو کړنلارې، د نمونې ورکولو ستراتيژي، د تحليل چوکاټ او د وخت تنظيم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسې باید د څېړنیزې طرحې او څېړنیزې مطالعې د طرحې تر منځ په اشتباه کې واقع نه شـــئ، په  یاد ولرئ، چې د څېړنیزې مطالعې طرحه د څېړنیزې طرحې یوه برخه ده، په داســې حال کې چې په څېړنیزه طرحه کې نورې برخې  هم شــاملې دي په ټوله کې څېړنیزه پروسه تشکیلوي.

د هرې پلټنې لپاره د مناســب څېړنیز ډیزاین غوره کول تاســو ته وړتیا درکوي، چې معتبرو لاســته راوړنو، معتبرو مقایســاتو او معتبرو پایلو ته ورســیږئ. د غلط څېړنیز ډیزاین د انتخـاب پـایلـه د غلطو موندنو پرته بل څه نه وي چې د مالي او بشـــري منابعو ضایع کېدل هم ورسره مل وي.

د تجربي علومو په حدودو کې د تجربو د صـــحت د پلټنې په برخه کې لومړی ټاکل شــوي څېړنیز ډیزاین ته کتنه کېږي او هغه ارزول کېږي. کله چې د څېړنې ډیزاین ټاکو؛ نو اړینه ده دا ډاډ ترلاســه کړو، چې دا ډیزاین د اعتبار او کارولو وړ او ګټور دی. اووم څپرکي کې د هغو څېړنیزو طرحو په اړه توضـــیحات وړاندې کېږي، چې په کمي او کیفي څېړنو کې تر ټولو عامې کارول کېږي.

د مطـالعې ډیزاینونـه ډېر ډولونـه لري او تـاســـو اړ یاســـت، چې د یو څو عامو ډیزاینونو سـره اشـنا شـئ. په اتم څپرکي کې ځینې ډیزاینونه تشـریح شـوي دي، تاسو د خپلې مطالعې لپاره د دې ډیزاینونو څخه داسې یو ډیزاین انتخاب کړئ، چې ســتاســو د مطالعې ســره برابر او مناســب وي. تاســو باید د ځانګړي ډیزاین د غوره کولو لپاره قوي دلایـل ولرئ؛ او بـایـد وکولی شـــئ، چې خپـل انتخاب توجیه کړئ او د هغې د قوت، ضـعف او محدودیتونو څخه هم خبر واوسـئ. سربېره پردې تاسو د وړاندیز شوي ډیزاین د پلي کولو لپاره اړینو لوژیستیکي توضیحاتو ته هم اړتیا لرئ.

**درېیمه مرحله: د معلوماتو راټولولو لپاره د وسایلو او تګلارو  رامینځته کول**

هر څه، چې ستاسو د معلوماتو د راټولولو لپاره ستاسو د مطالعې وړ ګرځي او د معلوماتو د راټولولو باعث شـي د تحقیق وسـیله یا څېړنیزه وسـیله بلل کېږي. د بېلګې په توګه د مشاهدې فورمې، د مرکې مهالویشونه، پوښتنلیکونه او د مرکې لارښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د معلومـاتو د راټولولو لپـار د وســـایلو چمتو کول د یوې څېړنې د پیـل لومړی عملي ګام دی، تاسـو باید د هر څه د مخه تصـمیم ونیسـئ، چې د خپلې وړاندیز شـوې څېړنې او مطالعې لپاره معلومات راټول کړئ؛ نو اړ یاست چې په هماغه شکل د معلوماتو د راټولولو وسایل هم چمتو کړئ. نهم څپرکی د کمي او کیفي مطالعاتو لپاره د معلوماتو د راټولولو بېلابېل میتودونه او د څېړنیزو وسایلو چمتو کولو پروسه روښانه کوي.

کـه تـاســـو اراده لرئ، چې پـه یو ځـانګړي ډول د خپلو مطالعاتو لپاره لومړني معلومات راټول کړئ؛ نو باید د تحقیق یوه وسـیله هم رامنځته کړئ یا یوه داسـې وسـیله غوره کړئ، چې د مخه جوړه شوي وي.

په لســـم څپرکي کې د مشـــاهدې معیارونو ته په کتنې د معلوماتو د راټولولو په تګلارو بحث کیږي، په یوولسم څپرکي کې بیا د څېړنیو د څېړنیزو وسایلو د کره والي او باوري والي اړوند بحث او نظریات ذکر شوی دي.

کـه تـاســـو د ثـانوي معلوماتو کارول غواړئ (هغه معلومات چې د مخه د نورو اهدافو لپاره راټول شـــوي وي)؛ نو باید وپوهیږئ، چې تاســـو کوم ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ، بیـا د هغې د راټولولو لپـاره یو ترتیب جوړ کړئ. د اړینو معلوماتو د معلومولو لپاره تاســو اړ یاســت هماغه پروســه طی کړئ، چې د لومړنیو موادو د ترلاســه کولو لپاره یې ترسره کوئ.

ســـاحوي کتنه یا د عمل څخه د مخه تجربه کول د څېړنیزو وســـایلو د ترتیبولو لپاره یوه مهمه برخه ده. د یو اساس په توګه د څېړنې وسیلې دمخه ازموینه باید ستاسو د مطالعې نفوس نمونې نه ترســره شـــي؛ مګر ورته نفوس باید تاســـو د خپلې څېړنې دمخه تجربه په هغه ســاحه کې ترســه کړئ؛ چې هلته تاســو حقیقي څېړنه نه ترســره کوئ، دا جزیات په نهم څپرکي کې ښه څېړل شوي دي.

کـه غواړئ چې د خپلو معلومـاتو د تحلیـل او تجزیې لپاره کمپیوټر وکاروئ؛ نو ممکن د کوډ ګذارۍ ته مو اړتیا پېښـه شـي چې دا په پنځلســم څپرکي کې واضح شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلورمه مرحله : د نمونې ټاکل**

ستاسو د موندنو اعتبار او کره والی تر ډېره ستاسو د نمونې د ټاکلو په روش او تګلاره پورې اړه لري. هغه نمونه چې تاسو اخیستې او هغه نمونه چې په ټولنه کې د مطالعاتو او څېړنو لپاره مروجه ده، په نمونه اخیستو کې اساسي اصل دادی، چې که د واحداتو څخه یو نسبتاً کمه اندازه په داسې ډول انتخاب شي، چې په واقعې توګه د مطالعې وړ ټولنې څخه نماینده ګي وکولی شي؛ نو کولی شي کافي اندازه په لوړ احتمال سره د نمونې اخیستو یو ریښتنی انعکاس وړاندې کړي.

کله چې د مطالعاتو او څېړنو لپاره نمونه غوره کوئ؛ نو د دوه کلیدي اهدافو ترلاسه کولو هڅه وکړئ، تاسو باید د نمونې په انتخاب او اخیستو کې د تعصب مخنیوی وکړئ او دوهم دا چې په ډېره دقیقه توګه باید درکړل شویو منابعو او سرچینو څخه د لګښت په موخه کار واخلئ.

د نمونې د انتخاب او ډیزاین لپاره درې کټګورۍ شتون لري: تصادفي یا احتمالي نمونه اي ډیزاین، غیر تصادفي یا غیر احتمالي نمونه اي ډیزاین او مخلوط نمونه اې ډیزاین.

په لومړیو دوه کټګوریو کې د نمونې اخېستې څو ستراتیژیانې شتون لري، چې تاسې باید د هر یو قوت، ضعف او هغه شرایط چې یادې تګلارې په کې پلي کېدای شي یا نشي پلي کېدای وپېژنئ؛ ترڅو ستاسو د مطالعې لپاره یو مناسب نمونوي ډیزاین وټاکئ. د نمونې اخیستو هغه ډول ستراتیژي چې تاسو یې کاروئ د مطالعې وړ ساحې او نفوس په اړه ستاسو د وړتیاو په تعمیم او د پلي کېدو وړ احصایې او ارقامو په ازمویلو مستقیم تاثیر کوي.

**پنځمه مرحله: د تحقیق لپاره د وړاندیز لیکل**

د ټولو ابتدایي کارونو د ترسره کولو روسته د تحقیقي پروپوزل لیکل هغه ګام او مرحله ده چې په هغې کې ستاسو د څېړنې په اړه د نظارت کونکي او نورو لپاره کافي معلومات سره رامنظم او راټولیږي، دا عمومي پلان چې د تحقیق پروپوزل نومیږي، یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوستونکي ته ستاسو د څېړنې ستونزې او د څېړنيز پلان څرنګوالی بيانوي، په کُلي ډول د يو څېړنيز پروپوزل اصلي دنده ستاسو د څېړنې پوښتنو ته د ځوابونو موندل دي، ددې کار په ترسره کولو سره ستاسو د پوښتنو لپاره د دقيقو او کره ځوابونو د لاسته راوړلو د روش اعتبار لوړېږي او لوستونکو ته ډاډ ورکوي.

په پوهنتونونو او نورو ادارو کې ممکن د څېړنيز پروپوزل د سټايل او مېنځپانګې د ترتيب په برخه کې شرايط سره توپير ولري؛ مګر ډېری ادارې به ډېرو هغو مواردو ته اړتيا ولري، چې دلته ترې يادونه شوېده.

ممکن دغه شرايط او اړتياوې د يوې او بلې ادارې تر منځ يا د يوې څانګې او بلې څانګې تر منځ او حتٰی د يو او بل کتونکي تر منځ هم توپير ولري، په هر صورت په ديارلسم څپرکي کې يوه اندازه لارښوونې ځای په ځای شوي دي، چې د اکثره وګړو لپاره به د منلو وړ وي.

د څېړنې وړانديز بايد تاسو ته وايي د پلټنې د نظارت کونکي او بيا کتونکي د مطالعې په اړه لاندې معلومات له ځان سره ولرئ چې.

- هغه کوم کار دی، چې تاسو يې د ترسره کولو اراده لرئ.
- څه ډول يې غواړئ، چې تر سره شي.
- ولې مو پشنهاد شوې ستراتيژي غوره کړې ده.
- تاسې څه وړانديز کوي.
- تاسې څنګه پلان کوی، چې پرمختګ وکړی.

د دې لپاره بايد يو پلټونکی هم ستاسو د مطالعې په اړه لاندې معلومات ولري (۱۳ فصل):

- د اهدافو د مطالعې بيان.
- فرضيو ليست، که تاسو د کومې يوې د ازمويلو په حال کې ياست؟
- د مطالعې ډيزاين، چې تاسو يې د استعمالولو وړانديز کوي.
- ستاسو د مطالعې ترتيب.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د څېړنې وسایل(افزار)، چې تاسو یې د کارولو پلان لري.
- د نمونې د اندازې او د پراسس کولو د کړنلارې د طرحې په اړه معلومات.
- د معلومات د تحلیل او تجزیې د تګلارو په اړه معلومات.
- د راپور لپاره د وړاندیز شوي فصلونو ګُلي طرح.
- د مطالعې ستونزې او محدودیتونه.
- وړاندیز شوی مهال ویش.

## درېیمه برخه: د څېړنیزې مطالعې ترسره کول

### شپږمه مرحله: د څېړنیزې مسئلې د فرمول بندۍ څخه وروسته د معلوماتو راټولول

د څېړنیزې ســـتونزې، د مطالعې ډیزاینولو، د څېړنیزو وســـایلو رامنځته کولو او د نمونې غوره کولو وروســـته تاســـو هغه معلومات راټول کړئ، چې له مخې یې تاســـو د خپلې مطالعې لپاره استنباط او پایلې راوباسئ.

د اړینو معلومـاتو راټولولو لپـاره ډېری میتودونـه کـارول کېدای شـــي. د څېړنې ډیزاین په برخه کې تاســو کولی شــئ هغه کړنلارې اختیار کړئ، چې تاســو د هغې له مخې غواړئ پدې مرحله کې خپل ارقام راټول کړئ. د مثال په توګه ســـتاســـو پلانونو مطابق ممکن تاسـو مرکې پیل کړئ، د پوسـټ له لارې پوښتنپاڼې ولېږئ، متمرکز فردي او ګروپي بحثونـه ترســـره کړئ یا مشـــاهده وکړئ. د هر یو میتود له لارې د معلوماتو راټولول؛ ممکن ځینې اخلاقي مسـایل ولري، کوم چې په څوارلسم فصل کې پرې بحث شوی دی.

### اوومه مرحله: د ډیټا(د خامو معلوماتو) پروسس کول او څرګندول

سـتاسـو د راټولو شویو معلوماتو تحلیل، تجزیه، او ښودل په دوه شیانو پورې اړه لري: د معلوماتو ډول (توصیفي، کمي، کیفي، نظري) او بل هغه تګلاره، چې تاسو غواړئ خپلې موندنې د هغې په واسـطه خپلو لوسـتونکو ته ورسـوئ. پنځلسـم فصـل د کمي او کیفي

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلوماتو د تحلیلولو مختلفې لارې بیانوي او شپاړسم فصل کې د تحلیل او تجزیه شویو معلوماتو د ښودلو مختلف میتودونه توضیح کوي.

د معلوماتو د تحلیل او تجزیې لپاره د کیفي او کمي توپیر سربیره ددې موضوع په ذهن کې نیول هم اړین دي، چې آیا ډاټا په لاسي ډول تجزیه شي او که د کمپیوټر لخوا.

که ستاسو مطالعه په بشپړ ډول توصیفي وي؛ نو کولی شئ خپله نتیجه ګیري یا راپور د خپلوساحوي یاداشتونو له مخې ولیکئ او د خپلو یاداښتونو محتوای یا مینځپانګه په خپل لاس تحلیل او تجزیه کړئ او یا د ددې کار لپاره د کمپیوټر ځینې برنامې وکاروئ.

که غواړئ کمي تحلیل ولرئ؛ نو اړینه ده، چې د اړتیا وړ تحلیل د نوعیت په اړه پریکړه وکړئ د بېلګې په توګه د فریکونسي توزیع، د مقطعي جدولونه یا نورو احصائیوي کړنلارو لکه د رجعت تحلیل، فاکتور تحلیل او د متغیر تحلیل او دا، چې څنګه باید ارایه شي؛ نو تاسو اړ یاست؛ ترڅو هغه متغیرات وپېژنې، چې د دې اماري تګلارې لاندې واقع کیږي.

**اتمه مرحله: د څېړنيز راپور لیکل**

د څېړنیزو راپورونود لیکلو دوه عام ډولونه شتون لري: کمي او کیفي.

لکه څرنګه، چې مخکې ترې یادونه وشوه، د دوي تر منځ توپیر کول د واقعي والي په نسبت ډېر علمي دي؛ ځکه په اکثره مطالعاتو او څېړنو کې تاسو د کمي او کیفي دواړو مهارتونو ترکیب ته اړتیا لرئ، سره لدې ځینې بشپړ کیفي او ځینې بشپړکمي مطالعات هم شتون لري.

د څېړنې په پروسه کې د وروستي راپور لیکل د ډېرو لپاره یو ستونزمن کار دی. دا راپور نړیوالو ته خبرداری ورکوي، چې تاسو کوم کارونه ترسره کړي دي، څه مو کشف کړي او د خپلو موندنو څخه مو کومې پایلې ترلاسه کړي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسو راپور باید په پوهنتوني او علمي سبک ولیکل شي، او ستاسو د مطالعې اصلي موضوعاتو ته په کتنې باید هغه په برخو او فصلونو وویشل شي، اولسم فصل د څېړنیز راپور لیکلو ځینې لارې ورانديز کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دوهم څپرکی لنډیز

پدې څپرکي کې د څېړنې بهیر ته یوه کتنه وړاندې شوې او په اته مرحلو ویشل شوېده، چې جزیات یې په څپرکي کې شـــتون لري. په هره مرحله کې د څېړنیزو تګلارو، ماډلونو، تخنیکونو او کړنلارومجموعه وړاندې کیږي؛ ترڅو وکولی شئ په هغې کې ښه او غوره د ځان لپاره انتخاب کړئ. دا پاراډایمونه د دوکان حیثیت لري، چې اته میزونه لري، په هر میز مختلیفې غذاګانې په سره ورته موادو څخه ترتیب شوې دي.

-  تاسو ټولو اتو مېزونو ته ځئ او له هغې څخه هر هغه خوراک غوره کوئ، چې تاســو ډېر خوښ وي. د څېړنیز موډل او دې مثال تر منځ اصــلي توپیر دادی، چې په نمونه کې تاسو هغه څه غوره کوئ، چې ستاسو د مطالعې لپاره خورا مناسب او ګټور وي، نه هغه څه، چې تاسو یې زیات خوښوئ.
-  د یو نوي پیلونکي لپاره اړینه ده، چې دغه ټول مراحل طی کړي، که څه هم شاید په یو ترتیب نه وي. تاسو د خپلې تجربې په اساس کولی شئ هغه ترتیب او وټاکئ. دغه اته پړاونه د یوې څېړنیزې هڅې ټولې برخې د ستونزې رامینځته کولو څخه نیولې د څېړنیز راپور لیکلو پورې تر پوښښ لاندې نیسي دا مراحل عملیاتي ماهیت لري او د یو منطقي تسلسل څخه پېروي کوي او په ساده ډول مرحله په مرحله مختلف میتودونه او کړنلارې توضیح کوي.

| |
|---|
| د دې لپاره چې تاسو پرې فکر وکړئ |
| یو ځل بیا ځان د دې څپرکی په پیل کې د لیست شوي کلیدي کلمو سره اشنا کړئ او که تاسو د دې کلمو په مانا یا استعمال نه پوهیږئ؛ نو اړینه ده، چې یاد څپرکی دوباره مطالعه کړئ. |
| د کمي او کیفي څېړنو تر منځ توپیرونو ته انعکاس ورکول (لکه څرنګه چې په ۲،۱ جدول کې ښودل شوي) او دا هم معلومه کړئ، چې تاسو د کومې تګلارې تعقیبولو سره لیوالتیا لرئ او ترکومې اندازې پورې ستاسو د لید څرنګوالی منعکسوي؟ |
| په اتم قدم موډل کې په هر مرحله کې د کمي او کیفي څېړنو تر منځ د اصلي توپیرونو لپاره په ۲،۱ جدول کې ورکړل شوي معلومات وکاروئ. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دریم څپرکی

## تېرو اثارو ته بیا کتنه

پدې څپرکي کې به تاسو د لاندې مسایلو سره اشناء شئ

-  د څېړنې میتودولوژي
-  تېرو اثارو ته بیا کتنه
-  په تحقیق کې د تېرو اثارو کتنې دندې
-  څرنګه د تېرو اثارو بیا لټون ترسره کړو
-  څرنګه انتخاب شوي ادبیاتو ته کتنه وکړو
-  څرنګه تیوریکي او نظریاتي مفکورو چوکاټ رامنځته کړو
-  څرنګه د تېرو لیکنو بیاکتنه ولیکئ

## کلیدي ټکي

کټلاګ، نظریاتي چوکاټ، مفهوم سـازی (شـرایط برابرول)، انټرنیټ، د پوهې اسـاس، د تېرو لیکنو بیاکتنه، د لټون انجنونه، د ادبیاتو لنډیز، موضوعي لیکنه، تیوریکي چوکاټ.

## په څېړنه کې د تېرو اثارو د کتنې ځای

د مطالعې او څېړنې پر مهال یو له مهمو کارونو څخه دادی، چې تاسو په یاده برخه کې لیکنو ته مراجعه وکړئ؛ ترڅو د نظر وړ برخه او ساحه کې د شته معلوماتو سره اشناء شئ.

د تېرو اثارو ته کتنه ممکن ډېر وخت ونیسـي او سـتړې کوونکې واوسـي؛ مګر ګټوره هم ده. تېرو اثارو ته کتنه د څېړنیزې پروسې اړینه برخه ده او تقریباً په هره مرحله کې له تاسو سره د پام وړ مرسته کولی شي. دا چاره باید حتٰی د لومړۍ مرحلې څخه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مخه هغه مهال ترسره شي، چې تاسو صرف د څېړنیزې پوښتنې په اړه فکر کوئ او غواړئ د یو څېړنیز سفر له لارې یې ځوابونه تر لاسه کړئ.

د څېړنې په لومړیو مراحلو کې دا له تاسو سره ستاسو د مطالعې د نظریاتي ریښو په رامنځته کولو کې مرسته کوي؛ ترڅو خپل نظرونه روښانه او د خپل تحقیق تګلارې مخ په وړاندې یوسئ. په دې پروسه کې تېرو اثارو ته کتنه تاسو سره د پوهې په وده، انسجام د موجوده معلوماتو سره ستاستو د لاسته راوړنو په مقایسه کولو هم هم مرسته کوي.

دا چې په څېړنه کې مهم مسؤلیت له نورو سره د خپلو موندنو پرتله کول دي؛ نو په همدې اساس تېرو اثارو ته کتنه په یاده برخه کې ډېر رول لوبوي. د راپور لیکلو په جریان کې هم له ستاسو سره مرسته کوي؛ ترڅو خپلې لاسته راوړنې له موجودو معلوماتو سره یوځای کړئ، چې په حقیقت کې دا د مخکنیو معلوماتو یو ډول تائید یا رد دی. ددې لپاره چې ستاسو د علمي څېړنو د اعتبار درجه لوړه وي؛ نو مهمه ده، چې د موجوده لیکنو سره ستاسو د څېړنې پایلې هم بشپړ توپیر ولري او دا تېرو اثارو ته د کتنې څخه ممکنیږي.

په لنډه توګه د تېرو اثارو بیا کتنه لاندې دندې لري: تېرو اثارو ته کتنه ستاسو د څېړنې نظري او تیوریکي شالید روښانه کوي.

له تاسو سره د مخکنیو څېړنو او هغه څه ترمنځ د اړیکو په ایجاد کې مرسته کوي، چې تاسو یې د څېړنو هوډ لرئ او غواړئ، چې هغه وڅېړئ.

له تاسو سره ستاسو د مسلکي پوهې د څرګندولو، ستاسو د لاسته رواړنو د اعتبار پـه لوړولو، د تېرو څېړنو سره یې د توپیر په څرګندولو او د اوسنۍ څېړنې د اړتیا په روښانه کولو کې مرسته کوي؛ نو په لنډ ډول ویلی شو چې تېرو اثارو ته کتنه له تاسو سره په څلورو برخو کې مرسته کولی شي.

څېړنیزې ستونزې ته د توجه راجلبول او روښانه کول.

د څېړنیزې تګلارې او میتودولوژۍ غوره کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د څېړنې په ساحه کې ګونګو او ناحلو برخو ته ستاسو پام اړول او ستاسو د پوهې زیاتوالی.

د خپلو لاسته راوړنو مشخص کول چې دا واقعاً زما لاسته راوړنې دي.

**لومړی : څېړنیزې ستونزې ته د توجه راجلبول او روښانه کول**

د تېرو اثارو په کتنه کې یو تناقض شامل دی، هغه دا چې له یوې خوا د نظر وړ ستونزې په نظر کې نیولو پرته نشــئ کولی په اغېزمنه توګه تېرو آثارو ته کتنه وکړئ؛ مګر له بل پلوه تېرو اثارو ته کتنه کولی شي ستاسو د څېړنیزې ستونزې په تشخیص او رامنځته کولو کې له تاسو سره مرسته وکړي؛ ترڅو د موضوع اړوند ساحه ښه وپېژنی او خپله څېړنیزه ستونزه په روښانه او دقیقه توګه تصویر او نوره هم راوسپړئ.

کله چې تاسو د خپلې څېړنیزې پوښتنې ساحې اړوند ادبیاتو ته کتنه کوئ، تاسو ته معلومېږي، چې ستاسو د موضوع اړوند کوم اړخونه د نورو لخوا څېړل شوي دي، دوی د دې اړخونو په اړه څه موندلي، کومې خلاګانې یې په ګوته کړې او د نورو تحقیقاتو لپاره یې کوم وړاندیزونه کړي دي. دا ټول تاسو سره مرسته وکړي؛ ترڅو د خپلو تحقیقي پوښتنو لپاره پراخه لید ترلاسه کړئ او تاسو توجو به د هغې برخې مطالعې او څېړنې ته متمرکزه کړي چېرې، چې تاسو تېرو اثارو ته په کتنه کې هلته علمي خلاګانې موندلې دي.

**دوهم : د څېړنیزې تګلارې او میتودولوژۍ غوره کول.**

تېرو اثارو ته د کتنې له لارې تاسو د ټولو هغو میتودنو سره اشنا کېږئ، چې د نورو لخوا خپلو څېړنیزو پوښتنو ته د ځوابونو موندلو لپاره کارول شوي او تاسو یې باید هم وڅېړئ. د تېرو اثارو بیا کتنه تاسو امر کوي، چې که چېرې نورو هم هغو کړنلارو ته ورته کړنلارې او میتودونه کارولي وي، چې تاسو یې وړاندیز کوئ؛ نو کومې کړنلارې او میتودونه د دوی لپاره ګټور ثابت شوي دي او پدې برخه کې دوی له کومو ستونزو سره مخ شوي دي؟ چې په یادو مسایلو له پوهېدو وروسته به تاسو وکولی شئ، چې د خپلې څېړنې لپاره داسې یوه میتودولوژي غوره کړئ، چې ستاسو څېړنیزو پوښتنو ته د معتبرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوابونو د چمتو کولو وړتیا ولري او دا به په هغه میتود باندې ستاسو باور لا ډېر کړي، چې تاسو یې د کارولو پلان لرئ او تاسو به چمتو کړئ، چې د خپلې ټګلارې د کارولو څخه دفاع وکړئ.

**درییم: د څېړنې په ساحه کې ګونګو او ناحلو برخو ته ستاسو پام اړول او ستاسو د پوهې زیاتوالی**

تېرو اثارو ته د کتنې تر ټولو مهمه دنده او ګټه دا ده، چې تاسو ته په هغه ساحه او برخه کې یو ډول ډاډ درکوي، چېرته، چې تاسو د څېړنې د سرته رسولو اراده لرئ. دا ډېره اړینه ده، چې تاسو باید پوهه شئ، چې د ورته یا مشابه پوښتنو په ځواب کې نورو څېړونکو څه موندلي، کومې تیورۍ یې وړاندې کړي دي او د پوهې په یاده برخه کې لا هم کومې خلاوې شتون لري؟.

کله چې تاسو د لوړې درجې لکه M.A یا Ph.D. لپاره د څېړنې پروژه پر مخ وړئ؛ نو تاسو باید د خپلې څېړنې په ساحه کې کافي مهارت ولرئ، چې تېرو اثارو ته بشپړه کتنه ستاسو سره د دې موخې په ترلاسه کولو کې مرسته کوي. د تېرو اثارو د کتنې یو بله ګټه او د ښه والي دلیل دادی، چې تاسو په یاده برخه د موجودو معلوماتو لوړې نقطې ته رسوي، چې باید له هغه ورسته څېړنه وکړئ.(مارتین ۱۹۸۵:۳۰)

**څلورم: خپلو لاسته راوړنو مشخص کول چې دا واقعاً زما لاسته راوړنې دي.**

- تېرو آثارو ته کتنه تاسو ته وړتیا درکوي؛ ترڅو وکولی شئ خپلې موندنې او لاسته راوړنې په یو قالب او چوکاټ کې ځای په ځای کړئ.
- تاسو ته وړتیا درکوي؛ ترڅو خپلې موندنې مشخصې کړئ.
- تاسو ته وړتیا درکوي؛ ترڅو خپلې موندنې په شرایطو برابرې کړئ.
- ستاسو د څېړنې اړوند پوښتنو ته د ځوابونو ترلاسه کول اسانه کوي:
- ددې لارې ستاسو د څېړنې ستونزمنه برخه په ښه کېږي.
- او دا اطمنان درکوي، چې خپلې موندنې د پوهې په موجوده برخه کې څرنګه ځای په ځای کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ستاسو د څېړنيزو پوښتنو ځوابونه د هغه څه سره پرتله کوي، چې نورو څېړونکو موندلي دي؟
- تاسو ته ښايي چې د پوهې په موجوده برخې کې کومې ورتياوې ترلاسه کولی شئ؟
- تاسو ته څرګندوي، چې ستاسو موندنې د نورو له موندنو سره څه توپير لري؟
- او بلاخره د تېرو آثارو کتنه به تاسې ته دا ورتيا درکړي، چې خپلې موندنې د نورو څېړونکو له موندنو يا لاسته راوړنو سره پرتله کړئ او دا هم مهمه ده؛ ترڅو هغه ساحه او شرايط هم په خپله پلټنه او څېړنه کې ذکر کړئ، چې تاسو پکې خپلو پوښتنو ته ځوابونه موندلي دي.

## څرنګه تېرو اثارو بيا کتنه وکړو؟

که تاسو د څېړنې لپاره مشخصه او ځانګړې مسئله او ستونزه نه لري؛ نو تاسو بايد د خپلې خوښې ور ساحه کې څېړنيز راپورونه او ليکنې وګورئ او په تدريجي توګه ترې د يوې مجهولې موضوع په اړه معلومات تر لاسه کړئ، چې کومه برخه پکې نيمګړی ده، بيا د خپل نظر ور ستونزې په اړه تېر اثار بيا وګورئ او په خپله څېړنيزه ستونزه تمرکز وکړئ. ولې پداسې حال کې تېرو اثارو ته کتنه يو څه ستونزمنه هم وي؛ څکه هلته دقيقه او مشخصه موضوع شتون نلري؛ مګر کولی شي ستا فکر او ميتودولوژي مشخصه کړي تر څو تاسو د دغې څېړنيزې ستونزې د حل په موخه دغه تګلاره وکاروئ. نو د خپلې څېړنيزې ستونزې په اړه د پراخه معلوماتو په موخه تېرو اثارو ته له کتنې د مخه بايد تاسو د خپلې څېړنيزې ستونزې په اړه دقيق فکر او پراخه هڅه وکړئ.

د پخوانيو اثارو ته په بيا کتنه کې څلور مراحل شامل دي.

١ . ستاسو د مطالعې په بخش کې د موجوده اثارو لټون کول
٢ . د ټاکل شوي پخوانيو اثارو کتنه
٣ . د تيوريکي چوکاټ رامنځته کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



٤ . د نظریاتي چوکاټ رامنځته کول

د دې چارو د ترسره کولو لپاره اړین مهارتونه سره توپیر لري او د لومړیو دوه چارو په پرتله وروستۍ دوه چارې یانې د تیوریکي او نظریاتي چوکاټونو رامنځته کول یو څه ستونزمن دي.

## د موجوده تېرو اثارو لټون

ستاسو د پلټنې په ساحه کې د تېرو اثارو د ګټور لټون لپاره اړینه ده، چې تاسو لږ تر لږه د هغې ستونزې اړه، چې تاسو یې روښانول او په اړه څېړنه کول غواړئ یو څه نظر ولرئ تر څو ستاسو د لټون لپاره پیرامیټرونه برابر کړي او تر څنګ یې د دې چارې لپاره یوه ببلوګرافي یا لنډه معرفي هم چمتو کړئ. دلته درې سرچینې شتون لري، چې تاسو کولی شئ د ببلوګرافي د چمتو کولو لپاره یې وکاروئ.

الف – کتابونه

ب – ژورنالونه

ج – انټرنیت

که څه هم د کتاب فهرست او معرفي د کتابونو مرکزي برخه ده؛ مګر یو څه زیانونه او ګټې هم لري، ګټه یې دا ده، چې په کتابونو کې خپاره شوي معلومات معمولاً مهم او د ښه کیفیت لرونکي وي او موندنې پکې د نورو څېړنو سره یو ځای شوې وي ترڅو د پوهې یوه قوي برخه رامینځته کړي(مارټین، ۱۹۸۵:۳۳). خو زیان یې دا دی، چې مواد په بشپړ ډول تازه او نوي نه دي؛ ځکه ممکن دا چاره د کار د بشپړیدو او د کتاب په بڼه د خپرېدو تر منځ څو کلونه وخت هم ونیسي.

د کتاب د لټون لپاره غوره لاره ستاسو د کتابتون کتلاګونه کتل دي. کله چې کتابتونونو کې یو کتابدار یوکتاب فهرست کوي دوی هم ورته موضوع او سرلیکونه ټاکي چې معمولا د کتابتون ترتیب د سرلیکونو یا عناوینو پر اساس وي. که تاسو ډاډه نه یاست، له

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل کتابدار(لايبريرى والا) څخه غوښتنه وکړئ، چې تاسو سره د غوره موضوع او سرليک په موندلو کې مرسته وکړي. دا ستاسو وخت د ضايع کېدو څخه ژغورلى شي.

خپرونې لکه د کتاب بيا کتنې انډيکس هم کولى شي ستاسو د علاقي وړ کتابونو په موندلو کې له تاسو سره مرسته وکړي. په کتابونو کې د خپلې خوښې وړ کتابونو او موضوع د لټون پيدا کولو لپاره د موضوعاتو ليست يا کليدي ټکي وګورئ او د مناسبو کلمو په ټاکلو سره د موضوع ساحه رامحدوده کړئ.

دا سرليکونه په غور سره وګورئ او هغه کتابونه وپلټئ، چې تاسو فکر کوئ ممکن ستاسو لپاره ګټور وي او هغه سرليکونه، چې ستاسو د موضوع لپاره مناسب دي؛ نو که د چاپ اسانتيا شتون لري هغه چاپ کړئ او يا يې په کاغذ کې له ځانه سره ياداشت کړئ؛ ځکه چې دا به ستاسو د وخت ضايع کېدو مخه ونيسي او دا هم په ياد ولرئ، چې ځينې وختونه سرليکونه کافي وضاحت نلري او داخل معلومات نشي څرګندولى؛ نو که مو وخت درلود او ياد درته ګټور ثابت شو هڅه وکړئ متن هم لږ وګورئ.

کله چې تاسوله لسو څخه تر پنځلسو هغه کتابونه غوره کړل، چې ستاسو په فکر ستاسو د موضوع لپاره مناسب دي، د هر يوه کتاب پېژندنې او فهرست برخه دقيق وګورئ يا ترې عکسونه واخلئ او کاپي يې کړئ؛ ترڅو وخت مو هم ضايع نشي. که چېرې يو کتاب د ډېرو ليکوالانو لخوا ليکل شوى وي؛ نو تاسو بايد دا د خپلې هغه مطالعې ليست کې شامل کړئ، چې لوستل يې اړين بولئ. د ليست د ترتيب کېدو وروسته ياد کتابونه په خپل کتابتون کې وګورئ او که نه وي؛ نو له نورو ځايونو يې د امانت په ډول يا د پور په ډول واخلئ. منځپانګې يې دوه ځله چيک کړئ؛ ترڅو پوهه شئ چې آيا دا کتابونه واقعاً ستاسو په موضوع پورې تړاو لري او که نه؟ که چېرې کوم يو کتاب ستاسو په تحقيق پورې اړه نلري؛ نو د خپلې مطالعې له ليست څخه يې حذف کړئ او هغه کتاب چې ستاسو د موضوع په اړه په محتواى کې يو څه لري؛ نو هغه تعقيب کړئ. ددې کار لپاره کولى شئ د کمپيوټر يوه برنامه لکه انډ نوټس پرسايټ هم وکاروئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژورنالونه**

تاسو اړ یاست؛ ترڅو د خپلې څېړنیزې ساحې اړوند ژورنالونو ته هم مراجعه وکړئ؛ ځکه ژورنالونه تاسو ته په یاده برخه کې تازه او نوي معلومات وړاندې کوي، دا چې د څېړنیزې پروژې د تکمیل او په ژورنال کې یې د خپرولو تر منځ ډېری وختونه له دوه څخه تر دریو کلونو پورې زماني واټن شتون لري، څو ځینې بخشونه د ځینو نورو په پرتله ډېر ژورنالونه لري؛ نو تاسو اړ یاست، چې د کتابونو په څېر د هغه ژورنالونو لیست چمتو کړئ، چې تاسو غواړئ د مطالعې اړوند تېرو اثارو ته د کتنې لپاره یې وګورئ، چې یاده چاره د ترسره کېدو لپاره یو شمېر لارې چارې لري.

تاسو کولای شئ.

- کوم ژورنالونه، چې ستاسو د مطالعې او څېړنې سره مناسب وي د هغوي هارډ کاپي ومومئ.
- د ورته مقالو د لنډيز پېژندلو او یا لوستلو لپاره د اقتباس یا تجرید شاخصونو ته مراجعه وکړئ.
- په الیکترونیکي ډیټابیسونو کې لټون کول.

تاسو اړ یاست، چې د ګټورو ژورنالونو او مقالو د پېژندلو لپار د هغوي ژورنالونو او مقالو یو لیست چمتو کړئ، چې تاسو یې د کتلو فکر لرئ، لدې ژورنالونو یو یو تعقیب او د خپلې مسئلې او ستونزې د وضاحت په موخه یې منځپانګه وڅېړئ، وګورئ، چې آیا ستاسو د څېړنې په موضوع پورې اړوند مقالې شتون لري که نه. که تاسو د خپلې خوښې وړ مقاله ومونده؛ نو خلاصه یې کړئ او که تاسو یې د کارونې فکرمند یاست او ستاسو د مالي سرچینو پورې اړه لري؛ نو یا یې عکس کاپي کړئ، یا لنډیز ولیکئ کړئ او د وروسته کارونې لپاره یې د ماخذ په توګه یاداشت کړئ.

ډېرې منابع شتون لري، چې ستاسو د ژورنالونو لپاره پلټنه اسانه کړي او ستاسو وخت د ضایع کېدو څخه وژغوري، چې په لاندې ډول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-  د ژورنالونو شاخصونه لکه: د بشرپالنې شاخص.
-  د مقالو لنډیزونه لکه: (ERIC).
-  د قیمتونو یاداشتونه لکه: د ټولنیزو علومو حوالې انډیکس

د دې لیست کولو، خلاصه کولو او نور خدمات په هارډ کې شتون لري او د انټرنیټ له لارې هم د لاسرسي وړ دي.

د زیاتره کتابونو او ژورنالونو اړوند معلومات او لنډیزونه په کمپیوټرونو کې زیرمه شوي وي. په هر حالت کې معلومات د موضوع، لیکوال او سرلیک له مخې طبقه بندي کیږي. تاسو هم کولی شئ د (لیکوال/کلیدي ټکي، سرلیک/کلیدي ټکي، مضمون/کلیدي ټکي، متخصص/ کلیدي ټکي) او داسې نورې کلمې وکاروئ. کوم سیستم، چې تاسو یې کاروئ ستاسو په کتابتون کې په شته معلوماتو او له هغې سره ستاسو په اشنایئ پورې اړه لري. په یو شمیر برخو کې ځانګړی بریښنایي ډیټابیس شتون لري، چې دا له تاسو سره د متن او محتوای په چمتو کولو کې هم مرسته کولی شي. د مثال په توګه ډېرې کتابتونه، چې په جدول ۳،۱ کې ښودل شوي بریښناني ډیټا بیسونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جدول ۳،۱- د عامې روغتیا، ټولنپوهنې، ښوونې او روزنې او سوداګرۍ مطالعاتو(څېړنو) کې څېړنې عام کارول شوي بریښنايي ډیټابېسونه

| بریښنايي ډیټابیسونه | وضاحت | چاپ شوي |
| --- | --- | --- |
| ABI/INFORM | خلص شوي سوداګریز معلومات په ټوله نړۍ کې د سوداګرۍ معلوماتو ته حوالې لري. دا لاندې مضامین د خپلې احاطې په بر کې نیسي، لکه محاسبه، بانکداري، د معلوماتو پروسس کول، اقتصاد، مالیه، روغتیا پاملرنې، بیمه، قانون، مدیریت، بازار موندنه، پرسونل، د محصول پراختیا، عامه اداره، املاک، مالیه او مخابراتو په اړه معلومات چمتو کوي. | هیڅ |
| ERIC | ERIC د تعلیمي موادو ډیټابیس دی، چې د متحده ایالاتو د پوهنې ریاست د تعلیمي سرچینو معلوماتو مرکز لخوا راټول شوي. دا د لویانو مسلک یا حرفوي زده کړې، مشورې او پرسونل خدمتونه، تعلیمي مدیریت، د ماشومتوب لومړنۍ او ابتدايي زده کړې، معیوب او تحقیل شوي ماشومان، لوړې زده کړې، د معلوماتو سرچینې، ژبه او ژبپوهنه، لوستل او ارتباط، کلیوالي زده کړې، سایئس، ریاضیات شامل دي. او د چاپیریال زده کړه، د ټولنیزو علومو، د ښوونکو، ثانوي، ارزونه او ښاري زده کړې شاملې دي. | CIJE: Current Index to Journal of Education |
| HEALTHROM | HEALTHROM د چاپیریال، روغتیا، HIV/aids او ساري ناروغیو، اصلي روغتیا، کلینیکي درمل، تغذیه، الکول او د مخدره توکو روږدي کیدو په اړه حوالې او څیني بشپړ متن خپرونې وړاندې کوي. | هیڅ |
| MEDLINE | میډلین د بایو میډیکل علومو موادو ته مراجعه کوي، پشمول د طب، فارماکولوژي، نرسنګ، غاښونو، د روغتیا اړوند مسلکونه، عامه روغتیا، د سلوکي علوم، فزیوتراپي، حرفوي درملنه، طبي ټیکنالوژي، د روغتون اداره، او بنسټیز علوم لکه اناټومي او فزیولوژي | Index Medicos |
| CINAHL | CINAHL د نرسنګ مجموعي شاخصونه او ادب سره تړلې) په حقیقت کې د انګلیسي ژبې ټولو نرسینګ ژورنالونو او لومړني ژورنالونو ته د 13 اړوندو روغتیايي ادبیاتو څانګو ته لاسرسی چمتو کوي پشمول د روغتیا تعلیم ، طبي ریکارډونه ، حرفوي درملنه ، فزیکي درملنه او راډیولوژیک ټیکنالوژي. | Cumulative indices to nursing and allied health literature |

ستاسو د خپلې څېړنې اړوند برخې لپاره لومړی غوره او مناسب ډیټابس وټاکئ ترڅو وګورئ، چې دلته کوم ګټور ماخذونه شتون لري. البته د کمپیوټر په ډیټابس کې د معلوماتو موندل په هغه ژورنالونو او مقالو پورې محدود دی، چې د مخه په ډیټابیس کې په ثبت بڼه شتون ولري. تاسو باید د خپلې څېړنې اړوندو نظارت کونکو او نورو موجود متخصصینو سره هم وغږیږئ؛ ترڅو د هر ډول اړوند اضافي اثارو په اړه معلومات ومومئ؛ ترڅو د خپلې مطالعې لیست کې یې شامل کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**انټرنيټ**

په نړۍ کې هرې ډول اکاډميک مسلک او مسلکي ساحه کې انټرنيټ کې د نشر شويو آثارو د موندلو لپاره يوه مهمه وسيله ګرځېدلې ده. په انټرنيت کې د لټون له لارې تاسو کولی شئ په اسانه توګه او ژر ډول د مستندو موادو کتابونه، ژورنالونه او نورې سرچينې پيدا کړئ. د انټرنيټ لټون د مختليفو انجنونو له لارې ترسره کيږي، چې تر ټولو په عامه بڼه يې ګوګل او ياهو کارول کيږي.

د انټرنيت له لارې لټون کول د بريښنايي کتلاګ کارولو په کتابتون کې د کتابونو او مقالو لټون ته ورته دي؛ ځکه چې دا هم د کليمو کارولو پر اساس دی.د انټرنيټ لټون اساسا د لټون انجن په ډيټابيس کې ټول هغه توکي پېژني، چې تاسو يې د ټکو په اساس مشخص کوئ، د هغو ټکو په ټاکنه کې چې تاسو يې کاروئ او خلک يې ګوري، انفرادي او ترکيبي دواړو ډولونه مهم دي.

د ګيلبرټ (٧٣:٢٠٠٨) په وينا، د لټون ډېری تاسيسات د بولين منطق کاروي، کوم چې د AND ، OR او NOT درې ډوله لومړني لټون ته اجازه ورکوي او کله چې تاسو هم په عمل کې کليدي ټکي او د AND ، OR او NOT د لټون ډولونه وکاروئ؛ نو دا به ستاسو د کار لپاره خورا اغېزمن او موثره ثابت شئ او د لټون چاره به هم اسانه او محدوده کړي او د اړونده مراجعو په پېژندلو کې به هم له تاسو سره خورا زياته مرسته وکړي.

## د غوره شويو تېرو اثارو بياکتنه

دا چې تاسو ډېر ګڼور کتابونه او مقالي وپېژندلې؛ نو اوس بايد په انتقادي بڼه د خپلې موضوع اړوند مطالب مطالعه کړئ.

دا چې تاسو د موضوعاتو لپاره يو نظري چوکاټ په ذهن کې لرئ؛ نو د هرې موضوع يا مسلې لپاره جلا پاڼه وکاروئ، لاندې مثال د دغه بهير د شرحې او څرنګوالي جزيات وړاندې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اســترالیا په لوېدیځ کې د صــحي خدماتو د وړاندې کونکو د وړاندې شــویو خدماتو په اړه د ټولنې د وګړو د حسـاسـیت او تاثیر د معلومولو په خاطر باید لیکوال او څېړونکی د خپلې مطالعې د یوې برخې د ارزیابۍ په شـکل هغه تمرین او بررسـي کړي. کله چې دغه بررسي وشوه او د ټولنې حساسیت او غبرګون یې وموند؛ نو لدې لارې ډېر مسـایل روښانه کیږي، چې له مخې یې یو نظري چارچوب جوړولی شئ او ددې مطالعې له مخې کولی شـــئ د لاندې مســـایلو له روښـــانتیا څخه د خپلې مطالعې د ارزیابۍ یو چوکاټ جوړ کړئ.

- د ټولنې حساسیت او غبرګون، په څه معنا دي؟
- د ټولنې حساسیت او غبرګول د څه لپاره؟
- په استرالیا کې د دغې مفکوري تاریخي پرمختګ.
- د روغتیا پلان جوړونې د کارونې اندازه.
- د ټولنې د اړتیا حل لپاره ستراتیژۍ، چې د ټولنې تاثیر ته وده ورکوي.
- د بریا یا ماتې علتونه
- د ټولنې د ملاتړ ترلاسه کولو هڅه
- د ټولنې د تاثیر او عبرګون په برخه کې ستونزې
- د ټولنې د غبرګون او حساسیت په برخه کې د اړوند کسانو تشویش.

کلـه چې مو یو تقریبي چوکاټ جوړ کړ؛ نو خپلې موندنې او ترلاســـه شـــوي مطالب پکې ځای په ځای کړئ.

تر اوســـه چې مو د څومره مســـایل موندلي د هرې یوې لپاره یې یوه جلا ورقه وکاروئ او مشـابه مطالب سـره په منطقي او منظمه توګه یوې یوې ورقې ته راټول کړئ او راټول شوي موضوعات د تکرار د مخنوي په موخه په یاد کې وساتي.

د تېرو اثـارو د مرور او کتنې پـه برخـه او وخت کې باید لاندې اړخونه په پوره محتاطانه او انتقادي بڼه وڅېړئ او متوجه و اوسئ چې.

- آیا ستاسو تیوریکي چوکاټ پورې اړوند پوهه له شک پرته تائید شوېده او که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- وړاندې شـویو نظریاتو او په هغې وارد شـویو انتقاداتو، منل شـویو میتودونو (د مطالعې ډیزاین، د نمونې اندازه او د هغې ځانګړتیاوې، د اندازه کولو کړنلارې ... ) ته پام وکړئ.
- وګورئ، چې تر کومې کچې لاسته راوړنې په نورو موقعیتونو او وضعیتو کې د تطبیق وړ دي.
- وګورئ، چې پـدې برخه کې د څېړونکو د نظریاتو تر منځ د پام وړ توپیرونه شتون لري او د دې توپیرونو د اعتبار په اړه خپل نظر واضح کړئ.
- هغه سـاحې مشـخص کړئ، په کوم، چې کې لږ یا هېڅ نه پېژندل کیږي، هغه خالیګاوې هم په نښه کړئ، چې د معلوماتو په دغه برخه کې شتون لري.

## د تیوریکي چوکاټ رامنځته کول او مخته وړل

د تېرو اثـارو کتنـه هېڅ نه ختمیدونکی کار کېدای شـــي؛ مګر لکه څرنګه چې تاســـو محـدود وخت لرئ؛ نو مهم دي، چې تاســـو باید د تېرو اثارو د کتنې پر مهال د څېړنې موضـوع پورې د څېنو اړوندو اصـلي موضوعات لپاره یو ټاکلی حد تعین کړئ؛ نو پدې ترتیب به تاسـو ژر هغه سـتونزه ومومئ، چې تاسو یې د پلټلو اراده لرئ؛ ځکه دغه مسئله په یو شمېر پخوانیو رامنځته شوېو تیوریو په شننه کې ریښې لري.

اوس اړتیـا ده، چې بـایـد له بېلابېلو کتابونو او ژورنالونو څخه ترلاســـه شـــوي معلومات د اصـــلي موضـــوعاتو او تیوریو لاندې ترتیب شـــي، د لیکوالانو د نظر توپیر او یووالی روښانه شي او بې ځوابه پوښتنې یا نیمګړتیاوې هم په نښه شي.

تاسـو به په دې هم پوه شـئ، چې تېر اثار د موضـوعاتو په یو شـمېر اړخونو داسـې سـرسـري تېر شـوي دي، چې کولی شـي سـتاسو د څېړنې په موضوع باندې مستقیم یا غیر مســتقیم اثر واچوي. دغه برخې د خپل تیوریکي چوکاټ د پراختیا لپاره د اســاس په توګه وکاروئ؛ لکه څرنګه چې مخکې یادونه وشـــوه ســـتاســـو باید د تېرو اثارو د کتنې څخه ترلاســه شــوي معلومات په ســمه توګه ترتیب کړي دا به له تاســو ســره ســتاســو د څېړنیز چوکاټ لپاره د معلوماتو د راټولولو په بهیر کې له تمرکز ســـره هم مرســـته وکړي، همدا تیوریکي چوکاټ تاسو د تېرو اثارو په ښه ډول د کتنې لپاره یو ډول رهنمایي کوي هم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پورتنیو یادونو څخه دلته یو ډول تناقض رامخې ته کېږي او هغه دا، چې که چېرې مخکنیو اثارو ته کتنه ونشـــي؛ نو تیوریکي چوکاټ نشـــي رامینځته کېداي او تر هغې، چې تیوریکي چوکاټ رامنځته نشي تاسو نشئ کولی، چې په اغیزمنه توګه تېرو اثارو ته کتنه وکړئ. نو دلته د حل لار دا ده چې لومړی تاسـو یو څه اسـان او د لومړنیو معلومـاتو لرونکي تېر اثـار ولولئ او بیـا د هغې لـه مخې د تیوریکي چوکـاټ د رامنځتـه کولو هڅه وکړئ، دا هم احتمال لري، چې تاســو چوکاټ بدل کړئ. په هر صـــورت له دې پرته به تاســو د غیر اړینو لوســتلو او نوټ اخیســتلو په یو داســې لوي بهیر کې ډوب شئ، چې ممکن ستاسو د مطالعې سره هېڅ تړاو هم ونه لري.

امکان لري ستاسو په موضوع پورې د اړوند تېرو اثارو د کتنې په برخه کې تاسو له دوه ډوله معلوماتو سره مخامخ شئ.

-  ۱-نړیوال
-  ۲- سیمه ایز او په سیمه پورې د ځانګړو شویو چارو.

پـدې برخـه کې بـایـد تـاســـو د ورتـه معلومـاتو د لیکلو په برخه کې د عمومي معلوماتو څخه پیل وکړئ، ورو ورو ځانګړو معلوماتو ته راشئ. د بېلګې په توګه د دریېم څپرکي الف ۱ شکل او دریېم څپرکي ب ۱ شکل وګورئ.

که تاســو غواړئ د مړینې او زیږون تر منځ اړیکې مطالعه کړئ؛ نو تاســو باید د دې موضوع اړوند پخوانو لیکنو کې لاندې معلومات وګورئ:

-  زیږون: هغـه عوامـل، چې پـه تولیـد بـانـدې تـاثیر کوي لکه: امیال، تیوري، ځېنې شـاخصـونه او انتقادونه، هغه عوامل چې د حمل ضـد درملو باندې تاثیر کوي د تولید کنټرول میتودونه، او داسې نور.
-  مړینه: هغه عوامل، چې د مړینې پر کچې اغېزه کوي، د مړینې شاخصونه، د بدلون کچې اندازه کولو کې د وګړو حساسیت، مړینې رجحان او داسې نور.
-  او تر ټولو اړینه دا ده، چې هغه تیورئ باید وکتل شـي، چې د زیږون او مړینې تر منځ د اړیکو او د اړیکو د اغېزو د څرګندولو په موخه وړاندې شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پخوانيو تحقيقاتو او اثارو د کتنې او مطالعې په برخه کې تاسو اړ ياست، چې يو تيوريکي چوکاټ رامينځته کړئ. په لومړي سر کې بايد تاسو هغه تيورۍ ومومئ، چې د مړينې او زيږون ترمنځ د اړيکو د څرګندولو په موخه وړاندې شوي دي او تاسو به دا هم ومومئ، چې د دې اړيکو د څرګندولو په برخه کې يو شمېر نظريات وړاندې شوي دي، د بېلګې په توګه: يادې اړيکې د مختليفو اړخونو او ليدونو لکه اقتصادي، مذهبي، طبي او رواني له مخې تشريح شوي دي. په هر ليد کې ډېرې نظريې وړاندې شوې دي لکه: د بيمې نظريه، د تنازع بقاء او نسل د اصلح کېدو نظريه، د نرخ نظريه، د ګټنې نظريه، اضافي توليد او احتکار نظريه او د خطر نظريه.

ستاسو د تېرو اثارو بيا کتنه بايد د لاندې سرليکونو باندې وليکل شي، د تېرو اثارو کتنه تر ډېره د مړينې څرنګوالی، اغيزې او د زيږون او مړينې ترمنځ د اړيکو څېړنه په بر کې نيسي:

- د زيږون تيوري
- د ډيموګرافيکي لېږد تيوري
- د زيږون ازدحام (په نړيواله، ملي او سيمه ايزه کچه).
- د نفوسو د کنټرول ميتودونه (د دوی منل او اغيزمنتوب)
- هغه لاملونه، چې په مړينه اغيزه کوي
- د مړينې شاخصونو اندازه کول (د دوی حساسيت)
- د زيږون او مړينې ترمنځ اړيکې (بېلابېلې نظريې لکه بيمه، د مرګ وېره، بقای اصلح، بيه، ګټورتيا او خطر).

۳-۱-الف شکل: تيوريکي چوکاټ رامنځته کول- د مړينې او زيږون تر منځ اړيکې مطالعه

دريم څپرکی لومړی شـکـل الف. د تيوريکي چوکات مخته وړل، د زيږون او مړينې کچې اړيکې.

يادونه: د ځينې ګډونوالو سره لومړني مباحث څرګندوي، چې دوی ته د ټولنې د عکس العمل په اړه ډېر څه نه دي ورپېژندل شوي؛ نو له همدې امله وړانديز کيږي، چې مطالعه دې په دوه مراحلو کې ترسره شي: د چمتووالي مرحله او بله د ارزونې اصلي مرحله. د چمتووالي مرحله کې ځانته د اصلي هدف روښانه کول، د کارول کېدونکو ستراتيژيو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېژندل او د څېړنیز بهیر د بریا یا ناکامۍ اندازه کولو لپاره د شـاخصـونو ټولګې رامنځته کول شامل دي. دا چوکاټ د مطالعې د لومړي پړاو پر اساس جوړ شو.

د تېرو اثارو بیاکتنه د لاندې تیوریکي چوکاټ په شـاخوا کې لیکل شـوې وه، چې البته پخپله د تېرو اثارو بیاکتنې څخه راپورته شوې.

د ټولنې غبرګون: ګـډون کونکي او ذیـدخـل (د خـدمـاتو چمتو کونکي، د خدماتو مدیران او مصرف کونکي) د ټولنې د غبرګون په اړه څومره پوهیږي، دغې پوهې ته څه اړتیا لیدل کیږي او دغه غبرګون د کوم هدف لپاره ترسره شوی دی؟

تاریخي او فلســفې لید: د مفکورې پیل او د هغې د رامنځته کیدو شـــالید ته کتنه د تاریخي او فلسفي لید مفاهیم افاده کوي.

د پلي کولو ستراتیژیانې: د خدماتو وړاندې کولو ساحه کې د ټولنې غبرګون ترلاسه کولو لپاره کومې تګلارې کارول شوي؟

د برخه اخیســتونکو(ذی دخل) چلند: د ټولنې د غبرګون په وړاندې د خدماتو چمتو کونکو، خدماتو مدیرانو او خدماتو مصرف کونکو سلوك څه شی دی؟

د ټولنې د غبرګون ارزیابي: پدې ســـتراتیژیو کې د ټولنې د غبرګون د تاثیر د ټاکلو لپاره کوم شاخصونه وکارول شي، د ستراتیژیو د پلي کولو بریا یا ناکامې باید څه ډول وټاکي او څوك او څرنګه باید وټاکل شي؟

دریم فصـل لومړی شـکل (ب) برخه،د مطالعې لپاره تیوریکي چوکاټ (د روغتیایي خدماتو په برخه ټولنې غبرګون)

۳،۱ –ب شکل: د تیوریکي چوکاټ رامنځته کول–د روغتیایي خدماتو په برخه کې د ټولنې غبرګون

## نظریاتي چوکاټ رامنځته کول

نظریاتي چوکاټ ستاسو د څېړنیزو ستونزو اساس دی یاد چوکاټ د تیوریکي چوکاټ څخه سـرچینه اخلي او معمولاً په هغه برخو پکې تمرکز کیږي، چې سـتاسـو د مطالعې اساس ګڼل کیږي. په داسې حال کې، چې تیوریکي چوکاټ د هغو مسئلو څخه جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی په کوم کې، چې ستاسو د مطالعې لاسته راوړنې ځای په ځای شوي؛ مګر نظرياتي چوکاټ هغه اړخونه تشریح کوي، چې تاسو د تیوریکي چوکاټ څخه غوره کړې دي تر څو ستاسو د پوښتنو اساس شي. د مثال په ډول په دریيم فصل لومړی الف شکل کې ذکر شوي مثال کې په تیوریکي چوکاټ کې ټولې تیورۍ شاملې دي، چې د زیږون او مړینې ترمنځ اړیکو تشریح کولو لپاره وړاندې شوې دي. له دې څخه تاسو ممکن یواځې د یوې (ژوندي نه پاتې کېدو وېره) د ازمویلو پلان ولرئ، چې د دغې لپاره بیا د نظریاتو د راټولولو پلان جوړوئ، چې د نظرياتي چوکاټ په نوم یادیږي.

په ورته توګه د دریيم فصل لومړی ب شکل د نظرياتي چوکاټ په شاخصونو تمرکز کوي؛ ترڅو د ټولنې غبرګون ته د وده ورکولو لپاره د ستراتیژیو بریا یا ناکامي اندازه کړي. له همدې امله نظرياتي چوکاټ له تیوریکي چوکاټ څخه رامنځته کيږي او په ځانګړي څېړنیزې ستونزې پورې اړه لري.

## د تېرو بیا کتل شویو اثارو په اړه لیکل

اوس باید تاسو یواځې د هغو تېرو اثارو په اړه لیکل وکړئ، چې تاسو کتلي دي؛ لکه څرنګه چې د دې څپرکی په پیل کې یادونه وشوه، د تېرو اثارو بیاکتنه دوه عامې لري.

-  ستاسو مطالعې او څېړنې لپاره تیوریکي شالید وړاندې کوي.
-  تاسو ته وړتیا درکوي، چې خپلې میتودولوژۍ د شفافیت سربېره د موجوده معلوماتو سره خپلې موندنې هم په شرایطو برابرې کړئ.

د تېرو اثارو د بیاکتنې منځپانګه باید دا دوه موخې منعکسې کړي. د لومړۍ موخې د ترلاسه کولو لپاره باید تاسو د خپلې څېړنیزې ساحې اړوند مختلیف وړاندې شوي نظریات، په یاده برخه کې د موجودو معلوماتو تشې، په یاده برخه کې وروستي پرمختګونه، اوسني رجحانات او داسې نور وپېژنئ او تشریح یې کړئ. د دوهم فعالیت سره د مطابقت لپاره تاسو باید د خپلې مطالعې پایلې د موجوده اثارو څخه ځانګړې او د اړونده موندنو د تصدیق، رد، پرتله کولواو یا مدغم کولو لپاره وکاروئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یاد ولرئ چې په دې مرحله کې تاسو یواځې د تېرو اثارو بیاکتنه کولی شئ؛ ترڅو د خپلې مطالعې لپاره یو نظریاتي شالید چمتو کړئ. د دوهم فعالیت لپاره د موندنو او شرایطو برابرولو لپاره باید تاسو انتظار وباسئ؛ ترڅو د څېړنیز راپور لیکلو مرحلې ته ورسېږئ.

تاسو به د خپلې مطالعې د تیوریکي شالید لپاره د تېرو اثارو د کتنې او مطالعې پر مهال وپوهېږئ، چې کوم مسایل تاسو ته واضح شوي دي؛ نو د هغوی څخه مهم مسایل یاداشت کړئ او د اصلي عنوان لاندې یې ولیکئ.

ځېنې خلك د تېرو اثارو بیا کتنه یا په جامع شکل په یوه جلا برخه کې لیکي او یا یې د بلې برخې سره یو ځای کوي؛ مگر تاسو باید د تېرو اثارو ته کتنې تر عنوان لاندې په سم شکل ولیکئ. ورپسې ټول اصلي موضوعات، چې تاسو موندلي او ستاسو د تیوریکي چوکات اساس جوړوي او بیا فرعي سرلیکونه باید هم دقیق وي؛ ترڅو د پوښتنې موضوع تشریح او منطقي پرمختګ تعقیب کړئ.

اوس د هر فرعي سرلیك لاندې پوښتنې موضوعاتو او اصلي موندنو ته په پام سره ثبت کړئ. د یوې موضوع د رد یا تائید لپاره دلایل وړاندې کړئ که شتون ولري، نیمگرتیاوې او ستونزې په ګوته کړئ. دریم فصل دوهم شکل د هغو فرعي سرلیکونو ښودنه کوي، چې د لیکوال لخوا (د لویدیځې استرالیا په داخل کې د بچي منل) تر سرلیك لاندې موضوع په شرح کولو او څېړلو کې په پام کې نیول شوي او مطالعه شوي دي.

| په لویدیځه استرالیا کې د هېواد دننه د بچي منل |
|---|
| د بچي منلو د کورنیو نمونه<br><br>تېرو اثارو کې لاندې مسایلو ته کتنه شوېده:<br><br>○ سریزه – د بچي منلو په اړه لومړنی څرګندونې<br>○ د بچي منلو تاریخ او فلسفه<br>○ د بچي منلو یا متبنی لپاره دلیلونه<br>○ د بچي نیولو نړیوالې او ملي تګلارې |

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هېواد کې دننه د بچي نيول (خپلول)
- د لويديځې استراليا په داخل کې د بچي منلو تاريخ
- په لويديځه استراليا کې د بچي منلو ګټې
- په لويديځه استراليا کې د بچي منلو قانون
- په لويديځه استراليا کې د بچي منلو پروسه
- په بچي منلو (خپلولو) کې ستونزې او مشکلات
- په تېرو اثارو کې نيمګړتياوې، دا د هغه والدينو په اړه د معلوماتو نشتون و، چې د نورو هېوادونو ماشومان يې په بچي منلو قبول کړي و او د مطالعې اساس ګرځيدلي دي.

دريېم فصل دوهم شکل: تېرو اثارو ته د کتنې يوه ساده او کُلي طرحه.

د تېرو اثارو بيا کتنې دوهمه عمومي دندې لري.

ستاسو د مطالعې موندنو ته په پام سره تاسو اړ ياست، چې په خورا سيستماتيک ډول خپلې موندنې د نورو له موندنو سره پرتله کړئ. د دې مطالعو څخه اقتباس وکړئ؛ ترڅو څرګنده کړئ چې ستاسو موندنې څه ډول د نورو د موندنو د تائيد، رد او يا په هغوي د اضافه والي وړ وګرځي. ستاسو موندنې د نورو وګړو د موندنو په قالب کې ځاي په ځاي کوي او منل شوي موندنې بيا د منل شويو موندنو ترڅنګ ځاي نيسي. دا چاره؛ لکه څرنګه چې مخکې يادونه وشوه، تاسو د موندنو په اړه د ليکنو او د معلوماتو د تحليل وروسته ترسره کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د درېیم څپرکی لنډیز

تېرو اثارو ته کتنه یو مستمره او دوامداره پروسه ده، چې د څېړنیزې مسئلې د پاې ته رسېدو د مخه پیل کېږي او د راپور تر پاي پورې دوام لري.

د تېرو اثارو ته په کتنه کې یو تناقض شتون لري: تاسو نشئ کولی، چې تېرو اثارو ته کتنه په اغېزمنه توګه ترسره کړئ؛ مګر دا، چې تاسو د څېړنې مسئله چوکاټ کې ځاي په ځاي کړئ، پدې ډول د تېرو اثارو پلټنه تاسو سره د څېړنیزې ستونزې په قالب بندۍ کې مرسته کوي.

د تېرو اثارو بیاکتنه ستاسو د څېړنې ستونزې ته وضاحت ورکوي او ستاسو توجو راګرځوي، ستاسو د تحقیق میتودولوژي ته وده ورکوي او ستاسو د پوهې اساس پراخوي.

د تېرو اثارو کتنه یو لړ مرحلې لري: ستاسو د مطالعې په ساحه کې د شته معلوماتو لټول، د ټاکل شوې پخوانیو اثارو کتنه، د تیوریکي چوکاټ رامنځته کولو لپاره د هغې کارول چې له بهر څخه ستاسو تحقیق ته داخلیږي او د مفهومي چوکاټ رامنځته کولو لپاره د هغې کارول، چې ستاسو د تحقیق اساس جوړوي.

د تېرو اثارو پېژندلو لپاره ډېرې سرچینې شتون لري، چې تاسو سره د معلوماتو په چمتوکولو کې مرسته کوي. لکه: کتابونه ژورنالونه او انټرنیټ.

د تېرو اثارو کتنه دوه مهمې دندې ترسره کوي.

لومړی- ستاسو د تحقیق او مطالعې لپاره تیوریکي زمینه برابروي.

دوهم – له تاسو سره مرسته کوي؛ ترڅو خپلې موندنې په یاده ساحه کې د نورو محقیقینو له موندنو سره پرتله کړئ.

د څېړنیز بهیر پدې مرحله کې صرف لومړۍ دنده ترسره کېداي شي او تاسو هغه وخت کولی شئ، چې د دوهمې دندې د ترسره کولو لپاره قدم پورته کړئ، چې تاسو خپل معلومات تحلیل او تجزیه کړي وي او د خپلو موندنو په اړه د لیکلو په مرحله کې یاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تېرو کتل شوېو اثارو په اړه ستاسو ياداشتونه بايد موضوعي بڼه ولري، چې د اصلي موضوعاتو پر اساس وي، په ليکنه کې د دې موضوعاتو ترتيب او تسلسل بايد منطيقي پرمختګ تعقيب کړي، بېلابېل نقل قولونه او ويناوې بايد د خپل اصلي اثر په حوالې سره تائيد شي او د حوالو په برخه کې بايد د يو منل شوي اکاډميک سبک څخه پيروي وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لپاره چې تاسو پرې فکر وکړئ!

د دې څپرکی په پیل کې د ذکر شویو کلیدي کلیماتو سره ځان بلد کړئ او که د هرې یوې په مانا نه پوهېږئ؛ نو بل څپرکي ته د تلو څخه مخکې بېرته دغه فصـــل ته مراجعه وکړئ او ځان ورباندې پوهه کړئ.

د خپلې خوښـــې وړ موضـــوع د کلیدي نقاطو د لټون لپاره د (الف) یو انټرنیټي انجن د لټولو یعنې ګوګل سکالر او (ب) یا د یو مرکزي کتابتون څخه کار واخلئ، پایلې یې ســره مقایســه کړئ. د خپل لټون څخه دوه یا درې څېړنیز راپورونه وټاکئ او وړاندې شـویو نظریاتو، ټاکل شـویو تګلارو او وړاندې شویو وړاندیزونو ته یې کتنه وکړئ، چې آیا دغه ګذارشتونه په یاده برخه کې اتفاقي نظر په ګوته کوي او که اختلاف سره لري؟

د خپلې ټاکل شوې موضوع او مسئلې لپاره یو نظري چوکاټ رامنځته کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم څپرکی

# د څېړنېزې ستونزې طرحه کول

پدې څپرکي کې به تاسو د لاندې ذکر شويو مسايلو په اړه معلومات ترلاسه کړئ:

- د څېړنېزې ستونزې طرحه کولو اهميت
- د څېړنېزو ستونزو سرچينې
- د څېړنېزې ستونزې په انتخاب کې فکر کول
- په کيفي څېړنه کې د تحقيق لپاره د ستونزې په انتخابولو کې د ځانګړو مسئلو په پام کې نيول.
- د څېړنېزې ستونزې د طرحه کولو مرحلې
- څرنګه څېړنيز اهداف طرحه کړو؟
- د عملياتي تعريفاتو د طرحه کولو اهميت

## کليدي ټکي

مفـاهيم، اختلال، عمليـاتي تعريف، کيفي څېړنـه، کمي څېړنه، د څېړنې موخې، څېړنېزه ستونزه، د مطالعې ساحه، د نفوسو مطالعه، د موضوع ساحه، اعتبار، متغير، کاري تعريف.

د دې څپرکی عمده موخه د څېړنېزې ســتونزې د طرحه کولو پروســې شــرحه کول دي، په داسې حال کې، چې هغه ځانګړې کړنلاره او مسـايل، چې تاسو به ورسره پدې څپرکې کې مخامخ شئ په لاندې ډول دي.

- په څېړنيزه ميتودولوژۍ کې ستاسو مهارت
- د موضوع د اړوند ساحو په اړه ستاسو پوهه
- د موضوعاتو په اړه ستاسو د پوهې ارزول

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تر ډېره بریده د مطالعې مرکزیت ټاکل

که تاسو د څېړنې پروسې سره ډېر اشناء نه یاست او یا مشخص نظر نه لرئ، چې څه باندې باید څېړنه وشي؛ نو تاسو اړ یاست، چې په دې څپرکي کې هره مرحله په تفصیلي او کره ډول تعقیب کړئ.

په هر حال باتجربه څېړونکي کولی شي د یو شمیر لنډېزونو څخه کار واخلي. اوس تاسو فرض کړئ، چې تاسو د څېړنې ستونزې طرحه کولو پروسې لپاره اړینه پوهه نه لرئ او نه هم د کومې څېړنې په اړه مشخص نظر لرئ، چې څه باندې باید څېړنه وشي. خو که تاسو د خپلې څېړنې د پیل لپاره مشخص نظر لرئ، تاسو اړتیا نه لرئ دې څپرکی ته لاړ شئ او یا یکې ډېر تم شئ. په هر صورت تاسو باید ډاډ ترلاسه کړئ، چې ستاسو نظر د څېړنې وړ دی او که نه؛ ځکه چې ټولې ستونزې د څېړنې میتودولوژیو سره کومک نه کوي.

## څېړنیزه ستونزه

په کامله توګه کومه پوښتنه، چې تاسې ځوابول غواړئ او کومه انګیرنه یا ادعا، چې تاسو غواړئ څېړنه پرې وکړئ ستاسو د مطالعې لپاره د څېړنیزې ستونزې یا د تحقیق موضوع کېدای شي.

په هر حال دا مهمه ده، چې په یاد ولرئ ټولې پوښتنې نشي کولی په څېړنیزو ستونزو باندې بدلې شي او د ځینو مطالعه ممکن خورا ستونزمنه هم وي. د پاور، میناګان او ټومی (۳۸:۱۹۸۵) په وینا «د احتمالي څېړنې پوښتنې ممکن مونږ ته په عادي ډول رامخې ته شي؛ مګر په مانا داره توګه یې د رامنځته کولو پروسه اسانه نه ده، د نوي څېړونکی په توګه ممکن د ستونزو طرحه کول اسانه وبریښي؛ مګر دا د موضوع د ساحې او د څېړنې د میتودولوژۍ یانې دواړو په برخه کې د پام وړ پوهې ته اړتیا لري.

کله چې تاسو یو ځل یوه پوښتنه له نږدې وازموئ؛ نو سمدستي به تاسو د ستونزې په اړه د نظر د رامینځته کولو پیچلتیا هم درک کړئ، چې د څېړنې وړ ده. لومړی د څېړنیزې ستونزې پېژندل او بیا مشخص کول ممکن د څېړنې د پروسې په څېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وبريښـــي، چې بايد اســانه او ژر تر ســره شــي. په هر صــورت دا قضــيه اکثرا نه وي. (Yegidis & Weinback ۱۹۹۱: ۳۵)

دا شـيان د هغه ستونزې لپاره اړين دي، چې تاسو يې طرحه کوئ؛ ترڅو د اړينو کړنلارو له مخې د پلټنې چاره ترسره کړئ. له همدې امله تاسو بايد د دې له لارې فکر کولو کې له پوره دقت څخه کار واخلئ.

## د څېړنيزې ستونزې طرحه کولو اهميت

د څېړنيزې ســـتونزې طرحه کول د څېړنې پروســـې لومړۍ او خورا مهمه مرحله ده. دا مرحله د څېړنې د ترســره کولو د مخه د منزل پېژندنې په څېر ده. د منزل د نه پېژندلو په صــورت کې يادې موخې ته په حقيقت کې د رســېدو لپاره لدې نه بله کومه لنډه لاره شــتون نه لري. په ورته ډول د روښــانه څېړنيزې ســتونزې د نه شــتون په صــورت کې د روښانه او اقتصادي پلان شتون هم ناممکن دی. د يو ورته مثال په توګه، د څېړنې ستونزه د ودانۍ د تهداب او اساس په څېر ده. د ودانۍ ډول او ډيزاين په تهداب او اساس پورې اړه لري. که چېرې تهداب ښـه ډيزاين شـوی او قوي وي تاسـو کولی شئ له ودانۍ هم ورته تمه ولرئ. د څېړنې سـتونزه هم په عين شـکل د يوې څېړنيزې مطالعې د تهداب په توګه کار کوي. که دا سـتونزه ښـه ترتيب شـوې وي؛ نو تاسـو کولی شـئ د يوې ښـې مطالعې د تعقيب تمه ترې وکړئ.

د کرينګر په وينا: که څوک غواړي ســـتونزه حل کړي؛ نو لومړی بايد په عموم ډول پوه شـي چې سـتونزه څه ده يا ستونزه څه ته وايي. دا بايد په ياد کې وسـاتل شي، چې د ســتونزې لويه برخه په دې پوهېدل دي چې يو څوک د څه د ترســره کولو هڅه کوي.(۱۷:۱۹۸۶).

تاســو بايد د هغه څه اړه روښــانه ليد ولرئ، چې په اړه يې پلټنه کوئ، نه د هغه څه اړه چې تاسې فکر کوئ پيدا به يې کړئ.

يوه څېړنيزه سـتونزه ممکن د سـاده بڼې په نسبت پيچلې بڼه غوره کړي. د سـتونزې طرحه کولو لاره هر ځل په لاندې شکل تعقيب کيږي: د مطالعې د ترسره کولو لپاره کارول

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدونکی د ډیزاین ډول، د نمونې اخیســتو د کړنلارې ډول چې کارول کېږي، د څېړنې وسایل(افزار) چې کارول کېږي او د تحلیل ډول چې ترسره کیدای شي.

فرض کړئ، چې ستاسو ستونزه په یوه پراخه ساحه کې د ژور خپګان څېړل وي؛ نو تاسو غواړئ په ټولنه کې د ژور خپګان لرونکو ناروغانو ته د خدماتو په اړه یوه څېړنېزه مطالعه ترسره کړئ. که ستاسو تمرکز د ژور خپګان ناروغانو لپاره د خدماتو د ډولونو موندل وي؛ نو مطالعه به غالباً تشــریحي او کیفي وي. دا ډول مطالعات د کیفي تحقیق په کټګورۍ کې راځي او د کیفي څېړنې میتودونو په کارولو سره ترسره کېږي. له بلې خوا که تاسو غواړئ د دې خدماتو کارولو حد یا اندازه ومومئ، دا د هغو خلکو شــمېر دی چې دوی یې کاروي؛ نو ددې لپاره به یو ډول کمي میتودونه وکاروئ؛ ځکه چې دا په اصل کې توضیحي بڼه لري او د خدمت کارولو خلکو شمېر بیانوي.

که ستاسو تمرکز د ناروغانو په شخصي ځانګړتیاو پورې اړوند چارو د اندازې مشــخص کول وي، مطالعه به د ارتباطي او (کمي) په توګه طبقه بندي شــي. او کارول کېدونکې میتودولوژي به د هغې میتودولوژۍ او توضــیحاتو ســره توپیر ولري، چې د تشریحي مطالعې په صورت کې کارول کېږي. په ورته ډول که ستاسو هدف د دې خدماتو د اغېزمنتیا پیدا کول وي؛ نو مطالعه به بیا ارتباطي بڼه ولري او د مطالعې لپاره کارول کېدونکی ډیزاین بڼه غوره کړي او ددې تحلیل په برخه کې به د معلوماتو راټولولو میتودونه هم کمي بڼه ولري. له دې امله ستاسو لپاره مهمه ده، چې باید پوه شئ، ټولې هغه لارې، چې تاسو یې د یوې څېړنېزې ستونزې د حل لپاره طرحه کوئ، هغه راتلونکې مرحلې ټاکي چې تاسو به یې د خپل تحقیقاتي سفر په جریان کې تعقیب کوئ. د یوې ستونزې طرحه کول څېړنې ته د داخلېدو په څېر دي او محصول (څېړنې راپور)، د منځپانګې کیفیت او د رامنځته شــویو اړیکو یا لاملونه اعتبار په بشــپړ ډول په همدې پورې اړه لري. له همدې امله د کمپیوټرونو په اړه مشهور قول (کثافت رانوځې، کثافت وځي) د څېړنېزې ســتونزې لپاره هم د تطبیق وړ دی. په پیل کې تاسو ممکن ګډوډ شــئ؛ مګر دا نورمال حالت او د پرمختګ نښــه ده. په یاد ولرئ: ګډوډې اکثره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت وي؛ مګر دا د موضوع د روښانه کېدو په لور لومړی ګام دی. د خپلې ستونزې په څرګندولو او واضح کولو کې له پوره دقت څخه کار واخلئ او بېړه مه کوئ، څومره چې تاسې د خپلې څېړنې د ستونزې/پوښتنې په اړه ښه وپوهېږئ او هغه ښه روښانه کړئ، وروسته برخې به ستاسو لپاره اسانه وي. په یاد ولرئ چې دا ډېره خورا مهمه مرحله ده.

## د څېړنېزې ستونزې سرچینې

دا یوه ځانګړې او مهمه برخه ده، که تاسو تر دې دمه د تحقیق موضوع نه وي غوره کړې او نه پوهېږئ، چې د کوم ځای څخه یې پیل کړئ. که تاسو د مخه خپله موضوع یا پوښتنه غوره کړې وي؛ نو بلې برخې ته لاړ شئ. په انساني علومو کې ډېری څېړنې د څلور شیانو په شاخوا راڅرخیږي:

۱-خلک

۲-ستونزې

۳-برنامې

۴-پدیدې

په حقیقت کې هر اکاډمیک یا حرفوي ساحې ته نږدې کتنه به وښایي، چې ډېری څېړنې د دې څلور څیزونو په شاخوا راڅرخیږي. په یو ځانګړي څیز ټینګار ممکن د مطالعې څخه تر مطالعې پورې توپیر ولري؛ مګر په عموم او عمل کې ډېری څېړنې او مطالعات لږ تر لږ د دغو څلورو واړو څخه دوه څیزونو د ترکیب پر بنسټ ولاړ وي. تاسو ممکن د وګړو یوه ډله وټاکئ (د وګړو یوه ډله –ټولنه – خلک)، چې د ځینو ستونزې شتون یا په ستونزه پورې د دوي د اړوندتیا شتون څرګندوي؛ ترڅو د یوې مسئلې په اړه د دوی چلند معلوم کړي، ستونزه اصلاً د منظم (واقیعت) رامنځته کول یا د مداخلې (برنامې) د تاثیر اروزل دی. ستاسو تمرکز ممکن د یوې موضوع په یوه برخه یا په یاده برخه پورې د اړوند هرې پدیدې مطالعه وي، د مثال په توګه د بیکارۍ او عامه جرمونو، سګرټ څښلو او سرطان یا زیږون او مړینې تر منځ اړیکو مطالعه، کوم چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګړو، ډلو، ټولنو یا سازمانونو څخه د راټولو شویو معلوماتو پر اساس ترسره کېږي. په دې مطالعاتو کې ټینګار د اړیکو یا قضیو په سپړلو، موندلو یا تاسیس کولو باندې دی. په ورته ډول تاسو کولی شئ د برنامې مختلف اړخونه مطالعه کړئ. لکه د اغیزمنتوب، جوړښت، اړتیا، د مشتریانو رضایت او داسې نورو معلوماتو د معلومولو لپاره تاسو له خلکو څخه معلومات راټولوي.

هره څېړنه د مطالعې دوه اړخونه لري: یو هغه خلک یا وګړي، چې تاسو ته د مطالعې په برخه کې معلومات چمتو کوي چې دا د څلورو ځیزونو څخه یو دی، په داسې حال کې چې درې نور ځیزونه ستاسو د موضوع ساحه تشکیلوي. مثلاً ستاسو د نفوسو د مطالعې په برخه کې وګړي، ډلې او ټولنې هغه خلک دي د کوم نه چې تاسې په ساحه کې د ستونزې، برنامې یا پدیدې په اړه معلومات راټول کړي دي. د څېړنې د ستونزې دا اړخونه په څلورم فصل او اول شکل کې واضح شوي دي.

۴-۱- جدول: د څېړنیزې ستونزې اړخونه

| د یوې مطالعې اړخونه | په اړه | مطالعه | |
|---|---|---|---|
| د نفوسو مطالعه | خلک | افراد، سازمانونه، ډلې، ټولنې | دوی تاسو ته اړین معلومات وړاندې کوي یا تاسو د دوی څخه یا د دوی په اړه معلومات راټولوی. |
| د موضوع ساحه | ستونزه | مسئلې، وضعیت، اړیکې، اړتیاوې، د نفوسو جوړښت، پروفایلونه او نور... | هغه معلوماتو، چې تاسو اړتیا لرئ د خپلو خدماتو د څېړنیزو پوښتنو ته د ځواب موندلو لپاره راټول کړئ. |
| | پروګرام | محتویات، جوړښت، پایلې، صفات، رضایت، مصرف کوونکي، ستاسو د خدماتو څېړني وړاندې کوونکي او داسې نور... | |
| | پدیده | لامل او اغیز، اړیکې، پخپله د یوې پېښې څېړنه، او داسې نور. | |

تاسو کولی شئ په کومه علمي برخه کې یا له کوم مسلکي لید څخه یوه ستونزه، برنامه یا پدیده مطالعه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مثال په توګه تاسو کولی شئ د روغتیا، تعلیم، ټولنیز کار، صنعتي مدیریت، عامې روغتیا، نرسنګ، روغتیا هڅونې یا رفاهي سکتور کې د برنامې مؤثریت اندازه کړئ، یا تاسو کولی شئ یوې ستونزې ته د روغتیا، سوداګرۍ یا هوساینې له زاویې څخه وګورئ. په ورته ډول تاسو کولی شئ په پورتنیو برخو کې د برنامې د هر اړخ په برخه کې د وړاندې کونکو نظرونه اندازه کړئ. خپل علمي ډسپلین یا مسلکي ساحه د (څلور شیانو)(Ps) په شرایطو کې وڅېړئ؛ ترڅو ټول هغه څه وپېژنئ، چې په زړه پورې ښکاري. د مثال په توګه که تاسو د روغتیا په برخه کې زده کونکی یاست؛ نو د روغتیا په هرې برخې کې خورا لوی شمېر مسئلې، حالات او تعاملات شتون لري، چې تاسو یې تجربه کولی شئ. د ناروغۍ په خپرېدو پورې اړوند مسئلې،په مخدره توکو باندې د روږدیدو څخه بیارغیدنه، د معافیت پروګرام، د درملنې اغېزمنتوب، د مشتریانو د رضایت حد یا د ځانګړې روغتیا برنامې پورې اړوند مسئلې ... ټول تاسو ته د څېړنې په موخه ډېرې ستونزې (مسایل) چمتو کولی شي.

په ورته ډول په ښوونه او روزنه کې ډېرې مسئلې شتون لري: د ښوونکي څخه د زده کونکو رضایت، د یو ښه ښوونکي صفتونه، د زده کونکو په تعلیمي لاسته راوړنو باندې د کورني چاپیریال اغېزه، د لوړو زده کړو څخه د لیسانس فارغ زده کونکو ځارنه او داسې نور. په همدې توګه هره علمي یا مسلکي ساحه کې همدې ته ورته فرعي برخې او مسئلې سره جلا کېدلی شي، احتمالي څېړنېزې ستونزې او برنامې په ښکاره ډول له یو مسلک څخه تر بل مسلک پورې توپیر لري.

ډېر مسلکونه په پورتنۍ کټګورۍ کې راځي، په داسې حال کې چې ځانګړې ستونزې او برنامې له مسلک څخه مسلک ته د پام وړ توپیرونه لري.

د څلور (Ps) مفهوم د دواړو (کمي او کیفي) څېړنو لپاره پلي کېدو وړ دی، که څه هم په دې مرحله کې اصلي توپیر د دوی مشخصیت، تحلیل او د دقیق تمرکز حد دی. په کیفي څېړنه کې دا صفات په قصدي ډول خورا اسان ساتل شوي دي؛ نو تاسو کولی شئ د جریان په حالت کې ډېرې پلټنې وکړئ، په هغه صورت کې چې تاسو د دوی د اړیکو په اړه یو څه ومومئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو خپل ځان د ستونزو سره مه محدودوئ، چې ستاسو د پلټلو په وړتیا محدوده کړي. وروسته په څپرکی کې د کیفي تحقیق په برخه کې د څېړنېزې ستونزې د طرحه کولو په اړه یوه جلا برخه شتون لري، چې د پروسې په اړه نوره لارښوونه هم وړاندې کوي.

## د یوې څېړنیزي ستونزې په انتخابولو کې فکر کول

کله چې د څېړنې ستونزه/موضوع غوره کوئ یو څه ملاحظات شته چې باید په پام کې باید ونیول شي کوم چې ستاسو سره د څېړنې د ښه مدیریت او ستاسو د متحرک پاتې کېدو په برخه کې تاسو ته ډاډ درکولی شي. دا ملاحظات په لاندې ډول دي.

- علاقه: علاقه او دلچسپی باید د څېړنېزې ستونزې غوره کولو کې ترټولو مهم اړخ وي. په یوه څېړنیزه هڅه کې عموما د وخت مصرف، سخت کار او احتمالي غیر متوقع ستونزې شاملې وي. که تاسو یوه داسې موضوع غوره کړئ، چې تاسو ورسره ډېره علاقه نه لري؛ نو ډېره ستونزمنه ده چې تاسو دې د هغې د سرته رسولو او بشپړولو لپاره کافي وخت او انرژي حاصله کړل شئ.
- شدت: تاسو باید د تحقیق پروسې په اړه کافي پوهه ولرئ؛ ترڅو د وړاندیز شوې څېړنې د بشپړولو کافي وړتیا ولرئ او موضوع د ښه مدیریت، مشخص کولو او روښانه کولو لپاره نوره هم کوچنۍ کړئ. ددې لپاره چې ښه یې مدیریت کړئ او سرچینې یې هم ستاسو په لاس کې وي؛ نو د موضوع غوره کول خورا مهم دي، حتٰی که تاسو تشریحي مطالعه هم ترسره کوئ؛ نو تاسو اړ یاست د هغې شدت په پام کې ونیسئ.
- د مفاهیمو اندازه کول: که تاسو په خپله مطالعه کې د مفهوم څخه کار واخېست (په کمي مطالعاتو کې)، ډاډ ترلاسه کړئ، چې تاسو د دې شاخصونو او د دوی اندازه کولو په اړه ښه معلومات لرئ. د مثال په توګه که تاسو د روغتیا هڅونې برنامې د تاثیر اندازه کولو پلان لرئ، نوتاسو باید متوجه اوسئ چې څه مؤثریت لري او دا به څرنګه اندازه شي. په خپل تحقیق کې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مفاهیم مه کاروئ، چې تاسو یې د واضح کولو له څرنګوالي ډاډه نه یاست. دا په دې مانا نه دي چې تاسو نشئ کولی د اندازه کولو پروسه رامنځته کړئ، کله چې مطالعه پرمخ بیایې. په داسې حال کې چې ډېری انکشافي کار به ستاسو د مطالعې په جریان کې ترسره شي؛ نو دا اړینه ده، چې تاسو په دې مرحله کې د دې مفاهیمو د اندازه کولو او واضح کولو په اړه څرګند منطق ولرئ.

- د تخصص کچه: ډاډ ترلاسه کړئ، چې تاسو د هغه څه لپاره چې تاسو یې وړاندیز کوئ د کافي کچې تجربه لرئ. دا یو حقیقت دی، چې تاسو به د مطالعې په جریان کې ډېر څه زده کړئ او ممکن تاسو د څېړنې د راهنمایي کونکي او نورو څخه هم مرسته ترلاسه کړئ؛ مګر په یاد ولرئ، چې تاسو اړ یاست؛ ترڅو ډېری کار پخپله ترسره کړئ.
- تړاو: یوه داسې موضوع غوره کړئ، چې د یو مسلکي شخص په توګه ستاسو لپاره مناسبه وي. ډاډ حاصل کړئ، چې ستاسو څېړنه د په یاده برخه کې د شته معلوماتو په کچه کې اضافه والی راولي، موجوده تشه یا خلا ډکولی شي او د پالیسۍ په جوړولو کې ګټور تمام کېداي شي. دا به له تاسو سره د څېړنې په بهیر کې د علاقې په زیاتوالي کې هم مرستندویه ثابت شي.
- د معلوماتو شتون: که ستاسو موضوع د دوهمي سرچینو یعنې د دفتر ریکارډونو، د مشتریانو ثبت، سر شمیرنو، د مخه خپاره شویو راپورونو او نورو څخه د معلوماتو راټولولو ته اړتیا لرئ؛ نو ځان مطمئن کړئ، چې دا معلومات موجود دي او د ضرورت په صورت کې کولی شئ د خپلې موضوع د بشپړولو لپاره ترې استفاده کولی شئ.
- اخلاقي مسئلې: د څېړنېزې ستونزې د طرحه کولو یوه بله مهم دنده د اخلاقي مسئلو بڼکیلتیا ده. د نفوسو د مطالعې د څېړنې په جریان کې د ځینو پوښتنو له امله ممکن په (مستقیم یا غیرمستقیم) ډول یو ډول متضرر او اغېزمن شئ؛ تمه کېږي چې حساس او شخصي معلومات شریک کړئ، چې اخلاقي مسئلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرنګه د نفوسـو په مطالعې او څېړنې اغېزه کولی شـي او اخلاقي سـتونزې څرنګه لرې کیدای شـي، یاده مسئله باید د ستونزې طرحه کولو په مرحله کې په کلکه توګه وڅېړل شي.

## قدم په قدم د څېړنیزې ستونزې طرحه کول

د څېړنېزې سـتونزې طرحه کول د څېړنیز سـفر تر ټولو مهمه برخه ده او سـتاسـو د څېړنیزې پروژې کیفیت او مطابقت په بشـپړ ډول پدې پورې اړه لري. لکه څرنګه چې مخکې یادونه وشوه، تاسو چې د څېړنې په برخه کې هر قدم اخلئ هغه څه دي، چې تاسو د خپلې څېړنېزې ستونزې طرحه کولو پر مهال په طرحه کې ځاي په ځاي کړي دي.




۴-۱- شکل: د کورنی تاوتریخوالي د موضوع ساحه په فرعي برخو کې ویشل

د دې مرحلې اهمیـت ددې کتـاب سـرـبېره پـه نورو کتابونو کې هم د ځانګړو لارښوونو په بڼه شتون لري.

د دې کـار لـه مخې تر ډېره بریـده ښـوونکو او زده کوونکو تـه د څېړنې کړنلاره پرېښودل کیږي؛ ترڅو پخپله یې زده کړي او طی یې کړي. د دې کتاب د قوت له نقاطو څخه یوه قوي نقطه دا ده، چې د تحقیق نوي پیل کوونکي ته په یوځاي او قدم په قدم لارښوونه او د څېړنې ځانګړي قالبونه وړاندې کوي، نه د یوې مکملې نسخې او لیست په شکل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کاري موضـــوع په ســـاحه کې او د څېړنيزې پروژې په کار اچولو کې ددې مرحلو له مخې کار کول خپله د تحقيق تګلاره کې د پوهې د مناســـبې کچې د شـــتون څرګندونه کوي. د اړوند اثارو يوه لنډه کتنه د دې پوهې د اساس په پراخه کولو او قوي کولو کې هم ډېره مرسته کوي. پرته له دې چې د موضوع ساحه په واضح اوکافي ډول تحليل او وپېژنئ، دا ستونزمن کار دی. که تاسو غواړئ، چې د کومې ځانګړې څېړنيزې موضـوع، نظر، پوښـتنې يا مسـئلې په اړه تحقيق وکړئ (کوم چې د زده کوونکو په منځ کې عادي ندي)؛ نو تاسو به لومړی د لاندې مرحلو څخه قدم په قدم تېرېږئ.

**لومړی قدم**

د موضـوع ټاکل: تاسو د خپلې خوښې وړ موضوع وپېژنئ، او له خپل ځان وپوښتئ، چې آيا دا هغه څه دي، چې واقعاً زه ورســره د يو مســلکي شــخص په توګه د څېړنې لپاره ليوالتيا لرم؟

د ليکوال په باور د فراغت پر مهال د موضوع په اړه فکر کول ښه کار دی؛ ځکه چې تاسو غواړئ د فراغت وروسته پرې کار وکړئ. دا فکر کول به تاسو سره مرسته وکړي، چې په زړه پورې موضوع ومومئ او ممکن په راتلونکي کې ستاسو لپاره ګټوره هم وي. د مثال په توګه که تاســـو د ټولنيز کار زده کونکي ياســـت او لېوالتيا لرئ، چې له فراغت وروســـته د ځوانانو د هوســاينې، مهاجرينو ســوکالۍ يا کورني تاوتريخوالي محوه کولو په برخه کې کار وکړئ، يا ممکن په دې برخو کې يو څه څېړنې وکړئ. يا ســـتاســـو د بازار موندنې څېړنه کوئ، يا ممکن د مشتريانو د چلند له تحقيق سره علاقه لرئ، يا د عامې روغتيا د برخې د زده کونکي پـه توګـه د HIV/AIDS ناروغانو ســـره د کار کولو اراده لرئ؛ نو ممکن تاســـو د HIV/AIDS په موضـوع پورې اړوند څېړنې ترسره کړئ. تر هغه ځايه، چې د تحقيق سفر پرمخ ځي، دا د څېړنې پراخه ساحې دي. اړينه ده چې تاسـو د خپل څېړنيز سفر د پيل او تر سره کولو د مخه د خپلې خوښې ساحه وپېژنئ.

**دوهم قدم**

د موضـــوعـاتو ويش: د هر څـه د مخه پراخه موضـــوع يا ســـاحه په فرعي موضـوعاتو او سـاحو وويشـئ، او ځان پوهه کړئ، چې پورته ذکر شوي ټولې پراخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



موضـوع ګانې او ساحې (ځوانانو هوساینه، کډوالي، کورنی تاوتریخوالی، د مشتریانو چلنـد او HIV/AIDS نـاروغـان ...) ډېر اړخونـه لري. د مثـال پـه توګـه د کورني تاوتریخوالي په برخه کې ډېری اړخونه او مسئلې شتون لري، چې په څلورم فصل او اول شـکل کې ښـودل شـوي دي، په ورته ډول تاسـو کولی شئ د نورو برخو لکه د ټولنې روغتیا یا مشـتریانو په اړه تحقیق او نورو څخه هره موضـوع او سـاحه وټاکئ او د تحلیل په نتیجه کې پروسه پر مخ یوسئ.

د فرعي موضـوعاتو (عنوانونه) د لیسـت په چمتو کولو کې باید تاسـو د هغه چا سـره هم مشـوره وکړئ، چې ستاسو د موضوع په برخه کې د موضوع او لیکنو په اړه یو څه پوهه لري. کله چې تاسـو د مختلیفو سـرچینو څخه د فرعي موضـوعاتو (عنوانو) یو بشـپړ لیسـت رامینځته کړئ؛ نو بیا راتلونکې مرحلې ته لاړ شئ چېرې، چې تاسو د خپلې پلټنې د اساس انتخاب کوئ.

**دریم قدم**

د خوښـې وړ موضـوع ټاکل: داسې موضوع انتخاب کړئ، چې تاسو ورسره ډېره مینه لرئ: د ټولو فرعي موضـوعاتو د مطالعه کولو لپاره نه مشـوره ورکول کېږي او نه هم امکان لري؛ نو داسې یوه ساحه یا موضوع غوره کړئ، چې تاسو ورسره مینه لرئ دا؛ ځکه چې سـتاسـو علاقه د انتخاب لپاره ډېره مهمه ده، د څېړنیزې سـتونزې په انتخاب کې فکر کول ډېر مهم دي، او بیا تر ټولو د ډېرو اصـلي او فرعي عناوینو تر منځ د غوره موضوع د ټاکلو پروسه پیل کړئ، د غوره موضوع د ټاکلو اسـانه لاره دا ده، چې د خپلو موضـوعاتو ترتیب کړي لیست ته لاړ شئ او ټول هغه فرعي عنوانونه، چې تاسـو ورسـره علاقه نه لرئ حذف کړئ، یاده پروسـه تر اخیره ورسـوئ. یادې پروسـې ته تر هغه وخت پورې ادامه ورکړئ؛ ترڅو تاسـو سـره هغه څه یعنې موضـوع پاتې شي، چې د وخت په پام کې نیولو سـره د مدیریت وړ وي او د څېړنې د ترسـره کولو لپاره ستاسو د مهارت کچې سره برابره او کافي سرچینې هم ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې تاسې ښه اطميناني شوئ چې يوه داسې موضوع مو انتخاب کړې ده، چې تاسـو يې په اړه ليواله ياسـت او اداره کولی يې هم شـئ؛ نو بيا کولی شـئ، چې راتلونکي مرحلې ته لاړشئ.

**څلورم قدم**

د څېړنې لپاره د پوښـتنو برابرول: په دې مرحله کې له ځانه وپوښـتئ، چې کوم څه زه غواړم معلومات ترلاسه کړم؟ ستاسو په ذهن کې، چې د فرعي موضوع د جزياتو په اړه کوم ډول پوښـتنې ګرځي يو ليسـت په شـکل يې تنظيم کړئ، او وروسـې د حذف له پروسې بيا کار واخلئ لکه څرنګه مو چې په دريم قدم کې چاره ترسره کړه؛ نو تر ټولو غوره او مهمه پوښتنه به له تاسو سره پاتې شي.

**پنځم قدم**

د خپلې څېړنې لپاره د موخو ترتيبول: پدې برخه کې تاسـو اړ ياسـت، چې خپلې اصلي او فرعي دواړه ډوله موخې، چې سـتاسـو د څېړنيزو پوښـتنو په پايله کې رامينځته کيږي سـره تنظيم کړئ، د څېړنيزو اهدافو او پوښـتنو ترمنځ اصـلي توپير دا دی، چې په کې ليکل شـوي. د څېړنې پوښـتنې په څرګنده توګه سـتاسـو د اهدافو د حصـول په موخه کارول کيږي او همدا اهداف دي چې د حصـول لپاره يې تاسـو پوښـتنو ترتيب ته اړي ياست. لکه موندل، معلومول ، تشخيص کول او معاينه کول.

ځينې څېړونکي يوازې د څېړنې لپاره د پوښـتنو په شتون اکتفاء او بسنه کوي او څېړنيز اهـداف پکې نه بيانوي، ځينې بيا څېړنيز اهداف څېړنې لپاره کافي بولي او ځينې بيا په خپله څېړنه کې دواړه کاروي، خو تاسـو د خپلې موضـوع په اړه غور وکړئ، چې کومه لاره يې ټاکئ؛ مګر تاسو بايد د ادارې اړتياوې په پام کې ونيسئ او په هماغه ډول مخکې لاړ شي، د اهدافو جوړولو په موخه د راهمنايي لپاره وروسته برخه وګورئ.

**شپږم قدم**

د خپلو موخو ارزول: اوس خپل اهداف وازمايې؛ ترڅو د خپلو څېړنيزو هڅو له لارې د دوی د لاسـته راوړنې امکانات او لارې چارې ومومئ. د خپلو موخو د لاسـته راوړلو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخه کې وخت، سرچینې(مالي او انساني) او ستاسو موجود تخنیکي مهارت په پام کې ونیسئ.

**اووم قدم**

دوهم ځلي کتل یا بیا چیک کول.

بېرته لومړي قدم ته لاړشئ او له سره کتنه وکړئ، چې آیا تاسو له څېړنې سره کافي لیولتیا لرئ یا نه، د څېړنې د ترسره کولو لپاره کافي سرچینې لرئ؟ له ځانه وپوښتئ، چې آیا زه واقعاً د دې مطالعې لپاره لیوالتیا لرم؟ او آیا زه واقعاً دومره امکانات لرم چې دا څېړنه ترسره کړم؟ یادو پوښتنو ته په عقلي او عملي ډول ځواب ورکړئ. که چېرې کومې یوې پوښتنې ته مو ځواب نه درلود؛ نو خپل اهداف له سره وارزوئ.

د ځلورم فصل دوهم شکل څخه د ځلورم فصل تر ځلورم شکل پورې شکلونه د مختلیفو اکاډمیکو څانګو (روغتیا، ټولنیزکار/ ټولنیزو علومو او ټولنیزې پراختیا) په برخو کې د لومړي څخه تر اووم قدم پورې د مراحلو مثالونه څرګندوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






۴-۲- شکل: د څېړنيزې د ستونزې په طرحه کولو کې قدمونه – الکولیزم (د شرابو معتاد)

(c) ketabton.com: The Digital Library






۴-۳- شکل: د څېړنې د ستونزې طرحه کول- د زیږون او مړینې تر منځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ بېلګه: فرض کړئ چې تاسو غواړئ د روغتیا په برخه کې یوه مطالعه ترسره کړئ. دا قدمونه تعقیب کړئ.




۴-۴- شکل: د څېړنې د ستونزې کوچنې کول یا محدودول- روغتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د څېړنیزو اهدافو ټاکل

موخې او مقصـــدونه هغه څه دي، چې تاســو په خپله مطالعه کې د ترلاســه کولو لپاره ټاکلي وي. دا چې دا اهداف لوستونکي له هغه څه څخه خبروي، چې تاسو یې د څېړنې له لارې لاسته راوړل غواړئ؛ نو اړینه ده، چې په واضح او مشخص ډول ولیکئ.

په څېړنه کې باید موخې د دوه سرلیکونه لاندې د لیست په بڼه ولیکل شي.

الف - اصلي موخې/ اهداف

ب - فرعي موخې/اهداف

اصـــلي هدف ســـتاســـو د مطالعې عمومي روح بیانوي. دا په حقیقت کې د هغو اسـاسـي اړیکو او اشـیاوو بیان دی، چې ستاسو یې کشف او ترلاسه کوئ. فرعي اهداف بیا سـتاسـو د څېړنیزې موضـوع هغه ځانګړې اړخونه دي، چې تاسـو یې غواړئ د خپلې مطالعې په اصلي چوکاټ کې پرې تحقیق وکړئ.

فرعي اهداف باید په شـماره وار ډول لیست او له ابهام پرته په واضح او څرګنده توګه وویل شـي. تاسـو باید پوهه یاست، چې هر فرعي هدف ستاسو د څېړنې یو اړخ ته اشـــاره کوي؛ نو د خپلو اهـدافو د لیکلو پر مهاـل د عمل څرګندوونکې کلمې یا فعلونه وکاروئ. یعنې موخې باید په داسې کلمو سـره پیل شي، چې فعلي بڼه ولري لکه ټاکل، موندل، معلومول، اندازه کول او سپړل.

د اصـــلي او فرعي اهدافو لپاره د واضـــح کوونکو کلمو څرنګوالی دا په ګوته کوي، چې ستاسو څېړنه څرنګه بڼه لري، د بېلګې په توګه تشریحي، ارتباطي یا تجربوي. یا په بل عبارت د اهدافو څرګندوونکي کلمات ســتاســو د څېړنې ډیزاین او ډول ټاکي، چې تاسـو ورته اړتیا لرئ او د ترلاسـه کولو لپاره یې غوره کړئ. له همدې امله د خپلو اهـدافو د بیـانولو د څرنګوالي په اړه محتاط اوســئ. د څېړنې د نوعیت په پام کې نیولو پرته اهداف باید په دې ډول بیان شـــي چې ټکي په څرګند،بشـــپړ او په ځانګړي توګه لوسـتونکو ته سـتاسـو اراده بیان کړي. د ابهام، غیر مشخصیت یا نیمګړتیا لپاره پکې هېڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای شتون و نه لري. څلورم فصل او پنځم شکل (۴،۵) د څېړنې په ډول پورې د اړوند موخو د کلماتو د بيان او استعمال ځانګړتياوې څرګندوي.




۴-۵- شکل: د اهدافو ځانګړتياوې

که ستاسو څېړنه او مطالعه توضيحي بڼه ولري؛ نو د څېړنې څخه بايد ستاسو اصلي هدف او په څېړنه کې زيات تمرکز په تشريح وي، حتی پرته له دې، چې د سازمان او د هغې موقعيت ذکر کول هم محرم وساتل شي (د مثال په توګه که غواړې د تداوۍ او درملنې اړوند برنامې ډولونه تشريح کړئ)؛ نو د خدماتو کارونکو( دوا استعمالوونکي) او د خدماتو د وړاندې کوونکې (سازمان نوم) او حتٰی د (ځای نوم) په اړه بايد هم وضاحت ورکړل شي، يا د يادو خدماتو په اړه د ټولنې د نظر موندلو لپاره د (روغتيا مرکز/ځانګې نوم)، د خدماتو د ارايه کولو محل (ځاي نوم)، د سازمان پېژندل او د هغې موقيعت مهم دی؛ ځکه چې خدمات ممکن د موقعيت او سازمان لپاره ځانګړي وي او ممکن د نورو سازمانونو لخوا د چمتو شوي خدماتو استازيتوب ونکړي.

که په طبيعت کې ستاسو مطالعه او څېړنه ارتباطي وي؛ لکه څرنګه چې په څلورم شکل کې هم ښودل شوېده؛ نو د لومړيو دريو ځانګړتياو سربېره بايد ستاسو مطالعه د هدف اصلي موخې، هماهنګي او بدلونونه هم په بر کې ولري. د بېلګې په توګه که د کورنی په رول باندې د مهاجرت د تاثيراتو پرتله کولو يا د زده کوونکو د پوهاوي په اړه د مختليفو تدريسي ميتودونو د مؤثريت مقايسه کولو په موخه څېړنه کوئ او ستاسو د مطالعې مقصد ټولنيز بدلون او د فرضيې ازمول وي؛ نو د اصلي اهداف مو بايد د اړيکو ازمويل شويی اړخ هم په ګوته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بېلګې په توګه د دې معلومول، چې آیا د ځوانانو بې کاري د سرک غاړې جرمونو او پېښې ډېروي؟ یا دا مسئله واضح کوئ، چې آیا د استرالیا په لرې پرتو او کلیوالي سیمو کې میشتو خلکو، میندو او ماشومانو ته د روغتیایي خدماتو چمتو کول کولی شي د ماشومانو د مړینې کچه راټیټه کړي؟.

## د نفوسو مطالعه

تر دې دمه موږ یوازې په یو اړخ تمرکز کړی او هغه څېړنیزه ستونزه ده. مګر په ټولنیزو علومو کې هره مطالعه دوهم اړخ هم لري، چې هغه د هغو وګړو مطالعه ده له کوم څخه، چې تاسو د څېړنیزو پوښتنو د ځواب موندلو لپاره اړین معلومات ترلاسه کوئ. لکه څرنګه چې تاسو د څېړنې ستونزه محدودوئ، په ورته ډول اړتیا لرئ، چې په ځانګړي او واضح ډول پریکړه وکړئ، چې تاسو د کومو خلکو څخه معلومات راټولوئ، د مناسب ځواب ورکونکو اشخاصو د انتخابولو لپاره فرض کړئ، چې تاسو یوه داسې مطالعه ډیزاین کړې ده؛ ترڅو په ټولنه کې د ځوانانو اړتیاوې معلومې کړئ.

د پورتنۍ څېړنې لپاره د خلکو د ټاکلو په شرایطو کې لومړۍ پوښتنه چې تاسو ورته اړتیا لرئ هغه دا ده: زه څوک ځوان ګڼم؟ تاسو باید پریکړه وکړئ، چې د ځواب ورکوونکو خلکو کې زما موخه د کوم عمر اشخاص دي؟. آیا دا هغه څوک دي، چې عمرونه یې د ۱۰ – ۱۵، ۱۵–۲۰ او ۱۵–۲۵ کلونو ترمنځ وي؟ یا تاسو غواړئ د بل کوم عمر لرونکي وګړي وټاکئ. د عمر مشخص کول او په اړه یې تصمیم نیول، چې تاسو چاته ځوان وایاست، راټلونکې پوښتنې ته لار همواروي او هغه دا چې آیا تاسو غواړئ د هر ډول جنډر څخه ځوانان انتخاب کړئ یا یوازې یوه برخه د مطالعې لپاره محدوده کوئ؟ سربېره پردې یو بل اړخ هم باید په پام کې ونیول شي، ستاسو د څېړنې لپاره د سیمې په اعتبار د خلکو ټاکل دي، چې د کومې جغرافیوي سیمې یا قوم څخه باید زه خپل ځواب ویونکي انتخاب کړم؟

راځئ چې یو بل مثال راواخلو. فرض کړئ، چې تاسو د مهاجرینو او د هغوی د سکونت بهیر څېړئ. ستاسو د څېړنې د یوې برخې د پېژندلو په توګه تاسو اړ یاست تصمیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونيسئ، چې تاسو به څوک مهاجر وګڼئ؟ آيا دا هغه څوک دي، چې ۱۰ ، ۱۵ يا ۲۰ کاله د مخه کډوال شـوي وي؟ تاسـو اړ ياسـت هغو هېوادونو ته هم پاملرنه وکړئ کوم ته، چې کډوال راځي. آيا تاسو به د اصلي هېواد په پام کې نيولو پرته خپل ځواب ويونکي وټاکئ يا يواځې هغه څوک، چې صرف د يو مشخص هېواد څخه راغلی وي؟ تاسو اړ ياست، چې د خلکو د ټاکنې نوعيت تعريف او محدود کړئ؛ ځکه چې د څېړنېزې ستونزې د تعقيب لپاره منظمو عملياتي تعريفونو رامنځته کولو ته اړتيا ده؛ ترڅو خلک او د مطالعې سـاحه مشخصه او ستاسو د څېړنې کتونکو ته هم هر څه روښانه وي.

په کيفي څېړنه کې د پلټلو(د داســې څېز مطالعه يا څېړنه کول، چې مخکې نه وي پېژندل شـوی) فلسفې چلند اساس منعکس کوي، د وګړو مطالعه او څېړنېزه ستونزه دواړه بايد اســانې او انعطاف پذيرې پاتې شــي؛ ترڅو په هر وضــيعت کې څېړنې ته په کتنې د مختليفو او کره معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره اړينه خپلواکي هم تضمين شي.

## د کاري تعريفاتي چوکاټ جوړښت

د ستونزې په تعريف کې تاسو ممکن ځينې ټکي يا توکي وکاروئ، چې اندازه کول يې ســـتونزمن وي او يـا پوهيـدل پرې ممکن د يو ويونکي څخه بل ته توپير ولري. په يوه څېړنيزه مطالعه کې اړينه ده، چې تاسـو د کارېدونکو مقرراتو، شـاخصـونو يا معيارونو د تعريف او واضـح کولو لپاره يو منظم چوکاټ تنظيم او رامينځته کړئ؛ ترڅو د دې ډول ټکو/توکو مانا په واضح ډول څرګنده شي.

ځينې وختونـه اړتيـا پيښــيږي، چې پـه څېړنـه کې د هغـه ځاي د خلکو څخه، چې معلومات تر لاســه کوئ، د خلکو څخه په واضــح ډول تعريف وړاندې کړئ، هغه مفاهيم بايد هم تشـريح کړئ، چې تاسو يې د خپلې څېړنيزې ستونزې او يا د وګړو د ټاکو او اندازه کولو د بنې په پېژندلو کې استعمالوئ، دا عمل د يا عملياتي تعريفونه بلل کيږي.

تاســو بايد پوه شــئ کوم کاري تعريفونه، چې تاســو يې رامنځته کوئ يوازې ســتاســو د څېړنې لپاره دي او ممکن له قانوني او هغو تعريفاتو ســره، چې د نورو لخوا کارول کيږي سـره توپير ولري. لکه څرنګه چې د مفاهيمو پوهه کولی شي له يو شخص

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه بل ته توپیر ولري؛ نو ستاسو د کاري مفاهیمو وضاحت به لوستونکي پدې پوهه کړي، چې ستاسو موخه د دغو مفاهیمو له استعمال څخه څه ده؟

دا ډول وضاحت د لاندې مثالونو په څېر مطالعاتو کې ډېره مرسته کوي، چې اصلي اهداف یې په لاندې ډول وي.

۱. په استرالیا کې د فقر تر کرښې لاندې د ژوند کوونکو ماشومانو شمېر معلومول.

۲. د کورنۍ په رول باندې د کډوالۍ او مهاجرت د اغیزو معلومول

۳. ۳-د ځوانانو سره د مرستې په موخه د بیا ځلې روزنېزو ډیزاین شویو برنامو د اغیزمنتیا اندازه کول.

نږدې هر لوی ګام (لاسته راوړنه) د ساينس په تاريخ کې د طبيعت وړاندوينې(اټکل) رامنځته شوي، دا د فرضيې د ايجاد په واسطه رامنځته شوي، که څه هم تائيد وی، اکثرا وختونه يې د پيل کولو خورا لږ اساس درلود.(ټ.ايچ.هکسلي په کوهن او ناګيل کې په ۱۹۶۶:۱۹۷ کې ذکر شوي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د فرضيې تعريف

په کمي څېړنه کې د څېړنې ستونزې رامنځته کولو کې دوهمه مهمه پاملرنه د فرضيې جوړول دي. فرضيې د تحقيق مسئلې ته توضيح او توجو راوړي؛ خو د مطالعې لپاره لازمي نه دي. تاسو کولی شئ پرته د يو رسمي فرضيې له جوړولو معتبر تفتيش ترسره کړئ څومره چې مناسب ګڼې. ځينې په دې باور دي، چې يو څوک بايد د تفتيش لپاره فرضيه جوړه کړي، په هر صورت ليکوال دا نظر نه لري. فرضيې په عمده ډول د ګمانونه له سيټ څخه رامنځته کيږي، چې د مطالعې ترسره کړي. په هر صورت ايپيډيمولوژيک(د طبي ساينس څانګه د ناروغيو د ليږد او کنټرول مطالعه کوي) مطالعاتو کې د تفتيش ساحې تنګولو لپاره اړينه ده، چې فرضيې رامنځته کړئ.

د فرضيې اهميت د څېړنې مطالعې ته د سمت، مشخصيت او تمرکز راوستلو په وړتيا کې دي. دوی يو څېړونکي ته لارښوونه کوي، چې کوم ځانګړي معلومات راټول کړي او په دې توګه لوی تمرکز چمتو کوي. راځئ، چې فرض کړو، چې تاسو په يوه سيالۍ کې ياست او شرط مو ولګولو. تاسو په دې شرط ولګولو، چې يو خاص اس به يې وګټي. تاسو به يوازې په دې پوه شي، چې ستاسو ګمان د ځغاستې وروسته سم و. بل مثال واخلئ. فرض کړئ، چې تاسو ګمان کوي، چې ستاسو په ټولګي کې د سګريټ نه څښونکو څخه ډېر سګرټ څښونکي شتون لري. د خپل ګمان ازموينې لپاره تاسو يا ټول يا يوازې د ټولګي څخه پوښتنه وکړئ که دوی سګرټ څښونکي وي. بيا تاسو کولی شئ دې پايلې ته ورسيږئ، چې ايا ستاسو ګمان سم وو يا غلط.

اوس راځئ چې يو څه مختلف مثالونه واخلو. فرض کړئ، چې تاسو د عامې روغتيا په برخه کې کار کوئ. ستاسو کلينيکي تاثير دا دی، چې د يو ځانګړي حالت لوړه کچه د خلکو په منځ کې غالبيږي، چې د ځانګړي نفوس فرعي ډلې څخه راځي. تاسو غواړئ د دې وضعيت احتمالي علت ومومئ. ډېری لاملونه يې کيدای شي. د هر احتمالي امکان د سپړلو لپاره به ډېر وخت او سرچينو ته اړتيا وي. له دې امله د انتخاب محدودولو لپاره ستاسو د ساحې په اړه پوهه باندې تاسو کولی شئ هغه څه وپېژنئ، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو يې خورا احتمالي دليل ګڼې. بيا تاسو کولی شئ يوه مطالعه ډيزاين کړئ؛ ترڅو خپل ګمان تصديق کولو لپاره اړين معلومات راټول کړئ.که په تائيد کې تاسو وتوانيږئ دې پايلې ته ورسيږي، چې فرض شوي لامل د حالت اصلي لامل و؛ نو ستاسو انګيرنه به سمه وه.

په دې مثالونو کې تاسو د يو سطحي ګمان يا فرض کولو سره پيل وکړ. په يوه قضيه کې (د اس ِ ځغاسته) تاسو د پېښې پيښېدو لپاره انتظار ايستلی او په دوو نورو مواردو کې تاسو د خپلې انګيرنې د اعتبار ارزلو لپاره يوه څېړنه طرحه کړې او يوازې د محتاط تحقيق وروسته به د خپلو انګيرنو د اعتبار په اړه يوې پايلې ته رسيدلی؟. د فرضيې د ورته منطق پر بنسټ ولاړ دي.

د يوه څېړونکي په توګه تاسو د يوې پديدي، وضعيت، په نفوس کې د حالت خپريدو يا د برنامې پايلې په اړه نه پوهيږي؛ مګر تاسو د ځينې انګيرنو يا اټکلونو اساس رامنځته کولو فکر لرئ.

تاسو معلوماتو په راټولولو سره يو له بل څخه ازموئ، چې دا به تاسو ته وړتيا درکړي، چې پايلې ته ورسيږي که ستاسو ګمان سم و.

د تائيد پروسه کولی شي له دريو څخه يوه پايله ولري. ستاسو ګمان ممکن ثابت شي: يو څه سم يا غلط.د دې تائيد پروسې پرته تاسو نشئ کولی د خپلې انګيرنې اعتبار په اړه هيڅ شی لاسته راوړئ.

له دې امله فرضيه يوه پديده، يو ګمان، انګيرنه، شک، ادعا يا د يوې پيښې په اړه نظر، اړيکې يا وضيعت په اړه نظر، واقعيت يا حقيقت چې تاسو يې نه پېژنئ. يو څېړونکی دا انګيرنې، ادعاوې، بيانات يا د ګمان فرضيې بولي او دا د تفتيش اساس کيږي. په ډېرو مطالعاتو کې فرضيه به د تيرو مطالعاتو يا ستاسو د خپل يا بل چا د مشاهدې پر اساس وي. د فرضيې ډېر تعريفونه شتون لري. د کرلنګر په وينا يو فرضيه د دوه يا ډېرو متغيرونو تر منځ د اړيکو اټکلونکی بيان دی(۱۷:۱۹۸۶). د ويبسټر دريم نوی نړيوال قاموس(۱۹۷۶) يوه فرضيه داسې تعبيروي: داسې وړانديز، حالت يا اصول، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګومان کیږي، شاید د باور پرته، د دې منطقي پایلې راوباسي او د دې میتود په واسطه د هغه حقایقو سره د هغې موافقي ازموینه وکړي کوم، چې پېژندل شوي یا ټاکل کیدای شي.

بلکه او چمپین فرضیه داسې تعریفوي: د یو څه په اړه ازمایښتي/امتحاني بیان دي، چې اعتبار یې عموما نامعلوم وي (۱۹۷۶:۱۲۶). په بل تعریف کې بیلی یوه فرضیه داسې تعریف کوي: یو پروپوزل، چې د ازموینې وړ بڼه کې ویل شوی او دا د دوه( یا ډېرو) متغیرونو تر منځ د ځانګړي اړیکو وړاندوینه کوي. په بل عبارت که موږ فکر وکړو، چې اړیکې شتون لري، موږ لومړی د فرضیې په توګه بیان کوو او بیا په ساحه کې د فرضیې ازموینه کوو.(۱۹۷۸:۳۵)

د ګرینیل په وینا: یوه فرضیه په داسې ډول لیکل شوې، چې دا د اعتبار وړ او باوري معلومات ثابت یا رد کړای شي. دا د دې معلوماتو ترلاسه کولو لپاره دی، چې موږ خپله مطالعه ترسره کوو.(۱۹۸۸:۲۰۰)

له پورته تعریفونو څخه دا څرګنده وشوه، چې فرضیه یو څو ځانګړتیاوې لري.

۱. دا یو ازمایښتي وړاندیز دی.
۲. د دې اعتبار نامعلوم دی.
۳. په ډېرو قضیو کې دا د دوه یا ډېرو متغیرونو تر منځ اړیکه ټاکي.

## د فرضیې دندې

په داسې حال کې چې ځینې څېړونکي په دې باور دي، چې د مطالعې ترسره کول فرضیې ته اړتیا لري، د فرضیې درلودل لازمي نه دي؛ لکه څرنګه چې مخکې ویل شوي. په هر صورت د څېړنې ستونزې ته د وضاحت راوړو لپاره فرضیه مهمه ده. په ځانګړې توګه فرضیه لاندې دندې ترسره کوي.

- د فرضیې جوړښت د تمرکز سره یوه مطالعه چمتو کوي. دا تاسو ته وایي چې د څېړنې ستونزه کوم ځانګړي اړخونه وپلټئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- يوه فرضـيه تاسـو ته وايي چې کوم معلومات راټول کړئ او کوم مه راټولوئ؟ په دې توګه د مطالعې تمرکز چمتو کوي.
- لکـه ځرنګـه چې دا تمرکز چمتو کوي، د فرضـــيې جوړول پـه مطـالعـه کې عينيت(حقيقت) زياتوي.
- يوه فرضيه ممکن تاسو ته وړتيا درکړي؛ ترڅو د تيوري په جوړولو کې يو څه اضـافه کړي. دا تاسو ته وړتيا درکوي په ځانګړي ډول دې پايلې ته ورسيږي، چې ريښتيا دي يا غلط.

**د فرضيې ازموينه**

د فرضـيې د ازميښـت لپاره تاسـو اړتيا لرئ ياده پروسـه کې درې مرحلې ترسـره کړئ.

(۱)د فرضيې جوړول (۲) د مناسبو شواهدو راټولول (۳) د شواهدو د تحليل لپاره او د هغه د اعتبار په اړه پايلې شکل ۶،۱ د پروسې انځوريزه ښه ښايي.




۶-۱- شکل: د فرضيي د ازمويلو پروسه

دا يوازې د شواهدو د تحليل وروسته ده، چې تاسو کولی شی دې پايلې ته ورسيږئ، چې ايا ستاسو ګمان يا فرضيه ريښتيا وه يا غلطه. کله چې تاسې د يوې فرضيې په اړه پايله اخلئ؛ نو عموما تاسو د فرضيې د سموالي په اړه يو بيان ورکوي، چې ايا دا فرضيه سمه ده يا غلطه.

نو له همدې امله لازمي دي چې تاسـو خپل فرضـيې په روښـانه دقيقه او داسې ښه ترتيب کړئ، چې د ازموينې وړ وي. سـتاسو د فرضيې د اعتبار په اړه يوې پايلې ته رسيدو سره هغه لار، چې تاسو خپل شواهد راټولوئ د مرکزي اهميت څخه برخمن دي او له همدې املـه لازمي دي، چې ســـتاســـو د مطالعې ډيزاين، نمونه، د معلوماتو راټولولو طريقې، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلوماتو تحلیل او پایلې او د خبرو اترو اړیکه، باوري پایلې، باید مناسب او له هر ډول تعصب څخه پاکې وي.

## د فرضیې ځانګړتیاوې

د فرضیې د جوړولو پر مهال یو شمېر نظریات په پام کې ونیول شي؛ ځکه چې دا د تائید لپاره مهم دي. د همدې لپاره د فرضیې کلمات باید ځېنې خاصیتونه ولري، چې تاسو ته یې د اعتبار درک کول اسانه کوي. دا صفات عبارت دي له.

یوه فرضیه باید ساده، مشخصه او مفهوم یې روښانه وي. د فرضیې په جوړولو کې د ابهام لپاره هېڅ ځای نشته؛ ځکه چې ابهام به ستاسو د فرضیې تصدیق تقریبا ناممکن کړي. دا باید یو اړخیزه وي.

دا باید په یو وخت کې یوازې یوه اړیکه یا ګمان وکړي. د ښې فرضیې د رامنځته کولو لپاره تاسو باید د موضوع ساحې سره اشنا شئ (د ادبیاتو بیاکتنه خورا مرسته کوي). څومره چې تاسو د ستونزې په اړه پوهاوی ولرې، د فرضیې جوړول اسانه دي. لکه په لاندې مثالونه کې.

په دې صنف کې د نارینه زده کونکو اوسط عمر د ښځینه زده کونکو څخه لوړ دی.

پورته فرضیه روښانه، مشخص او د ازموینې لپاره اسانه ده. دا تاسو ته وایي چې تاسو څه شي د پرتله کولو هڅه کوئ( د دې ټولګي اوسط عمر) کوم نفوس ګروپونه پرتله کیږي(ښځینه او نارینه زده کونکي) او څه چې تاسو غواړئ تنظیم کړئ (د نارینه زده کونکو لوړ اوسط عمر).

راځئ چې یو بل مثال واخلو: د ځان وژنې کچه د ټولنیز یووالي سره په متفاوت ډول توپیر لري. (بلک او چمپین ۱۹۷۶:۱۲۶)

دا فرضیه روښانه او مشخص ده؛ مګر د ازموینې لپاره خورا ډېره مشکله ده. د دې فرضیې درې اړخونه دي: (د ځان وژنې کچه) په متفاوت ډول توپیر کوي،کوم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اړيکو سـمت ټاکي او ټولنيز پيوستون د ځان وژنې نرخ موندولو لپاره دا رامنځته کول، چې ايا اړيکې مقابل اړخ لري يا بل څه نسـبتا اسـانه دي؛ مګر د ټولنيز پيوسـتون موندنه خورا ډېر ستونزمن کار دی. ټولنيز پيوستون څه شي ټاکي؟ دا څرنګه اندازه کيدای شي؟ دا ستونزه د دې فرضيې ازمول خورا ګرانوي.

يوه فرضيه بايد د تصديق وړ وي. ميتودونه او تخنيکونه بايد د معلوماتو راټولولو او تحليل لپاره شتون ولري. د فرضيې په جوړولو کې هېڅ مانا شتون نه لري که چېرې دا د تائيد تابع نه شي؛ ځکه چې د دې تصديق کولو لپاره هېڅ تخنيک شتون نه لري. په هر صـورت دا لازمه ده، چې تاسو بايد داسې فرضيه جوړه نه کړئ، چې د تصديق لپاره يې هېڅ ميتودونه شـتون نه لري. تاسـو ممکن د خپلې څېړنې په جريان کې د دې تصـديق کولو لپاره نوي تخنيکونه رامنځته کړئ.

فرضيه بايد د پوهې موجوده برخې پورې اړه ولري. دا مهمه ده، چې ستاسو فرضـيه د پوهې موجوده برخې څخه راپورته شـي او دا په دې کې اضـافه کوي؛ ځکه دا د څېړنې مهمه دنده ده، چې سـتاسـو فرضـيه د پوهې موجوده برخې څخه راپورته شـي او دا په دې کې معلومات اضـافه کوي؛ ځکه چې دا د څېړنې مهمه دنده ده. دا يوازې هغه وخت ترلاسـه کيدای شـي، چې فرضـيه د پوهې موجوده برخې کې ريښې ولري.

يوه فرضـيه بايد د عمليي(Operationalizable) کيدو وړ وی. دا په دې مانا ده، چې دا په شـرايطو کې څرګند او اندازه کيدای شـي. که دا اندازه نشـي؛ نو دا ازمول کيدای نشي او له همدې امله هېڅ نتيجه نشي ترلاسه کيدای.

## د فرضيې ډولونه

په تيوري کې بايد يوازې يو ډول فرضيه شتون ولري، هغه د څېړنې فرضيه ده، ستاسو د تحقيق اساس دی. په هر صـورت په سـاينسي پوهنتنو کې د تړون له امله او د فرضيې په جوړولو کې د کارول شـوي ټکي له امله فرضـيې په څو ډولونو ويشـل کيدای شـي. په پراخه توګه د فرضيې دوه کټګورۍ شتون لري:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د څېړنې فرضیې

### بدیله فرضیه

د بدیلې فرضیې تشکیل په ساینسي حلقو کې یو دود دی او اصلي یې دنده دا ده، چې اړیکې په څرګنده توګه مشخصې شي که د څېړنې فرضیه غلطه ثابت شي؛ نو هغه به ریښتیا وګڼل شي. په یو ډول بدیله فرضیه د تحقیقي فرضیې برعکس ده. په دودیز ډول یوه صفري فرضیه یا د هېڅ توپیر فرضیه د یو متبادل فرضیه په توګه جوړه شوې ده. د مثال په توګه. فرض کړئ، چې تاســو غواړئ د دې اغېزې ازموینه وکړئ، چې د میندو او ماشــومانو روغتیا خدماتو(MCH) او تغذیه ضــمیمه (NS) مختلف ترکیبونه د ماشــوم مړینې پــه کچــه بــانــدې څــه اغیز لري. د دې ازموینې لپــاره دوه پر دوه واقعتي تجربوي ډیزاین(a two-by-two factorial experimental design) اخېستل شوی.( ۲-٦ شکل وګورئ).

| د تغذیي بشپړونکی (NS) | | د مور او ماشوم روغتیایي خدمتونه (MCH) | |
|---|---|---|---|
| | | وو | نه |
| | وو | MCH+NS | NS |
| | نه | MCH | Control |

٦-۲- شکل: د MCH، NS او د ماشومانو د مړینې تر منځ د اړیکو د مطالعې لپاره دوه پر دوه فکتوري تجربه

د فرضیې جوړونې ډېری لارې شتون لري. د مثال په توګه.

۱ . د درملنې مختلف ډولونو کې د ماشــوم مړینې کچې کې به هېڅ توپیر شــتون ونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٢. د MCH او NS درملنې ډلې بـه د MCH درملنې يوازينى ډلې د NS يوازينى درملنې ډلې يا کنټرول ګروپ په پرتله د ماشوم مړينې کې لوى کمښت ثبت کړي.

٣. د MCH درملنې ګروپ کې د ماشـــومانو په مړينه به د پنځو کلونو په اوږدو کې ٣٠/١٠٠٠ کچې ته ورسيږي.

٤. د نوي زيږون کې مړينه کمول به د MS درملنې ډلې کې يوازې د NS ګروپ په پرتله پنځه ځله لوى وي.

٥. راځئ، چې يو بل مثال واخلو. فرض کړئ، چې تاسو غواړئ په يوه ټولنه کې د جنسـي توپيرونو په تړاو د سـګريټ څښـلو بڼه مطالعه کړئ. لاندې فرضـيې جوړيداى شي.

١. د نفوسـو مطالعه کې د نارينه او ښـځينه سـګريټ څښونکو په تناسب کې کوم مهم توپير شتون نه لري.

٢. د نارينه وو په پرتله د ميرمنو لوى تناســب د نفوســو مطالعې کې ســګريټ څښونکي دي.

٣. په مجموعي ډول ٦٠ ســلنه ميرمنې او ٣٠ ســلنه نارينه د نفوســو مطالعې کې سګريټ څښونکي دي.

٤. د نفوسـو مطالعې کې د نارينه سـګريټ څښـونکو په پرتله دوه برابره ښـځينه سګريټ څښونکي شتون لري.

د مثالونو په دواړه سـيټونو کې څرنګه چې لومړى فرضـيه ترتيب شـوې ده دا په ګوته کوي، چې د ماشـوم مړينې کچې په اړه د درملنې مختلف طريقو اغېزې يا د نارينه او ښـځينه سـګريټ څکوونکو په تناسـب کې هېڅ توپير شـتون نه لري. کله چې تاسـو فرضيه جوړه کړئ، چې دا په ګوته کوي، چې د دوو حالتونو، ډلو، پايلو يا د وضعيت يا پديدو ترمنځ شــتون نه لري، دا يوه صــفري فرضــيه بلل کيږي او معمولا د Ho په نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکل کيږي. دوهمه فرضـــيه په هر مثال کې په دې مانا ده، چې د ماشـــومانو په مړينه د درملنې مختلف طريقي اغېزې يا د نفوس ترمنځ د نارينه او ښځينه سګريټ څکوونکو په تناسب کې توپير اندازه مشخصه شوې نه ده. داسې فرضيه چې هغې کې يو څېړونکی په کوته کوي، چې توپير به ولري؛ مګر د هغې حجم نه مشخص کوي د توپير فرضيه ورته ويل کيږي.




۶-۳- شکل: د فرضيې ډولونه

يو څېړونکی ممکن د ټولنې د سګرټ څښلو سلوك يا درملنې برنامې او د هغې احتمالي پايلو په اړه کافي پوهه ولري؛ ترڅو د وضعيت نږدې دقيق واقعيت يا په مقدارې واحـدونو کې درملنې برنـامې پـايلې اټکل کړي. د مثالونو په دواړو ســـيټونو کې دريمه فرضـيه وڅيړئ: د نوې زيږيدلو ماشـومانو مړينې کچه ۱۰۰۰/۳۰ ده او د ښـځينه او نارينه ســګرټ څکونکو تناســب په ترتيب ســره ۶۰ او ۳۰ ســلنه دی. دا ډول فرضــيه د نقطې خپريدو د فرضيې په توګه پېژندل کيږي.

څلورم فرضـــيه د مثالونو په دواړو ســـيټونه کې د MCH او NS برنامو د بېلابېل ترکيبونه د تړلي متغيرونو(د ماشـوم مړينې) يا د بېلابېل خلکو (نارينه او ښځينه) تر منځ د پيښـــې د پراخيدو تر منځ اړيکې اټکل کوي. دا ډول فرضـــيه د تړلي متغيرونو باندې د مختلف درملنې ډلو اغيزې شـرايطو پورې اړوند د اړيکو حد ټاکي. د MS درملنې ډلې کې دريې څله يوازې د NS ګروپ په پرتله يوازې پنځه کاله يا پيښو ډېريدل په مختلفو نفوس ګروپونو کې(د نارينه سـګرټ څښونکو څخه دوه چنده ښځينه). دا ډول فرضيه د ارتباطي فرضـــيه بلل کيږي. په ياد ولرئ، چې په ۶،۳ شـــکل کې د خالص فرضـــيه بلل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي. په ياد ولرئ چې په ۶،۳ شـکل کې د خالص فرضيه هم د تحقيق فرضيه لاندې د هېڅ توپير د فرضـيې په توګه طبقه بندي شـوې ده. هر ډول فرضـيه، په ګډون د صـفري فرضـيه هم کولی شي د تفتيش اساس شي. کله چې د صفري فرضيه د پلټنې اساس شي؛ نو دا د تحقيق فرضيه ګرځي.

## د فرضيې په ازموينه کې تېروتنې

لکه څرنګه چې دمخه يادونه وشوه، چې په فرضيه کې داسې انګېرنه کېږي، چې ممکن سم يا غلط ثابت شي. دا ممکنه ده، چې مختلف دلايلو له مخې د فرضيې په اړه ناسمې پايلې ته ورسيږو. د فرضيې د اعتبار په اړه ناسمې پايلې کيداى شي چې.

کله چې صفري فرضيه په حقيقت کې داسې وي:

| | | |
|---|---|---|
| قبول | پرېکړه اصلاح کول | د اول ډول غلطي |
| رد | دوهم ډول غلطي | پرېکړه اصلاح کول |

۶-۴- شکل: اول ډول او دوهم ډول فرضيې په ازموينه کې تېروتنې

- د انتخاب شوي مطالعې ډيزاين غلط وي
- د نمونې اخېستل شوي کړنلارو يا پروسې کې غلطې وي
- د معلوماتو راټولولو طريقه سمه نه وي
- تحليل غلط وي
- د احصائيوي کړنلارو پلې کول نامناسب وي يا
- راټولې شوې پايلې غلط وي.

هرې يوې څېړنېزې پروسې څېنې يا ټول اړخونه ممکن ستاسو په مطالعه کې د نامناسبې غلطی معرفي کولو لپاره مسؤل وي، ستاسو مطالعه کې غلطې پايلې رامنځته کړي. له دې امله د فرضـيې په ازموينه کې تل د غلطيو احتمال شـتون لري، چې پورته دليلونو له مخې منسوب کيداى شي. شـکل ۶،۴ د خطا ډولونه ښـايې چې کولی شـي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کومې فرضیې چې د ازموینې پایلې ولري په یادو فرضیو کې دوه ډول خطاګانې/تیروتنې رامنځته کیدای شي.

-  د صفري فرضیې رد کول پداسې حال کې، چې یاد عمل لومړی ډول تېروتنه ګڼل کیدای شي.
-  د صفري فرضیې منل کله چې غلطه وي، یاد عمل دوهمه درجه تېروتنه ګڼل کیږي.

## په کیفي څېړنو کې فرضیې

په کیفي او کمي څېړنو کې د فرضیو د کارونې اهمیت د دوي د څېړنې او استعمال په اندازې پورې اړه لري. څرنګه چې کیفي څېړنې نه ده فرضیې جوړښت نه ملاتړ کوي او نه یې عملي کوي؛ ځکه دا کیفي څېړنیزو تګلارو په واسطه د پیښو په بیانولو، پوهیدو او څېړلو باندې تاکید او ټینګار کوي. دا فرضیې ځانګړنه ده، چې باید وازمویل شي؛ خو په کیفي څېړنه کې د فرضیې ازموینې لپاره اړینې ځانګړتیاوې درجې په عمومي ډول نه پېژندل کیږي؛ نو د فرضیې ازموینه کول ستونزمن او بې مانا کیږي.

دا په دې مانا نه دي، چې تاسو نشي کولی په کیفي څېړنه کې فرضیې جوړې کړئ، د ستونزې ناڅرګندوالی همدارنګه میتودونه او کړنلارې د فرضیې جوړښت خورا لږ عملي او د مشورې وړ ګرځوي. حتی د کمي مطالعاتو په منځ کې اهمیت پورې تړاو لري او د فرضیې د جوړولو عمل د یو علمي مسلک څخه بل ته د پام وړ توپیر لري. د مثال په توګه فرضیې د پیښې د مرګ ژوبلې رامنځته کیدو پورې اړوند په ایپیډیمولوژیک تحقیق او څېړنه کې خورا مشهورې دي، چېرې چې دا د احتمالي علتونو لیست محدودولو لپاره مهم شمېرل کیږي؛ نو د ځانګړي علت او اغېزې اړیکې مطالعه کیدای شي. په ټولنیزو علومو کې د فرضیې جوړښت تر ډېره د څېړونکي او اکاډمیک مسلک پورې اړه لري، په داسې حال کې چې علمي مسلک کې دا د کمي او کیفي څېړنیزو پاراډامونو ترمنځ توپیر لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شپږم څپرکی لنډیز

فرضيې که څه هم مهمې دي د څېړنې لپاره زياتی اړينې نه ګڼل کيږي؛ ځکه يوه سمه او باوري څېړنه پرته د فرضيې څخه هم ترسره کيدای شي. فرضيې د سپړنې، ځانګړنې او د څېړنيزې مطالعې ته د تمرکز راوستلو لپاره مهمې دي. فرضيه يو قياسي بيان دی، چې د يوې څېړنې مطالعې له لارې تائيد کيږي. د فرضيې په جوړولو کې دا مهمه ده، چې مطمئن شو، چې ياده فرضيه ساده، مشخصه، روښانه، د تائيد او عملي کيدو وړ ده.

فرضيه دوه ډوله ده.

د فرضي دوه پراخه ډولونه شتون لري: د څېړنې فرضيه او بديله فرضيه. د څېړنې فرضيه په څو نورو برخو هم ويشلی شو؛ لکه د فرضيو ترتيب ته په کتو، صفري فرضيه، د توپير فرضيه، د نقطې پراخوالي فرضيه او د اړيکې يا ارتباط لرلو فرضيه. د کيفي او کمي څېړنو اصلي توپير پدې کې دی، چې فرضيې خپل اهميت ته په کتو څومره کارول کيږي.

په کيفي څېړنه کې د هغې د هدف او معلوماتو په خاطر د کارول شويو ميتودونو له امله فرضيه نه کارول کيږي او پدې اړه د پام وړ اهميت هم نه لري. په هر صورت بيا په کمي څېړنو کې د فرضيو کارول زيات وي؛ خو د يادونې وړ ده چې پدې موضوعاتو کې توپير په هر مسلک او څېړونکی پورې اړه لري او د يو بل سره توپير پيدا کوي، يانې يو ثابت حالت نه لري. په لنډه توګه ويلی شو که د مطالعې هدف د هغو موضوعاتو څېړنه کول وي چېرې چې لږ معلومات شتون لري، فرضيه معمولا نه جوړيږي؛ خو که چېرې د څېړنې هدف يا موخه د علت يا اړيکې له لارې مطالعه کول وي؛ نو فرضيه جوړيدای شي.

که چېرې يوه مطالعه د پيښو يا اړيکو له لارې د ازموينې وکړي، د تحليل يو څه موجوديت تصديق کړي يا خپل موجوديت رامنځته کړي فرضيه جوړېدای شي. ستاسو څېړنه به بی مانا شي، که چېرې د مطالعې کوم اړخ، ډيزاين، د نمونې اخيستلو طريقې، د معلوماتو راټولولو طريقه، د معلوماتو تحليل، احصايوي يا پايلې کې نيمګړې يا نامناسبه وي.

په دې وجه کيدای شي، فرضيې غلط تائيدي پايله ولري، لومړی ډول تېروتنه هغه وخت رامنځته کيږي کله چې تاسو يوه صفري فرضيه رد کړئ کله چې دا ريښتيا وي او بايد رد

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی نه وای؛ او د دوهم ډول تېروتنه هغه وخت رامنځته کیږي، کله چې صفري فرضیه منو یا یې تائیدوو پداسې حال کې چې دا غلطه وي او باید ونه منل شي.

د دې لپاره چې تاسو پرې فکر وکړئ

د دې څپرکی په پیل کې لیست شوي کلیدي کلمو سره ځان اشنا کړئ او که تاسو د دې مانا یا استعمال نه پوهیږي؛ نو مخکې له دې دا اړینه ده، چې یاد فصل دوباره مطالعه کړئ.

تر کوم اندازې پورې فکر کوئ، چې فرضیې کارول د ټولنیزو څېړنو سره تړاو لري؟

دوه یا درې فرضیې ترتیب کړئ، ستاسو ځانګړې خوښې پورې اړه ولري او پدې رابطه هغه فکتورونه هم په پام کې ولرئ، چې د دوي پر اعتبار یې اغیز ممکن وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اووم څپرکی

# د څېړنيز مفهوم ډيزاين کول

دا عملياتي/ کاري (Operational) مرحلې دوه بروخو ويشل کيږي:

اووم  څپرکی: د څېړنې ډيزاين

اتم څپرکی: د څېړنې ډيزاين انتخابول

## د څېړنې ډيزاين

پدې څپرکي کې د لاندې ذکر شويو مسايلو په اړه معلومات ترلاسه کيږي.

-  د څېړنې ډيزاين څه مانا لري؟
-  د څېړنې ډيزاين مهمې دندې
-  د خپلې څېړنې پر مهال د هغې اړوند مسايل په پام کې نيول
-  د علل او معلول تيوري او د څېړنې ډيزاين

## کليدي ټکي

تصـــادفي متغيرونـه، کنټرول ګروپ، تجربوي ګروپ، بهرني متغيرونـه، خپلواک متغير، سـمون، ميکسمنکون اصل، تصادفي تېروتنه، په تصادفي توګه جوړونه، د څېړنې ډيزاين، د مطالعې ډيزاين، د درملنې ډله.

که تاســو د خپلې څېړنيزې ســتونزې په اړه معلومات ولري؛ نو ســتاســو لاســته راوړنې د ستاينې وړ دي او په حقيقت کې تاسو د خپل څېړنيز سفر(بهير) يوه له ستونزمنو مرحلو څخه تير شوي ياست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د څه شي په ټاکلو سره تاسو غواړئ څېړنه وکړئ، پدې واسطه ستاسو لپاره اړینه ده، چې دا مشخصه کړئ څرنګه خپله څېړنه پر مخ وړئ؟ پدې اړه یو شمیر پوښتنې شتون لري، چې موضوع د داخلیدو لا دمخه جواب شي. تاسو د خپلو څېړنیزو پوښتنو ځوابولو لپاره کومه کړنلاره غوره کوئ؟ څرنګه تاسو کولای شی، چې د خپلې څېړنیزې پروسې د اړوند بېلابېلو برخو د بشپړولو لپاره اړینې دندې ترسره کړئ؟ تاسو باید په یاده پروسه کې د څېړنې اړوند برخو د مکمل کولو لپاره کومې اړینې دندې ترسره او کومې ترسره نکړی؟ په اساسي توګه د یادو پوښتنو ځوابونه د څېړنې بنسټ جوړوي.

## د څېړنې ډیزاین څه ته وایي؟

د څېړنې ډیزاین د یوې څېړنې د پلان، جوړښت او ستراتیژي ده، چې د څېړنې پوښتنو یا ستونزو ته د ځوابونو د ترلاسه کولو لپاره وړاندې کیږي. پلان د یوې څېړنې بشپړ سکیم یا برنامې څخه عبارت دی او په دې کې هغه څه شامل دي، چې یو څېړونکی د خپلو اړوند فرضیو په لیکلو او د هغې د علمیاتي اغیزو په رابطه د ترلاسه شوي معلوماتو تر وروستی تحلیل په څه ډول ترسره کړي.(کیرلینګر ۱۹۸۶:۲۷۹)

د دودیزې څېړنې ډیزاین تفصیلي پلان دی، چې څرنګه څېړنه بشپړ کړي. د متغیرو په پلي کولو سره دوي اندازه کیږي او د څېړنې په اړه د خوښې نمونې ټاکي، ترڅو د ډیټا راټولولو، د فرضیې د ازمایښت لپاره په اساسي توګه وکارول شي او پایلې یې تحلیل شي.(تاییر ۱۹۹۳:۹۴)

د څېړنې ډیزاین د یوې کړنلارې پلان دی، چې د څېړونکي لخوا منل شوی؛ ترڅو پوښتنو ته په معقول، حقیقي، دقیق او اقتصادي ډول ځواب ووایي. د سیلټیز، دویچ او کوک په وینا د یوې څېړنې طرحه د معلوماتو د راټولولو او تحلیل لپاره د شرایطو تنظیم دي، چې له مخې یې په اقتصادي کړنلارو کې د هدف سره تړاو رامنځته کیږي. (۱۹۶۲:۵۰). د څېړنیز ډیزاین له لارې تاسو د ځان په رابطه پریکړه کوئ او نورو ته د هغې څېړنې په اړه خپلې پریکړې واوروئ، چې تاسو د کومې مطالعې ډیزاین کارولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندیز کړی دی او څرنګه تاسو د خپلو ځواب ویونکو څخه معلومات راټولوئ، تاسو څرنګه خپل ځواب ویونکي انتخابوئ او خپلې موندنې د نورو سره شریکوئ.

سربیره پردې تاسو به اړتیا ولرئ د خپل څېړنیز پلان د هرې پړیکړې لپاره دلیل او توجیه توضیح کړئ، دا د څېړنې د بهیر څرنګوالي ته ستاسې ځواب جوړه وي.

د خپل منطق او توجیه په وړاندې کولو کې تاسو اړتیا لرئ د بیاکتل شوي ادبیاتو څخه په کلکه د دوی ملاتړ وکړئ. تاسو اړتیا لرئ خپل ځان او نورو ته هم ډاډ ورکړئ، چې هغه لاره چې تاسو وړاندیز کړی دا به سمې او باوري پایلې ولري.

## د څېړنیز ډېزاین دندې

د پورته تعریفونه څخه څرګندیږي، چې د څېړنې ډېزاین دوه اصلي دندې لري. لومړی د مطالعې لپاره د اړینو کړنلارو او لوژیستکي ترتیباتو پېژندلو او پراختیا پورې اړه لري او دوهم د دې د اعتبار او دقت د تضمین لپاره په دې کړنلارو کې د کیفیت پر اهمیت ټینګار کوي؛ نو اړینه ده، چې لاندې دندې ترسره شي.

- یو عملیاتي/ کاري (Operational) پلان کې مفهوم سازې وکړئ، چې ستاسو د مطالعې بشپړولو لپاره بېلابېلو کړنلارو کې دندې ترسره کړي.
- ډاډ ترلاسه کړئ، چې دا کړنلارې د یوې څېړنې پوښتنو ته د اعتبار وړ، معقول او دقیق ځوابونه ګټل کیږي. کرلنجر دې ته د دندې د کنترول توپیر وایي(۱۹۸۶: ۲۸۰).

راځئ، چې لومړی دا دندې ترسره کړو: د څېړنې ډېزاین باید ستاسو او ستاسو د لارښوونکی او نورو لوستونکو لپاره ټولې هغه کړنلارې، چې تاسې یې د کارولو پلان لرئ او هغه دندې، چې تاسو یې ترسره کوئ د خپلې څېړنې پوښتنو ته د ځوابونو ترلاسه کولو لپاره وکاروئ. د څېړنې ډېزاین یوه خورا مهمه اړتیا دا ده، چې هر څه باید په ځانګړې ډول مشخص کړئ؛ نو یو لوستونکی به پوه شي، چې کومې کړنلارې تعقیب کړي او څرنګه یې تعقیب کړي. د څېړنې طرحه له همدې امله باید لاندې دندې اجراء کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- پـه هره برخې کې د څېړنې ډیزاین ته نوم ورکړئ؛ لکه څېړنې مقطعې ډیزاین، مخکې او وروسته ډیزاین، د پرتله کولو ډیزاین، تجربې کنترول یا تصادفي کنترول.
- د څېړنې لاندې اړخونو په اړه تفصیلي معلومات چمتو کړئ.

څوک به د نفوسو مطالعې تشکیل کړي؟

- د نفوسو مطالعې به څرنګه وپېژندل شي؟
- ایا یوه نمونه یا ټول نفوس به وټاکل شي؟
- که چېرې نمونه وټاکل شي؛ نو دا به څرنګه اړیکه ونیسي؟
- رضایت به څرنګه وغواړی یا وغوښتل شي؟
- د معلوماتو راټولولو کوم میتود به وکارول شي او ولې؟
- د پوښتنلیک په برخه کې به ځوابونه به ورکړل شي؟
- ځواب ورکونکي باید له تاسو څرنګه سره اړیکه ونیسي که دوی پوښتنې ولري؟
- -د مرکې به، چېرته ترسره شي؟
- اخلاقي مسایلو ته به څرنګه پاملرنه وشي؟

اتم څپرکی د څېړنې څېنې یو شمېر عام ډیزاینونه تشریح کوي. نورې موضوعګانې، چې د څېړنې ډیزاین تشکیلوي په راتلونکي څپرکی کې به پرې بحث وشي.

## د علل او معلول تیوري او د څېړنې طرحه

اوس راځئ، چې د څېړنیز ډیزاین دوهم فعالیت ته وګرځو. ډاډ ترلاسه کړئ، چې ترسره شوي کړنلارې د څېړنې پوښتنو ته د اعتبار، معقول، او دقیقو ځوابونو د ترلاسه کول لپاره کافي دي. د دې ډاډ ترلاسه کولو لپاره اړینه ده، چې تاسو د مطالعې ډیزاین غوره کړې؛ څکه چې دا د تاسو سره مرسته کوي او د یو متغیر مختلف سیټونه د هغې تاثیرات جلا له

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځه وړلو یا اندازه کول کې هم مرسته کوي او له مخې يې پر خپلواک متغير اغېزه کيږي. يادې پروسې په تشريح کولو کې اړينه ده، چې لاندې يو څو مثالونه په پام کې ونيسو. مثلاً فرض کړئ، چې تاسو غواړئ د يوې ادارې لخوا د واده اړوند کومې مشورې ورکول کيږي، څومره اغېز لري او ياده پروسه تر کومې اندازې ددې وړتيا لري، چې د خپلو پيريدونکو ازدواجي ستونزې حل کړي. همدارنګه ديته په ورته د اړيکو په څېړنه کې تاسو بايد پدې پوهه شئ، چې په واقعي توګه په ژوند کې ډيرى بهرني فکتورونه شتون لري، چې کولى شي ستاسو په داخلې په پايله اغيزه وکړي.




۱-۷- شکل: هغه فکتورونه، چي د مشورتي خدماتو او د ازدواجي ستونزو د اندازې تر منځ اړيکې باندې اغيزه کوي

د مثال په توګه د مشورې لپاره ستاسو ادارې ته د ليدنو په جريان کې ستاسو يو پيرويدونکي ممکن غوره دنده ترلاسه کړي. که د ازدواجې ځېنې ستونزې د اقتصادي مشکلاتو له امله راپورته شوې او که د پيسو ستونزه اوس حل شي؛ نو دا ممکن د ودونو د ستونزو کمولو يو عامل وي. له بل پلوه که چېرې پيريدونکی خپله دنده له لاسه ورکړي، د اقتصادي ستونزو زياتوالی يا خو ممکن ازدواجې ستونزې زياتي کړي په داسې حال کې چې د نورو لپاره دا ممکن د جوړو ترمنځ لانږدې اړيکې رامنځته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د واده په ځینو حالاتونو کې پرمختګ ممکن د ترلاسـه شوي مشورې سره خورا لږ تړاو ولري، چې نږدې په بشپړ ډول د اقتصـادي وضـعیت د بدلون له امله راځي. نورې پیښـې لکـه یوې جوړې ته د ماشـــوم زیږیدل یا د یوې جوړې خپلواک (ځان پېژندنه) چې په خپلواکه توګه رسیدلې، ممکن د ودونو د ستونزو اندازه او نوعیت هم اغیز وکړي. شکل ۷،۱ د احتمالي بدلونونو کټګورۍ لاندې نور احتمالي عوامل هم لیست کوي او دا لیست په هېڅ ډول نه ختمیږي.

د واده او مشورې ورکولو مثال ته دوام ورکوو، ډیرې فکتورونه شتون لري، چې کولی شـي د مشـورې ورکولو او د ودونو سـتونزو تر منځ اړیکو باندې اغیز وکړي او دا هره یوه د متغیراتو ټاکل شوي کټګورۍ ده.

١ . مستقیما مشوره ورکول

٢ . د مشـــورې ورکولو پرته نور ټول فکتورونه چې ازدواجې ســـتونزو باندې اغیز کوي.

٣ . پایله – بدلون یا بل عبارت د ازدواجې ستونزو اندازه یا کچه.

٤ . ځینې وختونه د ازدواجې سـتونزو په اړه پوښـتنو ته د ځواب ویلو توپیر کولی شـي په پوښـتنو کې د ځواب ویونکو ابهام له امله حسـاب شـي. ځینې ځواب ویونکي ممکن د دوی ازدواجې سـتونزې له دې څخه د دوی د ذهن وضعیت له امله خورا کم کړي. ځینې ځواب ویونکي ســـره له دې چې په ورته حالت کې وي، ممکن غیر مشخص یا مبهم پوښتنو ته په مختلف ډول ځواب ووایي، د دې په اساس چې دوی څرنګه پوښتنې تفسیره وي.

لکه څرنګه چې دمخه په پنځم څپرکی کې تشریح شوي، هر متغیر چې د بدلون راوســـتلو دنـده لري یو خپلواک متغیر بلل کیږي. په دې مثال کې مشـــوره ورکول یو خپلواک متغیر دی. کله چې تاســـو د لامل او تاثیر اړیکې مطالعه کوئ، معمولا تاســـو یوازې د یو خپلواک متغیر مطالعه کوئ. ځینې وختونه تاسو ممکن د دوه خپلواکو متغیرو اغیز مطـالعه کړئ، یا له دوه څخه زیات؛ مګر دا د څیړنې ډیزاین ډېر پیچلې دي. د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثال لپاره مشـوره ورکول د ازدواجي سـتونزو په اندازه کې د بدلون لامل ګڼل شوې؛ له دې امله د ازدواجې ســـتونزو کچه تړلی متغير دی؛ ځکه چې د ازدواجې ســـتونزو په اندازې کې بدلون د مشورې ورکولو پورې تړاو لري.

نور ټول فکتورونه، چې د ازداواجې سـتونزو او مشـورې ورکولو تر منځ اړيکې اغيزمنوي د بهرني متغير يـا بدلون په نوم ياديږي. په ټولنيزو علومو کې بهرني متغيرات په هره مطـالعه کې د فعاليت کوي او له منځه وړل کيدای نشـــي؛ خو تر يو کچې کنترول کيدای شي.

(د دوی د کنترول لپـاره ځېنې ميتودونه وروســـته په دې څپرکی کې تشـــريح شـــوي). بيـا هم دا ممکنـه ده، چې د بهرني متغيرونو پورې اړونـد تاثيرات وموميځ. دا د مطالعې ډيزاين کې د کنټرول ګروپ معرفي کولو سـره ترسـره کيږي. د کنټرول ګروپ يوازينې دنده تړلي متغير باندې د خارجې متغيراتو د اغيز اندازه کول دي.

[تصادفي او فرصت طلبه متغيرونه هغه متغيرونه ته ويل کيږي، چې د ځواب ورکونکی په وضعيت او د څېړنې د په وسيله کې کوم ابهام شتون ولري].

[په ډيرو قضـــيو کې د فرصـــت متغير خالص ځانګړې د پام وړ نه ګڼل کيږي؛ ځکـه چې يو شـــمېر ځواب ورکونکي د راپور اخيســـتلو وخـت کې زيـات معلومـات شريکوي او د دوی هغه کسان له پامه غورځوي، چې د راپور معلومات يې کم وي].

پورته مثال د څېړنې په وسيله کې مبهم پوښتنو ته د ځواب ويلو لپاره هم پلي کيږي. له همدې امله په هر ډول معقولو اړيکو(علل او معلول) کې د تړلی متغير بدلون ممکن د متغير درې ډولونو ته منسوب شي.

په تړلي متغير کې بدلون = د خپلواک متغير له امله بدلون ± د خارجي متغير له امله بدلون ± د تصادف له امله بدلون

راځئ چې يو بـل مثال واخلو. فرض کړئ، چې تاســـو غواړئ د زده کونکو د پوهاوي کچې باندې د بېلابېلو درسـو د موډولونو اغېز مطالعه کړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوم لپاره چې تاســو د پرتلییزې مطالعې ډیزاین اختیار کړئ. په دې څېړنه کې د درک کولو ماډل سربیره د تفاهم په کچه کې بدلون هم یو شمېر نورو فکتورونو ته منســوب کیدای شــي، چې ځینې یې په ۷،۲ شــکل کې ښــودل شوي.

[ د پوهاوي کچې کې بدلون] =

[د تدریس ماډل پورې منسوب بدلونه]±

[د خارجي متغیرونو ته منسوب بدلون]±

[د تصادفي متغیراتو ته منسوب بدلون]

پــه حقیقــت کې پــه هره څېړنــه کې چې د قوي اړیکې(علــل او معلول) رامینځته کولو هڅه کوي، تاســو به پیدا کړای شــی، چې د متغیرونو درې ســیټونه شون لري، ترڅو په ټړلي متغیر کې بدلون راوړي. دا دې مساوات په توګه څرګند کیدای شي.

[ د پایلې په متغیر کې بدلون]±

[د تصادفي متغیر له امله بدلون]±

[د خارجي متغیرونو له امله بدلون]±

[د چانس (فرصت) یا تصادفي متغیرونو له امله بدلون] یا په بل عبارت.

[په ټړلي متغیر کې بدلون]=

[خپلواک متغیر ته منسوب بدلون]±

[بهرني متغیر ته منسوب بدلون]±

[د چانس(فرصت) متغیراتو ته منسوب بدلون]±

(c) ketabton.com: The Digital Library






۷-۲- شکل: د تدريسي موډلونو او درک (پوهيدو) تر منځ اړيکه

يا په تخنيکي شـرايطو کې: [بشپړ توپير]= [خپلواک متغير ته منسوب توپير]± [د متغير بدليدونکو ته منسوب توپير]± [تصادفي متغير توپير]

شکل ۷،۳. په ګرافيک ډول هم څرګند کيداى شي، چې ټول بدلون د ټولو دريو برخو ګډ تاثير اندازه کوي؛ نو د دې هر يو انفرادي اغيز جلا کول سـتونزمن دي (شکل ۷،۳ وګورئ). لکه څرنګه چې سـتاسو هدف د يو څېړونکي په توګه د هغه بدلون ټاکل دي چې خپلواک متغير ته منسوب کيداى شي، تاسو ته پکار دي، چې خپله څېړنه داسې ډېزاين کړئ؛ ترڅو مطمئن شـى، چې خپلواک متغير حد اقل فرصـت لري، چې په تړلي متغير باندې د هغې بشـپړ اغيز ولري، په داسـې حال کې، چې دا اغيزې د بهرني متغير ته منسـوب دي او د تصــادفي متغيرات کم شــوي (که امکان ولري) يا يې مقدار له منيځه وړل شـوي. دا هغه څه دي، چې کرلينجر يې (۲۸۶:۱۹۸۶) د ميکسمنکون د اصول توپير بولي. يوه خورا مهمه پوښـــتنه دا ده: موږ څرنګه د اغيزو کمولو او د تصــادفي متغيرو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



منســوب اغېز کم کړو؟ ځواب يې دا دی، چې په ډېرې حالاتو کې موږ نشــو کولی؛ په هر صورت دا اندازه کیدای شي.




۷-۳- شکل: هغه تناسب، چې دې درې برخو ته منسوب کیدای شي په څرګند ډول توپیر لري.

د کنترول ګروپ یوازینۍ موخه لکه څرنګه چې مخکې ورته اشــاره وشــوه، د هغه بدلون اندازه کول دي، چې د خارجي(بهرني) متغیراتو په پایله کې رامنځته کیږي.

د تصادفي متغیرونو اغیز زیاتره وخت بې ارزښته او کله هم هېڅ ګڼل کیږي.

لکه څرنګه چې بحث پرې شوی، د تصادفي متغیرات اساسا د دوه سرچینو څخه ترلاســه کیږي: یانې د ځواب ویونکی او د څېړنې د وسیلي څخه ترلاسه کیږي او داسې انګیرل کیږي، چې کــه ځینې ځواب ویونکي د یوې مســـئلې په اړه پر چلند کې مثبت فکر ولري، لکه خورا لیبرال یا مثبت اړخ لرونکی؛ نو باید داسې نور کسان هم وي، چې خورا منفي وي لکه (خورا محافظه کار یا منفي تعصب لرونکی)؛ نو ځکه دوی یو بل له لمنځه وړي، خالص تاثیر يې صفر ګڼل کیږي. په هر صورت که چېرې د مطالعې نفوسو کې ډېری افراد یا هم منفي یا مثبت طرفداره وي؛ نو په موندنو کې به سیستماتیک غلطي معرفي شــي. په ورته ډول که چېرې د څېړنې وسیله معتبره نه وي(یانې هغه په سمه توګه نه اندازه کوي، چې اټکل يې کیږي)، یو ســیســـتماتیک تعصـــب ممکن په مطالعه کې معرفي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په فزیکي علومو کې یو څېړونکی کولی شـــي د یو بهرني متغیر تغیرات کنټرول کړي؛ ځکـه چې تجربې معمولا پـه لاربراتوار کې ترســـره کیږي. د دې برعکس پـه ټولنیزو علومو کې لابراتوار ټولنـه ده. په کوم کې چې څېړونکی کنټرول نه لري. څرنګه چې هېڅ څېړونکی د بهرني متغیر په تغیراتو کنټرول نلري؛ نو د دوی اغېز لکه څنګه چې یادونه وشـوه، په ډېری حالاتو کې نشـي کمیدای نشـي. غوره لاره دا ده، چې د کنټرول ګروپ کـارولو لـه لارې د دوی اغیز انـدازه کړي، په داســـې حال کې، چې د کنټرول ګروپ معرفي کول د ستونزو د رامنځته کولو ډاډ ترلاسه کوي، چې له مخې یې د بهرني متغیر تغیرات دواړه ډلو کې کنټرول او تجربوي برخو بـانـدې تاثیر لري. په ځېنو حالتونو کې د دوی اغیز له منځه وړل کیدای شـــي(دا ممکن ده، چې یو یا دوه متغیرات په ټړلي متغیر باندې څرګند اغیزه ولري). دلته دوه میتودونه کارول کیږي؛ ترڅو ډاډ ترلاسـه شي چې خـارجي متغیرونـه په کنټرول او تجربوي ډلو باندې ورته تاثیر لري او د بهرني متغیر بدلونونو له منځه وړلو لپاره هم دوه میتودونه کارول کیږي.




۷-۴- شکل: د ډیزاین ترتیبول

۱-ډاډ ترلاسه کړئ، چې بهرني متغیر په کنټرول او تجربوي ډلو باندې ورته تاثیر لري. داســې انګیرل کیږي، چې که دوه ډلې یو بل ســره پرتله کیدونکي وي؛ نو تر هغه کچې چې خـارجي متغیرونه ټړلو متغیرونو باندې تاثیر کوي دواړه ډولو کې ورته وي. د لاندې دوه میتودونو څخه څرګندیږي، چې کنټرول او تجربوي ډلې د یو بل ســـره پرتله کیدونکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف- تصادفي ټاکنه- تضمین کوي، چې دوه ډلې د تغیراتوپه پام کې نیولو سره پرتله کیدونکي دي. داسې انګیرل کیږي چې که چېرې ډلې پرتله کیدونکي وي؛ نو تر کومې کچې، چې خارجي متغیرات په ټړلي متغیرات اغیز کوي او دا په هر ګروپ کې سره ورته دي.

ب- مطابقت ورکول- د دې تضـــمین کولو یوه بله لاره، چې دا دواړه ډلې د پرتله وړ دي؛ نو د بهرني متغیراتو اغیز به په دواړه ډلو کې یو شــان وي (په اتم څپرکی کې به پرې بحث وشي).

۲-د خارجي متغیراتو لـه منځه وړل. ځینې وختونه دا ممکنه ده، چې د خارجي متغیر له منځه یووړل شــي یا د مطالعې ډیزاین کې رامنځته شــی. دا عموما هله ترســره کیږي کله چې قوي شــواهد شــتون ولري، چې د بهرني متغیر د تړلي متغیر ســره نږدې ارتباط لري، یا کله چې تاسو وغواړئ د بهرني متغیر اغیز جلا کړئ. د دې ترلاسه کولو لپاره دوه میتودونه کارول کیږي.

الف- د یوې څېړنې د متغیر اغیزمن ډیزاین ترتیبول. د دې مفهوم تشــریح کولو لپاره راځئ چې یو مثال واخلو. فرض کړئ چې تاســو غواړئ د میندو روغتیایې خدماتو تاثیر د ماشوم مړینې په نفوسو باندې مطالعه کړئ. دا فرض کیدای شي چې د ماشومانو تغذیه کونکي وضـعیت د ماشومانو په مړینه هم ځانګړی اغېزه لري. د هر ماشوم د میندو روغتیایې خدماتو اغیز مطالعې لپاره تاســـو دوه پر دوه فکتوري ډیزاین( a two-by-two factorial design) اختیار کړئ؛ لکه څرنګه چې په شـکل ۷،۴ کې تشریح شوي. په دې توګه تاسو کولی شئ د جلا جلا متغیرونو اغیزې په جلا توګه مطالعه کړئ او د خپلواک متغیر سره په متقابل ډول یې هم وڅېړئ.

[داسې انګیرل کیدای شي، چې د ماشومانو د تغذیې حالت د ماشومانو په مړینې هم څرګند اغیز لري. د میندو روغتیایې خدماتو اغیزې په خپله مطالعه کولو لپاره تاســـو دوه پر دوه فکټورونو ډیزاین غوره کوئ؛ لکه څرنګه چې ۷،۴ شـکل کې تشـریح شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې توګه تاســـو کولی شـــئ د بهرني متغیراتو اغیز په جلا او متقابل ډول د خپلواک متغیر سره مطالعه کړئ].

ب – د متغیرو له مینځه وړل- د دې پوهیدلو لپاره راځئ، چې یو بل مثال واخلو. فرض کړئ، چې تاسو غواړئ د صحي زده کړې برنامې اغېزې په اړه د باورونو په اړه د اصـلي اسـترالیایې او غیر اصلي استرالیانو ترمنځ، چې په ځانګړې ټولنه کې اوسیږي د یو څـه نـاروغۍ لامـل او درملنې بـانـدې څېړنـه وکړئ. لکه څرنګه چې چلند او باورونه له کلتور څخه تر کلتور پورې په څرګند ډول سره توپیر لري، د غیر اصلی استرالیا او اصلي اسـترالیا څېړنو په توګه به یوه ډله دقیق عکس ونشـي کولای، چې وړاندې یې کړي. په داسـې څېړنو کې دا مناسب دی، چې یاده څېړنه د تحلیل په وخت کې د یوې ځانګړې کلتوري برخې رامنځته کولو له لارې ترسره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اووم څپرکی لنډیز

په دې څپرکی کې تاسو د یوې څېړنې ډیزاین او د هغې اړوند دندې زده کړې. د یوې څېړنې ډیزاین دوه مهمې دندې ترسره کوي:(۱) د څېړنو د ترسره کولو تګلارې (۲) د دې ډاډ ترلاسه کولو لپاره، چې د پیښو په حالت کې خپلواک متغیر فرصت لري چې په تړلي متغیر باندې خپل تاثیر ولري په داسې حال کې چې د بهرني او تصادفي متغیرونو اغیزه کمه شوې وي. لومړي دنده په شرایطو کې د څېړنې ډیزاین باید د تحقیق بهیر ټولې پروسې او لوژیستیکي توضیحات وړاندې کړي. تاسو اړتیا لرئ، چې په تفصیل سره یې ولیکئ چې په هره برخه کې د مطالعې ډیزاین کوم ډول وړاندیز کوئ، چې تاسو یې کاروئ او ولې؟ تاسو به خپل ځواب څرنګه وټاکئ، له څومره کسانو څخه تاسو د خپلو اړینو معلومات د ترلاسه کول وړاندیز کوئ، ستاسو لخوا معلومات څرنګه راټول شي؟ او بیا به څرنګه تاسو یاد معلومات تحلیل کړئ. د هر اړخ لپاره تاسو اړتیا لرئ خپل دلیل او توجیه چمتو کړئ او تر کومه چې امکان ولري ترکومه چې امکان لري خپل تیر معلومات مو کره کړئ. د دوهم فعالیت له لارې، د متغیر کنترول کله چې د اړیکې یا پیښو(علل او معلول) رامنځته شي، دا ستاسو څارونکو او لوستونکو ته ډاډ ورکوي، چې تاسو خپله څېړنه داسې ترتیب کړی، چې خپلواک متغیر د تړلي متغیر باندې د تاثیر ډیر فرصت ولري او دا چې د بهرني متغیرونو اغیزی کمې او کنترول کړي، چې دې پروسې ته(د مکسمینکون د اصولو توپیر هم وایې). د کنترول ګروپ پرته مطالعه په واقعیت یا حالت کې ټول بدلونونه (د خپلواک متغیر ته منسوب بدلون ± بهرني متغیر متغیرات ± تصادفي متغیر ته منسوب بدلون) اندازه کوي. د کنترول ګروپ معرفي کولو هدف د بهرنی او تصادفي متغیر اغیز اندازه کول دي. د مطالعې ډیزاین د تحقیق ډیزاین برخه ده. دا د هرې برخې د مطالعې ډیزاین دی، په داسې حال کې چې د څېړنې ډیزاین کې مطالعې سرته رسولو پورې اړوند نور توضیحات هم شامل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دې لپاره چې تاسو پرې فکر وکړئ

ځان د دې څپرکی په پیل کې لیست شوي کلیدي کلمو سره اشنا کړئ او که تاسو د دې مانا یا استعمال په اړه نه پوهیږئ؛ نو اړینه ده، چې یاد څپرکی دوباره مطالعه کړئ.

د څېړنې ډیزاین اصـــلي دنـده کومې دي؟ ولی مهمه ده چې د مطالعې کولو دمخه د څېړنې ډیزاین ولري؟

د خپلې مطالعې ساحې څخه مثالونه وړاندې کړئ ترڅو د پیښو شرایطو کې اصلي متغیرات روښانه کړئ( ممکن ستاسو لپاره ګټور وي؛ نو بیا پنځم څپرکی ته مراجعه وکړئ).

له یوې سـیمې څخه یو یا دوه مثالونه وپېژنئ، چې تاسـو ورسره علاقه لري ترڅو څرګنده شـي، چې څرنګه د میکســمنکون د اصــولو تنوع پلي کیدلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتم څپرکی

# د مطالعې ډیزاین انتخابول

پدې څپرکي کې به تاسو د لاندې ذکر شويو مسايلو په اړه معلومات ترلاسه کړئ:

- د کمي او کیفي مطالعې ډیزاینونو تر منځ توپیرونه
- په کمي څېړنو کې د مطالعې عام ډیزاینونه او د هغې استعمال
- په کیفي څېړنو کې د مطالعې عام ډیزاین او د هغې استعمال
- د مطالعې بېلابېلو ډیزاینونو د ضعف او قوت  نقطې

## کلیدي ټکي

د عمل څېړنه، یوازې وروسته ډیزاین، د مطالعې دمخه او وروسته ډیزاین، ړانده مطالعات، د قضـیې مطالعات،د همغږي/ډلییز مطالعات، کنترول مطالعات، د مطالعې مقطعې ډیزاین، ډبـل ړانـده مطالعات، تجربوي مطالعې ډیزاین، ښـــځینه څېړنه، تمرکز مطالعات ډیزاین، طولاني/اوږده مطـالعـات،غیر تجربوي مطـالعـات، د پینل (د منصـــفه هیئت) مطالعات، د راتلونکي مطـالعې ډیزاین، نیمـه تجربـه لرونکي مطـالعـات، انعکاس کوونکی ژورنال، په تېرو  پیښـــو/واقعو او حـالاتو نظر اچولو مطـالعـات، نیم تجربوي مطـالعـات، رجحـانات مطالعات.

## د کمي او کیفي مطالعې ډیزاینونو تر منځ توپیرونه

په دې څپرکی کې به موږ د کمي او کیفي څېړنو په لړ کې د مطالعې ځینې خورا عام ډیزاینونه تر بحث لاندې ونیسو. په ټوله کې د کیفي تحقیق په پرتله کمي څېړنو کې د مطالعې ډېر ډیزاینونه شتون لري. ځانګړې کمي مطالعې ډیزاین، ښه جوړښت لري، د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اعتبار او ډاډه توب لپاره ازمول شوي او واضح ډول تعریف او پېژندل کیدای شي. په کیفي تحقیق کې د مطالعې ډیزاین یا دا صفات نه لري یا یې تر لږ درجې پورې لري. دوی لږ مشخص اودقیق دي او ورته جوړښتي ژورتیا نه لري.

په هر پارادایم کې د فلسفې لیدونو توپیرونه د یوې مطالعې اهدافو سره په لویه کچه تمرکز، چلند او د پوښتنې طریقه ټاکي کوم چې په پایله کې د مطالعې ډیزاین ساختماني اړخونه په ګوته کوي.

په کیفي څېړنو کې اصلي تمرکز د خلکو د یوې ډلې تجربو، احساساتو، سلوکونو، ارزښتنو، بارونو او تجربو پوهیدل، تشریح کول، سپړنه، کشف او روښانه کول دي. له همدې امله د مطالعې ډیزاین اکثراً د تحمیلي منطق پرځای د کموالی پر اساس وي، په طبعیت کې انعطاف منونکي رامنځته کیږي او اکثراً د دوی په عملیاتي برخه کې غیر خطي او بی ترتیبه وي. د مطالعې ډیزاین اساساً د هغو خلکو انتخابول شاملوي چې له کوم څخه معلومات راټولولو میتودونه او پروسې، ډېری ځله انعطاف منونکي او بدلون مومي. له دې امله ډېری کیفي ډیزاین د کمي محصولاتو په څېر جوړښت او ترتیب شوي نه وي. له بلې خوا په کمي څېړنه کې د معلوماتو د اندازه کولو او طبقه کولو اړتیاوې چې راټولیږي غوښتنه کوي چې د مطالعې ډیزاینونه د تنظیم او اندازې او درجه بندی کې دقت د تضمین لپاره د دوی په کارولو کې خورا منظم، سخت ثابت او دمخه ټاکل شوي دي.

کیفي مطالعاتو کې د مطالعې ډیزاینونو او د معلوماتو راټولولو میتودونه تر منځ توپیر خورا لږ روښانه دی. د مطالعې کمي ډیزاینونو د معلوماتو راټولولو ډیزاینونو او میتودونو ترمنځ ډېر وضاحت او توپیر لري. په کیفي څېړنو کې د دواړو تر منځ مقابل لوری شتون لري. څېړنې ډیزاین اساساً د معلوماتو راټولولو میتودونه دي. د مثال په توګه دقیقه مرکه کول د ډیزاین او همدارنګه د معلوماتو راټولولو یوه میتود دی او همدغه شان شفاهي تاریخ او برخه اخیستونکي مشاهده.

د کیفي څېړنو ترټولو مشـخصـه بڼه د ځواب ورکونکي موافقې مفهوم پیروي ده په کوم کې چې تاسـو د یوه څېړونکي په توګه سـتاسو د تفسیر، حالاتو، تجربو، لیدنو او پایلو وړاندې کولو سـره سـتاسـو د ځواب ویونکو موافقې ترلاسـه کولو لپاره هره هڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي. په کمي څېړنو کې د ځواب ويونکي همغږي يو مهم ځای نه نيسي. څېنې وختونه دا غوره ګڼل کيږي، چې د هغو کسانو سره چې په مطالعه کې برخه اخيستې وي، د ترلاسه شوي پايلي ورسره شريکي شي. په کيفي څېړنه کې د څېړونکي او مطالعې نفوس ترمنځ د (ځواک تشه) د کمي څېړنې په پرتله خورا کوچنۍ ده؛ ځکه چې په جوړښت او حالت کې د غير رسمي معلوماتو له امله چې معلومات راټول شوي وي.

په کمي څېړنه کې د مطالعې ډيزاين په اړه کافي توضيحات چمتو شوي وي، ترڅو دا د تائيد او ډاډ لپاره تکرار شي. په کيفي څېړنه کې د مطالعې ډيزاين يا د مطالعې نورو جوړښتي اړخونو ته لږه پاملرنه کيږي، له همدې امله د مطالعې ډيزاين عکس تقريبا ناممکن کيږي. دا د داسې موندنو توليد کولو لپاره د ډيزاين د ناتوانۍ لامل کيږي، چې تکرار کيدای شي. د کمي مطالعې ډيزاينونو لارې موندنې کيدای شي تکثير او تجربه شي په داسې حال کې چې دا د کيفي مطالعې ډيزاينونو کې په اسانۍ سره نه شي ترسره کيدای. په کيفي او کمي ډيزاينونو کې بل توپير دادی، چې ممکن پدې کې د يو څېړونکی تعصب هم شتون ولري. د انعطاف او کنترول نشتوالي له امله په کيفي څېړنو کې د يو څېړونکي د تعصب ګوته کول خورا ستونزمن دي.

په هر پارادايم کې د مطالعې ډيزاين د مختلف شيانو موندلو لپاره مناسب دي. په کيفي څېړنه کې د مطالعې ډيزاين د ټولنيزو ژوند هر اړخ کې د تنوع او سپړلو لپاره ډېر مناسب دي، په داسې حال کې چې په کمي څېړنو کې دوی د دې توپير او تنوع د کچې موندلو/اندازه کولو لپاره خورا مناسب دي. که ستاسو علاقه د ارزښتونو، باورنو، پوهېدو، ادراک، مانا او د نورو په مطالعې کې وي؛ نو د مطالعې لپاره کيفي معيارونه خورا مناسب دي؛ ځکه چې دوی خورا انعطاف منونکي دي. له بلې خوا که ستاسو توجو د هغه توپير اندازه کول وي، لکه څومره خلک ځانګړي ارزښت، باور او نور څه لري؟ کمي ډيزاين ډېر مناسب دي. د ښه کمي څېړنې لپاره دا مهم دي چې تاسو د کمي مهارتونو سره د کيفيت لرونکي مهارتونه يو ځای کړئ کله چې په پديده کې د تنوع او توپير نوعيت او اندازه معلومه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکوال په نظر څېړنې ته کیفي – کمي –کیفی کیفیت جامع او د پام وړ دی. په دې کې د تنوع د خپریدو مشخص کولو لپاره د کیفي میتودونو پیل کول شامل دي، د کمي میتودونو په کارولو سره د خپریدو اندازه کیږي او بیا وروسته د کتل شوي نمونو توضیح کولو لپاره کیفیت ته راستنیږي. لکه څنګه چې دمخه وویل شول، لیکوال ستاسو څخه پخپله یا د کیفي یا کمي تمثیل ته نوتلو وړاندیز نه کوي او که څه هم تاسو ممکن خپل لومړیتوب ولرئ؛ نو د دې دا هدف دی چې تاسې باید د کمي او کیفي مطالعې ډیزاینونو ترمنځ یو انتخاب وټاکي.

که تاسو دمخه پوهیږئ (د پخوانیو مطالعاتو یا عملي پوهې څخه) تاسو ته په هره علاقه د تنوع طبیعت د هغې د اندازې په اړه پوهه یوازې د کمي میتودونو په کارولو سره ټاکل کیدای شي. په ډېری قضیو کې که چېرې چې تاسو غواړئ دواړه وپلټئ، تاسو اړتیا لرئ هغه میتود وکاروئ، چې د دواړه پاراډیمونو په ساحه کې راځي.

## په کمي څېړنه کې د مطالعې ډیزاین

کمي مطالعاتو کې څېړنې عام کارول شوي ډیزاینونه د دریو مختلف لیدونو په کتلو سره طبقه بندي کیدی شي.

۱ . د مطالعې نفوس سره د اړیکو شمېر ته په کتو د څېړنې ډیزاین

۲ . وخت ته په کتو د څېړنې ډیزاین

۳ . د تحقیق نوعیت

د مطالعې هر یو ډیزاین د دې لید څخه طبقه بندي کیدای شي. د لیدونو طبقه بندي اختیاري ده، له دې امله د دوی تشریح کولو لپاره کارول شوي اصطلاحات نړیوال نه دي. په هر صورت د هرې ډلبندۍ اساس کې د ډیزاینونو نومونه په نړیواله کچه کارول کیږي. په یاد ولرئ، چې په هر کټګورۍ کې ډیزاین یو له بل سره ځانګړي دي، دا که چېرې کومه ځانګړې مطالعه په طبیعت کې مقطعې څېړنیزه وي؛ نو دا په ورته وخت کې مخکې او وروسته یا اوږد مهاله/طولاني مطالعه نه شي کیدای؛ مګر دا کیدای شي، چې یو غیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



تجربوي یا تجربوي څېړنه وي او همدارنګه دا تېر (ماضي) ته په کتو د څېړنې ډیزاین یا راتلونکي ته په کتو د څېړنې ډیزاین واوسي.

۸،۱ شـــکل ته مراجعه وکړې بله برخه د نورو څېنې عام کارول شـــوي مطالعې ډیزاین سـرلیک لاندې درې برخو کې اضـافه شـوې. په دې برخه کې څېنې عام کارول شوی ډیزاین شامل دي کوم چې د ځانګړي فلسفې یا میتودولوژي پر اساس دي او کوم چې خپل نومونه ترلاسه کړي.

## د نفوسو مطالعې سره د اړیکو شمېر پر اساس ډیزاین

د نفوسـو مطالعې سـره د اړیکو شمېر پر اساس ډیزاین په درېو ډلو ویشل کیدای شي.

۱ . مقطعې څېړنیز مطالعات

۲ . مخکې او وروسته څېړنیز مطالعات

۳ . طولاني(اوږدمهاله څېړنیز) مطالعات

د مقطعې څېړنیز مطالعې ډیزاین د مقطعې څېړنیز مطالعات چې د یو ( one-shot or status studies) ځـل یـا حـالت مطالعې په نوم هم پېژندل کیږي دا په ټولنیزو علومو کې ترټولو عام کارول شـوي ډیزاین دي او دا ډیزاین د مطالعې لپاره خورا مناسـب دی؛ ځکه چې هدف یې د نفوسـو د مختلفو برخو اخیسـتلو سره د (پیښې، وضعیت، ستونزې، چلند یا مسـئلې) پراخه پېژندل دي. دا د عمومي عکس په ترلاسـه کولو کې ګټور دي؛ ځکه چې دا د مطالعې په وخت کې ترسـره کیږي. دوی په یو وخت کې د دې مقطعې څېړنې په اخیستو سره د یو شمېر پدیدو د مطالعې لپاره ډیزاین شوي دي(بابی ۸۹:۱۹۸۹). دا ډول څېړنې دوه برخې لري، چې یوه یې د نفوسـو مطالعه او بل د تحقیق وخت ګڼل کیږي. په ډیزاین کې څېړنیز مقطعي ډیزاین خورا سـاده ده. کوشـش وکړئ چې د هغه څه په اړه معلومات ترلاسـه کړئ، چې د نفوسـو مطالعې یې وپېژنئ، نمونه وټاکئ( که تاسـو اړتیا لرئ)؛ نو د اړونده معلومات موندلو لپاره د خپلو ځواب ویونکو سـره اړیکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونیسئ. د مثال په توګه مقطعي څېړنیز ډیزاین به د لاندې موضوعاتو د مطالعې لپاره خورا مناسب وي.

په استرالیا کې د یورانیم کان ایستلو په اړه د خلکو د مطالعې طرز او طریقه.

په لویدیزه استرالیا کې د مهاجرینو ټولنیز-اقتصادي او دیموګرافیک خصوصیات




۸-۱- شکل: د څېړنې ډیزاین ډولونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په استراليا کې د HIV مثبتو قضيو پېښې

د ځوانانو تر منځ د بې کورۍ لاملونه

د يوې ادارې لخوا چمتو شوي خدمتونو د کيفيت تضمين

د ســـړک په ســـر جرمونو باندې د بيکارۍ اغيز (دا ممکن د څېړنې وړاندې او وروسته هم کيدای شي).

د کورني چاپيريال او په ښوونځي کې د ماشوم ښوونيز فعاليت تر منځ اړيکې

د عدل او انصاف د مسايلو په اړه د ټولنې چلند

په يو ښار کې د بيکارۍ اندازه

د توليد څخه د پيرودونکي رضايت

د ســـړک د پيښــو مخنوي کې د تصـــادفي ســـاه ازموينې اغيزمنتيا (دا ممکن د مطالعې دمخه او وروسته هم وي)

د ټولنې روغتيايي اړتياوې

په کتابتون کې د موجوده اسانتياوو په اړه د زده کونکو سلوک

لکه څرنګه چې دا څېړنې د نفوسـو مطالعې سـره يوازې يوه اړيکه لري؛ نو پدې وجه يې يو بل سره اړيکې پرتله کول او تحليل يې اسان دی. په هر صورت د دوی لوی زيان دا دی چې دوی نشـــي کولی بدلون اندزاه کړي. د بدلون اندازه کولو لپاره بايد دا اړينـه ده، چې لږ تر لږه د معلومـاتو راټولول بـايـد دوه برخې ولرئ. دا لږ تر لږ دوه د مقطعې څېړنيز په ورته وخت او په دوه برخو او ورته نفوسو کې ترسره شي.

## د مطالعې دمخه/مخکې او وروسته ډيزاين

د مخکې او وروسـته ډيزاين اصـلي ګټه (د مخکينۍ ازموينې/ وروسته ازموينې ډيزاين په توګه هم پېژندل کيږي) دا کولی شي حالت پديدي، مسئلې، ستونزې يا روش کې بدلون اندازه کړي. دا د برنامې اغيزې يا تاثير اندازه کولو ترټولو مناســـب ډيزاين دی. يو دمخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او وروسته ډیزاین کولی شي د عین نفوس اړوند د مقطعې څېړنیز ډېټا راټولولو برخو دوه ستونو په توګه توضیح شي؛ ترڅو په وخت کې د دوه نقطو ترمنځ د پدیدو یا متغیر د (بدلونونه) ومومي. بدلون مداخلې دمخه او وروسته د پدیدو یا متغیر ورکونکو(توپیرونه) کې د پرتله کولو سره اندازه کیږي(شکل ۸،۲ وګورئ).




۸-۲- شکل: وړاندې/مخکې او وروسته (وړاندې له ازموینې/وروسته له ازموینې) څېړنې ډیزاین

مخکې او وروسته مطالعه د مقطعې څېړنیز مطالعې په څېر د ورته پروسې په اختیارولو سره ترسره کیږي پرته له دې، چې دا دوه د مقطعې څېړنیز ډېټا سیټونه لري، دوهم یې د یوې ټاکلې مودې وروسته ترسره کیږي. په دې پورې اړه لري، چې دا څرنګه تنظیم کیږي، مخکې او وروسته مطالعه ممکن تجربه وي یا غیر تجربوي وي. دا د ارزونې مطالعاتو کې تر ټولو عام کارول شوی ډیزاین دی. د ډېټا راټولولو نقطو د دوه سیټونو تر منځ توپیر د ټړلي متغیر ته په پام سره د برنامې اغیزه ګڼل کیږي. لاندې د موضوعاتو مثالونه دي، چې د دې ډیزاین په کارولو سره مطالعه کیدای شي.

د ادارې لخوا چمتو شوي خدماتو کیفیت باندې د ادارې بیا جوړونې اغیزه.

د واده مشورتي خدمتونو مؤثریت.

د ښوونځي زده کونکو تر منځ جنسي سلوک باندې د جنسي تعلیم اغیزه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



